وما اٰتکم الرسول فخذوہ وما نھٰکم عنہ فانتھوا

ردِ بدعات

پښتو

تالیف

احقر عباد اللہ الباری محمد عبد الجبار الباجوری غفرلہ
وحالاً خادم القرآن والحدیث بجامعۃ دار القرآن بفنجفیر

جامعہ دار العلوم تعلیم القرآن
توحید آباد ترخو باجوړ ایجنسی



عظیم الشان خوشخبری



★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً بوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

WhatsApp:0320-1914145

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

وما اٰتکم الرسول فخذوہ وما نہٰکم عنہ فانتہوا

ردِ بدعات

پښتو

تالیف

احقر عباد اللہ الباری محمد عبد الجبار الباجوری غفرلہ
مدیر جامعۃ تعلیم القرآن بتوحید آباد ترخو وحالا
خادم القرآن والحدیث بجامعۃ دار القرآن بفنجفیر

جامعۃ دار العلوم تعلیم القرآن
توحید آباد ترخو باجوڑ ایجنسی

نام کتاب : رَدِّ بدعات

تالیف : احقر عباد اللہ الباری محمد عبد الجبار الباجوری غفرلہ

کمپوزنگ : ابو حماد عبد السبحان "ظہیر"

تعداد : 1100

دچھاپ ځائی : الهدی پرنټرز محله جنګی پېښور

طبع : دولسم 2020ء سنہ



فهرست اهم مباحث

اهم مباحث کتاب هذا

خالی غنم

تقریظ شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد یارباد شاه رحمه الله سابق خادم الحدیث بجامعه تعلیم القرآن فنجفیر وامیر جماعة اشاعة التوحید والسنة (صوبه سرحد)

الحمدلله وكفى والصلوة والسلام على عباده الذين اصطفى اما بعد: فان مما احبه الشيطان بعد الشرك البدعة وان مما ابغضه الله بعد الشرك البدعة كما قال ابن قيم رحمه الله فى تفسيره: فان المبتدع يرى بدعته حلالا ويجعلها ذريعة للاجر والثواب فلايتوب عنه بخلاف العاصى فانه يرى معصيته حراما ويرجى منه ان يتوب عنه فاياكم والبدعة فان كل بدعة ضلالة وكل ضلالة فى النار والاجتناب عن البدعة لايكون الابالعلم على حقيقة البدعة ومضراتها وحقائقها فهذه الرسالة محتوية ومحتفلة لمعنى البدعة لغة وشرعا وبيان الفرق بين البدعة الحقيقى والاضافى وبيان مضراتها وقبائحها وبيان انموزجية البدعات المنكرة وردها ودلائل ردها فهذه الرسالة كافية فى ازالة مرض البدعات لمن تدبر فيها وعلاجها وهوالسنة السنّية فانّه اسئل ان يجعل هٰذه الرسالة نافعة للمسلمين عامة وللعلمآء والطلباء خاصة وللمؤلف اعنى مولانا محمد عبدالجبار ولوالديه ذخيرة طيبة فى الاخرة.

امين

وانا الاحقر محمد یاربادشاه ابونعمت الله خادم القرآن والحديث

اربعة وعشرون ربيع الثانى ۲۴\۱۴۲۵ه

تقریظ: د حضرت العلامۃ شیخ القرآن والحدیث جناب مولانا عبدالسلام صاحب رستم رحمہ اللہ

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الحمدللہ الذی ابدع خلق السموت والارضین ؑ والصلوۃ والسلام علی النبی خاتم الانبیاء والمرسلین ؑ الذی نھی عن احداث البدع فی الدین ؑ وعلیٰ الہ واصحابہ الذین دمغوا رؤس المبتدعین ؑ لحفاظۃ الدین المتین ہ امابعد۔ داکتاب مسمی بہ "ردبدعات "مولف دالشیخ عبدالجبار الباجوری بعض مواضع مادنظرنہ تیرکړل دے کتاب کښں دبدعاتو مروّجہ فی زماننا پہ صحیح اوکامل دلائلو سرہ قلع قمع کړے شویدہ. داکتاب پہ دے موضوع پہ پښتو ژبہ کښں بے مثالہ کتاب دے. طلباء کرام اوعوام مسلمانانو لرہ پکار دی چہ دخپل دارین دفلاح دپارہ ودخپل دین دحفاظت دپارہ ددے کتاب ضرور مطالعہ اوکړی ودھربدعت نہ دخان بچ اوساتی .اوپہ سنت دنبی ﷺ د پہ ھر معاملہ دژوند کښں تمسّك اوکړی اللہ تعالی فرمائیلی دی:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ (احزاب ع ۲۱)

اللہ تعالی دداکتاب دمصنف دپارہ ذخیرہ دخیر اوګرزوی او دمسلمانانو رونړو دپارہ دسبب درنړا اوګرزوی .امین یاربّ العلمین

الاحقر عبدالسلام غفرلہ ۲۴ رجب ۱۴۰۶ھ

تقریظ: دشیخ القران والحدیث حضرت مولانا سراج الدین سلمه الله المتین (مفتی دارالقران فنحفر)

بسم الله الرحمن الرحیم ٥

حامداً ومصلیاً ومسلما. امابعد!

دمحدث کبیر حضرت مولانا عبدالجبار صاحب حفظهٔ الله کتاب مسمی (ردبدعات) مابالاستیعاب کتلے دے دمروجه بدعاتو څمونګه د زمانې په ښه نشاندهی او قلع قمع کړے ده مزید دا چه د شبهاتو دندان شکن جوابونه هم کړی دی کتاب دهرموحد د کتبخانې زینت او متبع سنت دپاره بهترین سرمایه ده.

الله رب العزت په درګاه عالیه کښې دعاګویم چه تولو مسلمانانو دپاره مفید اوګرزوی او شیخ الحدیث سلّمه الله دپاره دنجات او د سعادت دارینې ذریعه اوګرزوی.

امین

احقر سراج الدین

(جامعة الامام محمد طاهر رحمه الله)

۱۰ شعبان ۱۴۳۳ھ

خطبه کتاب

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله المحمود على كل حال: الذى بحمده يستفتح كل امر ذى بال: والصلوة والسلام على سيدنا محمد نبى الرحمة: الذى شملت دعوته كل امة: ونسخت شريعته كل شريعة: وعلىٰ اله وصحبه الذين اهتدوابشمسه المنيرة: واقتفوا اثاره اللائحة: وانواره الواضحة وضوح الظهيرة:-

امابعد:

دا يو ښکاره حقيقت دے چه هدايت دجناب رسالت مآب حضرت محمد مصطفى ﷺ په اتباع کښې منحصر دےاوبغير اتباع دحضرت ﷺ نه هيڅ يو عمل په بارګاه ده رب العزت کښې منظور نه دےاوهر بدعت خلاف سنت، ضلالت ،اوسبب ددخول جهنم دے ليکن متأسفانه جهالت دے حالت ته رسيدلے دےچه بدعت خلقوته سنت ،اوسنت ورته بدعت ښکاره کيږى .اوداهل سنت په مقابله کښې اهل بدعت رنګ په رنګ دسيسے جوړوى نوبنده ګنهګار محمدعبدالجبار ،دپاره درضآء دالله غفار په تائيد دسنت سيّدالابرار دغه پيش خدمت رساله کښې ديوڅوبدعاتومشهورو ردوليکلودغه هغه بدعات دى چه اکثرو مواضعوکښې پرے خلق جنګ ته تياريږى اولښکر کشى کوى او دمتبعينو دسنت دکورونوسوزلوته پرے تياريږى هيله لرم چه په سوچ اوفکر ئے ورونړه مطالعه وکړى په دے رساله کښې په څواهمو مسئلو بحث شوے دے اودعلمآء حق دکتابونو حوالے دقرآن عظيم الشان آيتونه اودجناب محمد آخر الزمان ﷺ

حدیثونه پکښې لیك دی دحوالو په صفحوکښې پوره کوشش شوے دے کوم کتاب چه بنده حقیر سره موجود نه وو دهغه ذکردموجودکتاب په نقل شوی دے دجدوجهد باوجود څه په خپله نادانئ ،کم علمئ ،قصور فهمی ،قائل یم اودتصنیف وتالیف غیر قابل یم لهذا: دمسلمانانو ورونړویه خدمت کښې خواست کوم چه دغلطئ اصلاح د وکړی اویه ځائے دتنقید د دَمصنف دهدایت دعاَء وکړی.

شکریه

ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم ۵

الاحقر **محمد عبدالجبار الباجوری** عفی عنه

خادم دارالعلوم تعلیم القرآن توحیداباد ترخو باجوړ ایجنسی

لیلة الاحد ۲۳ ربیع الثانی **۱۴۰۶ھ** (مطابق ۵ جنوری ۱۹۸۶)

دحضرت محمّد ﷺ داطاعت پحقله څو آیاتونه

(۱) لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَ الْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَ ذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا۝ (سورة الاحزاب ۲۱)

"یقینا شته لتاسے دپاره په رسول دالله ﷺ کښ نمونه ښائسته دهغه ځم چا دپاره چه اُمید لری دالله تعالی اود ورځې دآخرت اویاده وی الله لره ډیر"

حافظ عمادالدین ابن کثیر المتوفی ۷۷۴ھ په خپل تفسیر کښ لیکی:

هذه الاٰیة الکریمة اصل کبیر فی التاسی برسول الله ﷺ فی اقواله وافعاله واحواله (تفسیر ابن کثیر ج۳ ص ۴۷۵ طبع مصر)

"چه دا آیت کریمه لوئ دلیل دے په اقتداء کولو کښ په رسول الله ﷺ پسے په اقوالو، افعالو، اواحوالو، دهغوی کښ"

یعنی دامت دهر عمل کولو دپاره الله رب العزت درسول الله ﷺ فعل، قول، حال، نمونه گرزولے ده چه دهغوی په نقش قدم روان شی بغیر دهغه عملونو نه چه هغه خاص وی په جناب نبی کریم ﷺ پورے ځرنگې چه حضرت علاّمه الوسی خطیب عراقیؒ ددے آیت کریمه په تفسیر کښ فرمائی:

والاٰیة وان سیقت للاقتداء به علیه الصلوة والسلام فی امر الحرب من الثبات ونحوه فهی عامة فی کل افعاله ﷺ اذالم یعلم انها من خصوصیّاته کنکاح مافوق اربع نسوة (تفسیر روح المعانی للالوسی المتوفی ۱۲۷۰ھ ج۱۲ ص۱۶۷ طبع ملتان)

"اودا آیت کریمه اگرچه چلولے شوے دے دپاره داقتداء په نبی ﷺ پورے په کاروبار دجنگ کښ چه ثابت قدمی دهغوی اوپه مثل دّدخوداعام دے په ټولو فعلونو دنبی ﷺ پورے خوپورے چه نوی

معلومه شوه چه دغه افعال دخصوصیت نو دهغوی نه وی لکه چه نکاح کول په زیاتو دڅلورو ښځو باندے.

(۲) وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ (الحشر ۷)

"او هغه شے چه درکوی ئے تاسو ته رسول ﷺ پس ونے نیسی او هغه شے چه منع کوی تاسے لره دهغه نه نو منع تر نه شئ."

امام نسفی حنفی رحمه الله دآیت کریمه دعموم په حقله داسے لیکی:

ولا جود ان یکون عاما فی کل ما اتی به رسول الله ﷺ ونهی عنه وامر النبی ﷺ داخل فیه (مدارک ج۳ ص۳۳۰)

"چه کره خبره داده چه دا حکم عام دے په هر هغه کښې چه رسول الله ﷺ پرے راتله کړی او منع ئے ترینه کړے ده او حکم د فئ پکښې داخل دے. مطلب دادے چه دا آیت کریمه اگرچه دمال فیئ[1] په حکم کښې نازل شوے دے لیکن حکم ئے عام دے تول اوامر او نواهی پکښې داخل دی.

دغسے دتعمیم فیصله علامه ابن الجزی رحمه الله او قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله او مولنا عبدالماجد دریاآبادی رحمه الله په خپلو خپلو تفسیرونو کښې کړے ده[2]

(۳) قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ (العمران ۳۱)

---

(۱) مال فیئ هغه مال ته ویلی شی چه په صلح سره د کفارو نه واخستلی شی او مال غنیمت هغه مال دے چه بزور شمشیر یعنی په جنګ سره د کفارو نه حاصل شی. مؤلف غفرله

(۲) تفسیر التسهیل لعلوم التنزیل علامه ابن الجزی رحمه الله ج ص ۱۰ طبع بیروت، تفسیر المظهری للقاضی الثانی فی المتوفی ۱۲۲۵ ج ص ۲۳۶ طبع کوئته، تفسیر ماجدی ص ۱۰۹۲

ووایه که چرې تاسو مینه ساتئ دالله تعالیٰ سره پس پیروي وکړئ زما ، مینه به درسره وکړي الله تعالیٰ اواوبه بخښي تاسو لره گناهونه ستاسو او الله تعالیٰ بخونکے اومهربان دے .

ددے آیت شریفه نه واضحه شوه چه د رسول ﷺ اتباع سبب د محبت دالله تعالیٰ دے اوسبب دمغفرت دگناهونو دے اوبنده په محبت دالله تعالیٰ کښ هله رښتیا وی چه دحضور اکرم ﷺ په طریقه وی

ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه :

هذه الاٰية الكريمة حاكمة على كل من ادعى محبة الله وليس هوعلى الطريقة المحمدية فانه كاذب فى دعواه فى نفس الامرحتى يتبع الشرع المحمدى والدين النبوى فى جميع اقواله وافعاله (ابن کثیرج۱ص۳۵۸)

"داآیت کریمه فیصله کونکے دے په هرهغه چا چه دعوی دمحبت دالله تعالیٰ کوی اونوی دے په طریقه محمدّیه باندے پس یقینی دغه دروغژن دے په دعوی خپله کښ په واقعه (نفس الامر)کښ تردے چه دشرع محمدی اودین نبوی تابع شی په ټولو خبرو،اوکارونو خپلو کښ "

اوعلامه نسفیؒ دداسے کس په باره کښ چه دعوی دمحبت دالله تعالیٰ کوی اودحضرت ﷺ دسنتو متابعت نه کوی داسے فرمائی :

"دغه (کذّاب) نهایت دروغژن دے اودخدائی کتاب ئے دروغژن کوی.

"(تفسیرمدارک ج۱ص۱۵۳)

حسن بصریؒ متوفی ۱۱۰ ھ فرمائی :چه دځنے خلقوخیال وی چه دوی محبت دالله تعالیٰ سره کوی فابتلاهم الله بهذه الاٰية نوپس امتحان پرے وکړه الله تعالیٰ په دے آیت سره (ابن کثیرج۱ص۳۵۸)

مطلب داچه هله به په دعوی خپله کښ صادقه شی چه دحضور ﷺ

پیروکار جوړشی .

خطیب عراقی رحمہ اللہ لیکی .هره طریقه چه سوادطریقے دحضرت محمد ﷺ نه وی هغه ممنوعه ده اوهر عمل چه اجازت شرعی پرے نوی شوے مردود دے .

اذکل طریق سوی طریقه مسدود وکل عمل سوی ماأذن به مردود.

(روح المعانی ج۳ص۱۳۰)

(۳) وَ مَنۡ یُّطِعِ اللّٰهَ وَ الرَّسُوۡلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِیۡنَ اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَیۡهِمۡ مِّنَ النَّبِیّٖنَ وَ الصِّدِّیۡقِیۡنَ وَ الشُّهَدَآءِ وَ الصّٰلِحِیۡنَ ۚ وَ حَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِیۡقًا ﴿۶۹﴾ (سورة النسآء ۶۹)

"اوچاچه اطاعت وکړو دالله جل جلاله اودرسول ﷺ دهغه، پس دغه کسان به ملګری وی دهغه خلقوسره چه الله تعالی پرے انعام کړے دے چه نبیان دی اوصدیقان دی اوشهیدان دی اوصالحین دی اوښه ملګری دی دوی"

ددے آیت مبارکه نه صفا معلومه شوه چه اطاعت سبب درفاقت دنیکانو دے په قیامت کښ .

شیخ القرآن مولانا غلام الله خان رحمہ اللہ دقرطبیؒ په حواله دآیت په معنی کښ داسے لیکی :

ای هم معهم فی داروٰحدة ونعیم واحد یستمتعون برؤیتهم وحضورهم معهم لاأنهم یساوونهم فی الدرجة[1]

"یعنی دااطاعت کونکی به ددغه کسانو سره په یو کور اویونعمت کښ میلاویږی اونفع به اخلی ددویو په ملاقات اوپه حضورسره ددویوسره اودامطلب نه دے چه دوی به په درجه کښ برابروی"

[1] تفسیر القرطبی ج۵ص۲۷۲بحواله جواهر القرآن ج۱ص۲۶۸لشیخ القران مولانا غلام الله خان صاحب رحمه الله

(٥) قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ.
"ووايه چه تابعداري وکړي د الله تعالیٰ او تابعداري وکړي د رسول ﷺ د هغه، پس کچرے وګرزيدئ نو يقينا په د. باندے هغه دي چه بارشوی دی په د. باندے (يعني تبليغ).
وَ عَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ؕ وَ اِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ؕ وَ مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۵۴﴾ (سورة النور ٥٤)
"او په تاسو هغه دی چه په تاسو بارشوی دی (يعني اطاعت) او کچرے اطاعت د حضرت ﷺ موو کړونو هدايت به ومومئ او نشته په رسول ﷺ مګر رسول ښکاره "
دا آيت ښکاره فيصله کوی په دے باندے چه هدايت منحصر دے په متابعت د حضرت محمد ﷺ کښے.
امام فخر الدين رازی رحمه الله فرمائی[1] چه:
(وان تطيعوه تهتدوا) ای تصيبوا الحق وان عصيتموه فما على الرسول الا البلاغ المبين بمعنى التبليغ.
"معنى داده کچرے اطاعت مو د رسول ﷺ وکړونو حق ته به ورسيږی او کچرے خلاف موو کړو نو نشته په رسول ﷺ مګر تبليغ ښکاره "
(٦) قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ (سورة ال عمران ٣٢)
"ووايه چه اطاعت د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ وکړئ پس کچرے وګرزيدئ يقينی الله تعالیٰ مينه نه ساتی د کافرانو سره "

---

[1] تفسير کبير ج٢٤ ص ٢٣ طبع طهران للامام فخر الدين الرازی المتوفی ٦٠٦ھ

دذکر شوی آیت نه معلومیږی چه دحضرت ﷺ دطریقے نه مخالفت کفر دے . حافظ ابن کثیر رحمه الله څه ښه لیکلی دی فرمائی:

فدل علی ان مخالفته فی الطریقة کفر والله لایحب من اتصف بذلك وان ادعی وزعم فی نفسه انه محب لله ویتقرب الیه حتی یتابع الرسول النبی الامی خاتم الرسل و رسول الله الی جمیع الثقلین الخ (تفسیر ابن کثیر ج۱ ص ۳۵۸)

"پس دلالت کوی په دے باندے چه مخالفت دنبی ﷺ په طریقه دهغه کښ کفر دے اوالله تعالی نه خوښه وی هغه چالره چه موصوف په کفر وی اگرچه دعوی اوخیال په زړه کښ کوی چه څه محبت کونکے دالله تعالی یم تردے چه پیروی وکړی درسول نبی امی خاتم الرسل اودخدائی دهغه درسول چه پیریانو انسانو ټولو ته رسول دے"

(۷) فَلَا وَ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَ يُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۶۵﴾ (سورة النساء ۶۵)

"پس نده دارنگے څنگه چه ددوی خیال دے نشی ایماندار جوړیدلے دوی تردے چه فیصله کونکے جوړکړی تالره په هغه کښ چه اختلاف ددوی په مینځ کښ راغلی په هغه کښ اوبیا نه مومی تنگسیا په زړونو خپلوکښ دهغه نه چه تا ئے فیصله کړیده اوغاړه کیدی په غاړه کیخودو سره "په ذکرشوی آیت پاك کښ دایمان دپاره درے شرطونه ذکر دی(۱) چه په حضور ﷺ اودهغه په سنتو فیصله کوی(۲) زړه کښ په هم خفه نوی(۳)آئنده دپاره هم غاړه بسته وی دیته .

امام فخر الدین رازی رحمه الله فرمائی:

قسم من الله تعالی علی انهم لایصیرون موصوفین بصفة الایمان الاعند شرائط (ثلاثة) الخ (تفسیر کبیر للامام فخر الدین الرازی ج۱۰ ص ۱۶۴)

"چه دا مذکوره قول دالله تعالی قسم دے دالله ﷻ نه چه داخلق په صفت دایمان نشی جوړیدلے مګر په وخت دحصول (دریو) شرطونو اوبیا هغوی تفصیلی کلام کړے دے.

(۸) وَ مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّ لَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَ مَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ؕ﴿۳۶﴾

(سورة الاحزاب ۳۶)

"اونه دی صحیح دهیڅ یومؤمن سړی اوښځے دپاره کله چه فیصله وکړی الله تعالی اودهغه رسول ﷺ چه شی دے ددویو دپاره اختیار دحکم ددوئ نه اوچا چه خلاف (عصیان) وکړو دالله اودهغه درسول ﷺ پس یقینا یے لارے شه په یے لاره کیدوښکاره سره ".

حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی: ددے آیت شریفه په باره کښ:

فهذه الاية عامة فی جميع الامور. ص ۳۹۰/۳

"پس دا آیت عام دے په ټولو کارونو ددین کښ.

(۹) يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿۵۹﴾ (سورة النساء ۵۹)

"اے ایماندارو اطاعت وکړی دالله تعالی او اطاعت وکړی درسول ﷺ اودخاوندانو دمشری ستاسو نه پس که چرے جګړه موراغله په څه شی کښ نو واپس ئے کړی الله تعالی ته اودهغه رسول ﷺ ته که چرے تاسو ایمان لری په الله تعالی اوپه ورځ دآخرت داغوره دی اوښه په اعتبار دانجام سره ".

مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمائي: چه دهغوی دعبارت دخلاصې معنی داده چه داطاعت درې قسمونه دي يوهغه چه الله تعالی ئې په خپله په قرآن پاك كښې تصريح كړې وي اوڅه تشريح اوتفصيل ته محتاجه نوي لکه چه دكفرشرك انتهائي جرم والې اوديو اللهٔ عبادت په اخرت يقين كول محمدرسول الله آخري برحق رسول منل .

(۲)دوئم هغه چه تفصيل اوتشريح ته ئې ضرورت وي اوهغه ئې دنبي كريم ﷺ حواله كړې وي چه حضور ﷺ ئې تشريح داحاديثوپه ذريعه كوي .

۳. هغه قسم چه نه قرآن كښې صراحةً موجود وي اونه احاديثوكښې يا په ذخيره داحاديثوكښې متضادروايات ميلاويږي په داسې احكامو كښې علمآء مجتهدين دقرآن اوسنت دمنصوصاتو اودزير غور مسئلې په نظائروكښې غوراوفكر كوي اودهغه حكم تلاش كوي ددغو احكامو اطاعت اګرچه دحقيقت په اعتبار سره دقرآن اوسنت نه دمستفادكيدوپه وجه داطاعت خداوندي يو فرددې مګر ظاهري سطح اعتبارسره ديته فقهي فتوىٰ وئيلې شي اودعلمآؤ طرفته منسوبه كيږي په دې دريم قسم كښې داسې احكام هم شته چه دقرآن اوسنت دمخ نه پرې څه پابندي نه وي بلكه عمل كونكو لره پكښې اختياروي چه څه رنګې غواړي ويې كړي .دغوته په اصطلاح كښې مباحات وائي داسې احكامو كښې عملي انتظام دحاكمانواواميرانو په حواله دې چه هغوی دحالاتواومصالحوپيش نظر څه قانو ن جوړكړي اوټول خلق پرې روان كړي (معارف القرآن ج۲ص ۴۵۱)

دغه رنګې صاحب موصوف ليكي :دأولي الامرپه حقله چه حضرت ابن عباس رضي الله عنه اوحسن بصري رحمه الله اومجاهد رحمه الله وغيره مفسرينٌ قرآن

داولی الامر مصداق علماء اوفقهاء گرزوی .اویوجماعت دمفسرینوؒ چه هغوی کښې ابوهریره رضی الله عنه هم شامل دے داولی الامر مراد حکام اوامراء ښائی. اوحافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی:

والظاهر والله اعلم انه عامة فی کل اولی الامر من الامرآء والعلمآء.

(ابن کثیر ج۱ ص۵۱۸)

اوظاهره (والله اعلم) "داده چه داآیت عام دے په ټولو خاوندانو دمشری کښې که امیران دی اوکه عالمان دی دغه رنګے په عموم قول قاضی پانی پتیؒ هم کړے دے. (تفسیرمظهری ج۲ ص۱۵۱\۱۵۲)

امام نسفی رحمه الله په تفسیر ددے قول دالله تعالی کښې:

فردوه الی الله والرسول داسے تحریر کړی.ای الرسول فی حیاته والی احادیثه بعدوفاته (مدارک حنفی ج۱ ص۲۳۲)

"چه رسول ﷺ ته ئے واپس کړی په وخت دژوند دهغوی کښې اوحدیثو دهغوی ته پس دوفات دهغوی نه"

(۱۰) وَ مَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَ يَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَ نُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ۭ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۱۱۵﴾ (سورة النسآء ۱۱۵)

"اوهغه څوك چه خلاف کوی درسول الله ﷺ نه پس دواضحه کیدو دهدایت نه ده ته اوتابعداری کوی غیر دلارے دمؤمنانو نه وبه گرزوودلره هغه طرفته چه دے ورته گرزیدلے دے اوداخل به یے کړو جهنم ته اوبدځائی دواپسی دے" (داجهنم)

په دے آیات کریمه کښې سخت وعید دهغه چاد پاره ذکرشوے دے چه مخالف وی درسول الله ﷺ دطریقے نه اودلارے دکاملو ایماندارو نه

(چه اجماع ده) مفسرينٌ ليکي څرنګه چه دکتاب اوسنت مخالفت روانه دے دغه رنګے داجماع الامت مخالفت هم روانه دے اوددے آيت نه استدلال نيسي عبارت دمدارك داسے دے:

فيه دليل على ان الاجماع حجة لاتجوز مخالفتها كمالاتجوز مخالفة الكتاب والسنة[1]

"چه په دے کښ دليل دے چه اجماع حجت دے اومخالفت ئے روانه دے څنګه چه مخالفت دکتاب اوسنت رواندے"

دغه يوڅواياتونه بطور مشت نمونه خروار دناظرينو په خدمت کښ پيش شوچه فيصله کوی په وجوب داتباع دنبی کريم ﷺ باندے په امورودين کښ ځکه چه الله رب العزت ترے نه تعبير کړے دے په رسول سره نومطلب ئے داشو چه حضرت محمد ﷺ دحيثيت درسول والي نه واجب الاتباع دے اورسالت دهغوی په امور تشريعيو کښ دے نه په امور بشريو کښ اودغه آيتونه مبارکه ؤکښ سخت وعيدونه دی په ترك اتباع سره اوبعض وعيدونه سخت دی دبعض نورونه اواتباع دحضرت په هغه طرزپکار ده په کوم طرزچه هغوی فعل کړے وی يعنی دکوم فعل مشروعيت چه په طريقے دفرضيت اووجوب وی نومونږه به يے اعتقاد دفرضيت اووجوب لرواوپه ذغه حثيت به ورسره معامله کوواوکه مشروعيت ئے په طريقے داستحباب اباحت ،تخير وو نومونږه به هم اعتقاد په دغه رنګے لرو دغه شان معامله به ورسره کوو.

---

[1] مدارك ج١ص٢٥١ابن كثير ص٥٥٥المظهري ج٢ص٣٣٦وروح المعاني ج٥ص١٤٦وج٢ص٥٤٦معارف القران طبع ادارة المعارف كراچي وراجع الى كتب الاصول:

حاصل داچه اعتقاد دهر حکم په خپله درجه کښې دے اوعمل پرے هم پخپله درجه کښې دے اوس چند احادیث دجناب رسول الله ﷺ داتباع په حقله اودترك ابتداع پحقله ذکر کولې شی پس دڅو ذکر شوو آیتونو مبارکونه (تلك عشرة كاملة)

احادیث دا تباع په باره کښې

(۱) عن عائشه رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهو رد متفق علیه[1]

"دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چاچه پیدا کړه په امر (ددین) زمونږه کښې چه دادے هغه شی چه ددین نه نوی نوهغه مردود دے"

په دے حدیث پاك کښې دهغه کار چه په دین کښې ئے څوك ایجاد کړی پوره تردید شوے دے ځکه چه امور تشریعیه منصب دنبوت دے په دے کښې بل چالره دځان نه د ایجاد حق نشته اودامر نه مراد امر ددین دے لکه چه محدثین حضرات فرمائی :

(۲) عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله امابعد فان خیرالحدیث کتاب الله وخیرالهدی هدی محمد ﷺ وشر الامور محدثاتها وکل بدعة ضلالة[2]

"دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی پس ددے نه داخبره ده چه غوره خبرے دالله تعالی کتاب دے اوبهتره هدی

---

(۱) مشکوة المصابیح ج۱ص۲۷بخاری ج۱کتاب الصلح ص۳۷۱مسلم ج۲ص۷۷باب نقض الاحکام الباطلة ابوداود ج۲ص۶۳۵کتاب السنة ابن ماجه ج۱ص۳باب تعظیم سنة رسول الله ﷺ :

(۲) رواه مسلم ج۱ص۲۸۵قال القاری وکذا احمد والنسائی ج۱ص۷۲مشکوة المصابیح ص۱۶ابن ماجة وفی روایة النسائی المعوفی ۳۰۳ وکل ضلالة فی النار ج۱ص۱۷۹طبع سعید کمپنی کراچی:

(تحفه) هدی دمحمد ﷺ ده اوناکاره دکارونونه نوی پیداشوی کارونه دی اوهر بدعت ګمراهی ده.

په مذکوره حدیث مبارکه کښې ترغیب کتاب الله اوسیرت دمحمد رسول الله ﷺ ته ورکړے شوے دے اوددین په کارونو کښې ایجادشده امور ته ناکاره وئیلی شوی دی اوهربدعت (شرعی) ته ئے دضلالت حکم ورکړے دے (اوپه روایت دنسائی کښې راغی اوهره ګمراهی په اور کښې ده)

څه ښه يو سالكؒ فرمائيلی دی :

وخیرامور الدین ماکان سنة وشرالامور المحدثات البدائع

(۳) وعن العرباض بن سارية رضی الله عنه قال صلی بنا رسول الله ﷺ ذات یوم ثم اقبل علينا بوجهه فوعظنا موعظة بليغة ذرفت منها العيون ووجلت منها القلوب فقال رجل يارسولَ الله كانّ هٰذه موعظة مودّع فاوصنا فقال اوصيكم بتقوى الله والسمع والطاعة وان كان عبدا حبشيا فانه من يعش منكم فسيرى اختلافا كثيرا فعليكم بسنتي وسنة الخلفآء الراشدين المهديين تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ وايّاكم ومحدثات الامور فان كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة"[1]

"دحضرت عرباض خوے دساريةؓ نه روايت دے چه يوه ورځ مونږه ته رسول الله ﷺ مونځ اوکړو نو بيا رامخامخ شولومونږه ته اووعظ ئے وکړومونږه ته وعظ بليغ (پوره)چه سترګے زمونږه ترينه وبهيدلے اوزړونه زمونږه ترينه نرم شو پس يوسړی عرض وکړه چه اے دالله

---

[1] رواه احمد وابو داود ص۶۳۵ والترمذی ج۲ص۱۰۸ وابن ماجه الا انه لم يذكر الصلوة مشكوة ص۲۹\۳۰ وكذافی الدارمی ج۱ص۴۴باب اتباع السنة طبع ملتان ص۲۳ كتاب البدع والنهی عنها:

رسوله ګویا که دادیورخصت کونکی وعظ دے پس مونږه ته وصیت وکړه پس هغوی وفرمائیل چه وصیت کوم تاسوته په تقوی دالله تعالیٰ اوپه اوریدلو اوپه منلو اګرچه (امیرستاسو)حبشی غلام وی پس شان دادے چه څوك جوندے وی تاسو نه روستو زمانه نویقینی وبه وینی اختلاف ډیر پس ونخلئی زما په سنتو اودخلفاء راشدینو په سنتو پورے داسے خلفاء چه هدایت ورته شوے دے اومنګولے ولګوئے په دغه سنتو باندے اوچك پرے ولګوئ دجامے په غاښونو باندے اوځان وساتئ دنوو کارونونه په دین کښ ځکه هرنوے کار په دین کښ بدعت دے اوهر بدعت ګمراهی ده:

په دے حدیث کښ درسول اکرم ﷺ جامع نصیحت ،وعظ ذکرشوے دے اوڅرنګه چه دحضرت ﷺ په سنت طریقے باندے داتباع حکم دے نوهم دغه رنګه دخلفاء راشدینو په نقش قدم دتللو هدایت دے.

(۴).وعن ابی هریره رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ کل امتی یدخلون الجنة الامن ابی قالوا ومن یابی قال من اطاعنی دخل الجنة ومن عصانی فقد ابی[1]

"دابی هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه زماټول امتیان به جنت ته داخلیږی مګرهغه څوك چه انکاروکړی صحابه و عرض وکړه چه څوك به انکار کوی هغوی وفرمائیل چاچه زما اطاعت وکړوداخل به شی جنت ته اوچاچه زما خلاف وکړه پس هغه انکار وکړو.

(۵) وعن ابی هریره رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ بدأ الاسلام غریبا وسیعود کما بداء فطوبی للغرباء .وفی راویة الترمذی وهم الذین یصلحون ما افسد

[1] بخاری ص ۱۰۸۱ ج ۲ مشکوة ج ۱ ص ۲۷ ایضاح الحق الصریح ص ۹۳:

الناس من بعدی من سنتی "[1]

"دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه شروع شوے دے اسلام دمسافرغوندے اووبه گرزی څه رنګے چه شروع شوے (ظاهرشوے) دے پس خوشخبری ده غرباؤ (مسافرو) لره اوپه روایت ترمذی کښں دی چه غربآء (مسافران) هغه خلق دی چه څمانه پس زما دهغه سنتو اصلاح کوی چه خلقو بربادکړی دی .

په حدیث پاك کښں داسلام ابتدائی اوانتهائی مرحلے ذکرشوے چه اسلام اوسنت طریقے به داسے مسافرے نااشنا خلقوته ښکاریږی څرنګے مسافر نوروخلقوته ناشنا ښکاری اوهغه کسانوته خوشخبری ورکړے شوے ده چه دسنتو اصلاح اوپیروی کوی اودبدعاتونه اجتناب کوی .

(٦) وعن ابن مسعود رضی الله عنه قال من کان مستنا فلیستن بمن قدمات فان الحی لایوتمن علیه الفتنة اولئك اصحاب محمد ﷺ کانوآافضل هذه الامة ابرها قلوباواعمقهاعلما واقلها تکلفا اختارهم الله لصحبة نبیه ولاقامة دینه فاعرفوالهم فضلهم واتبعوهم علیٰ اثارهم وتمسکوا بمااستطعتم من اخلاقهم وسیرهم فانهم کانواعلی الهدی المستقیم"[2]:

"دابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه څوك اقتدآء کوی ستاسونو اقتداء دوکړی په هغه چا پسےچه مړ وی اوهغوی اصحاب (ملګری) دمحمد ﷺ دی چه دوی بهتر ددے امت نه ډیرنیك دی ددے امت نه دجهته دزړونونه اوژور علم واله دی اودلګ تکلف خاوندان دی ددے امت نه غوره کړی دی الله تعالی دپاره دصحبت دنبی خپل اودخپل

[1] مسلم ج۱ص۸٤،ترمذی ج۲ص۱۰۲،مشکوٰة ص۲۹\۳۰،ایضاح الحق ص۹۷:

[2] رواه رزین کذافی المشکوٰة ص۳۲ ج۱ کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة

دین داقامت دپاره پس وپیژنی ددوی دپاره بهتری ددوی اوروان شئ دهغوی په نقش قدم باندے اومنګولے ولګوے دهغوی په اخلاقو ،سیرتونوباندے ځومره مو چه طاقت وی ځکه چه هغوی په هدایت مستقیمه(نیغ) باندے دی "

په لیکلی شوی روایت کښ دصحابه کرام ﷺ منقبت ،فضیلت ، نیکوکاری ،پوره علم،قلت تکلف ،ذکرشوے دے دصحابه ؤکرامو ﷺ انتخاب پاک رب العزت پخپله کړے دے دوئ دحضوراکرم ﷺ دمجلس اوملګرتوب دپاره په څه ووړ ندی منتخب شوی اوهمدغه رنګے دهغوی په سنت روش ،طریقے پسے دتللو عمل کول تلقین دے . اوولے به نوی حالانکه دوئ دهدایت ځلانده ستوری دی .

(٧) عن انس رضي الله عنه قال جاء ثلاثة رهط الى ازواج النبي ﷺ يسئالون عن عبادة النبي ﷺ فلما آخبروابها كانهم تقالوها فقالوآ اين نحن من النبي ﷺ وقد غفرالله ماتقدم من ذنبه وماتاخر فقال احدهم امانا فاصلى الليل ابدا وقال الاخر انا آصوم النهار ابدا ولاافطر وقال الاخر انا آعتزل النساء فلاآتزوج ابدا فجآء النبي ﷺ فقال انتم الذين قلتم كذاوكذا اماوالله انى لاخشاكم لله واتقاكم له لكنى اصوم وافطر واصلى وارقد واتزوج النسآء فمن رغب عن سنتى فليس منى"[1]

"دحضرت انس رضي الله عنه نه روایت دے چه درے نفر دنبی ﷺ دبیبیانو خواته راغله چه تپوس ئے کولو دنبی ﷺ دعبادت په حقله کله چه خبرکړے شو په دغه باندے ګویا دوی لږوګانړه عبادت دهغوی لره نواوویل دوی چرته مونږه اونبی اویقینی بخلی دی الله پاك مخکښ

[1] متفق عليه ص١٧ مشكوة ص٢٢٧ ج٢ بخاری کتاب النکاح مسلم ص٤٤٩ ج١ کتاب النکاح

اوروستو لغزش دهغوی ،پس وويل يوددوی‌نه چه څه به تول‌ه شپه مونځونه کوم هميشه دپاره اوهغه بل وويل چه زه به تول عمر روژے نيسم نه به ئے ماتوم اوهغه بل اوويل چه څه به دښځونه په ډډه يم اوچرے به واده نه کوم نوراغلو نبی ﷺ دوی ته ورته ئے وفرمائيل تاسوهغه کسان ئے چه وئيلی مودی داسے داسے ؟خبردار قسم په خدائی څه ډيرويرودونکی يم دالله نه ستاسونه اوډير تقوی دار ستاسونه الله ته ليکن روژے نيسم اوماتومه ئے هم اومونځ کوم اوواده کيږم هم اوواده کوم دښځو سره پس چاچه اعراض وکړو دسنتو ځمانه پس ندے داځمانه "

حديث پاک کښ زجرشديده اووعيدشديده معرضينو دسنت ته ورکړے شوے دے اواعتدال په عبادت کښ فرمائيلے دے.

(۸) وعن ابی هريره رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من تمسك بسنتی عند فساد امتی فله اجرماة شهيد[1]

"دابوهرير رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے چه چاعمل وکړو په سنتو ځماباندے په وخت دفساد دامت ځما کښ (يعنی په وقت دغلبے دجهل اوبدعت کښ) نوپس دغه لره دسلو شهيدانو اجر دے .

په عرض شوی حديث کښ خومره بشارت عظيمه دے دعاملينو دسنت گرامی لره چه دسلو شهيدانو اجرورته ميلاويږی شهادت خومره قيمتی شے دے هره گناه ورته معاف کولے شی خوبيايوځلے مرگ وی چه پرے راشی پخلاف دمتبع سنت چه هر وخت دخلقو غشودملامتيا ته ملا تړلے ولاړوی خودبدعت ارتکاب نه کوی .

[1] هكذافی مشكوة المصابيح وقال فی الهامش رواه البيهقی فی كتاب الزهد له من حديث ابن عباس رضی الله عنهما ج۱ص۳۰

(۹) عن حسان رضی اللہ عنہ قال ما ابتدع قوم بدعة فی دینهم الا نزع الله من سنتهم مثلها ثم لا یعیدها الیهم الی یوم القیمة.

(رواه الدارمی ج۱ ص۴۴ باب اتباع السنة طبع نشر السنة ملتان مشکوة ص ۳۱)

"د حضرت حسان رضی اللہ عنہ نه روایت دے فرمائی چه ندے راویستلے یوقوم بدعت لره په دین خپل کښ مګر راویستلے دی الله تعالی د سنتو ددوی نه مثل دهغه اوبیائے نه راواپس کوی دوئ ته ترقیامته پورے"

(۱۰) وعن غضیف بن الحارث الثمالی رضی اللہ عنہ قال قال رسول الله ﷺ ما احدث قوم بدعة الا رفع مثلها من السنة فتمسك بسنة خیر من احداث بدعة (رواه احمد ص۳۱ مشکوة ج۱)

"او حضرت غضیف ابن الحارث ثمالی رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه نه دے پیدا کړے یوقوم بدعت لره مګر پورته شوے دے ترینه په مثل دهغه سنت . پس منګلولے لره ول په سنت باندے غوره دی دراویستلو دبدعت نه"

ددواړو حدیثونه معلومه شوه چه په ځائے دسنتو چه بدعت راشی نوسنت نشی پاتے کیدے .محدثینؒ فرمائی چه سنت طریقه په شان دیوے ونے ده کله چه زائله شی نوبیا خپل ځائی ته نشی راتللے ٠ الله تعالی مونږه عاملین سنت کړه .آمین ثم آمین

(۱۱) وعن ابی سعید الخدری رضی اللہ عنہ قال قال رسول الله ﷺ من اکل طیبا وعمل فی سنة وامن الناس بوائقه دخل الجنة فقال رجل یا رسول الله ان هذا الیوم لکثیر فی الناس قال وسیکون فی قرون بعدی (رواه الترمذی ص۱۳۰ ج۲ مشکوة ج۱)

"د ابوسعید خدری رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چاچه حلال وخوړه اوعمل ئے دسنتو موافق وکړه اوامن کښ شوخلق

دضررونو ددنه جنت ته به داخلیږی پس ووئیل یوسړی داسے صفاتو والاخونن صبا ډیر دی په خلقو کښ .حضرت وفرمائیل اویقینا وی به څه پیرو کښ روستوځمانه "

دحدیث مبارکه نه دحلال خوراك اودعمل باالسنة اوخلقو ته دضررنه رسولو لوړشان ذکرشو . داوؤ یو څو احادیث دزیات تفصیل دپاره داحادیثو کتابونه کتلے شی.

دعاقل دپاره داهم کافی دی (انی رایتُ احدعشر کوکباً)

دناظرینو په خدمت کښ دزیات وضاحت دپاره دبدعت تعریف دعلماء کرامو په اقوالو سره ذکرکول غواړم اګرچه دحدیث (۱) نه هم صفا معلومیږی .

د بدعت لغوی معنی

په مجمع البحار کښ دی چه بدعت هغه شئ ته وائی چه پیداشی په غیر دمثال سابقه نه (ص۸۰ج۱) .

اوپه صراح کښ دی "البدع نوبیرون اوردن نه برمثالی(ص۳۰۵ج۳)

"چه بدع نوے شی راویستل دی چه مثال ئے نه وی .

اوغیاث اللغات (ص۶۱ج۱) دمنتخب په حواله لیکی :نوپیداشده "نوے پیداشوے .بدائع هغه څیزونه چه نوی پیداشوی وی جمع دبدیع ده مجازا په معنی دعجائباتو.هم دغه رنګے په منتهی الارب کښ راغلی دی.(ص۲۹۳ج۱کلها بحوالة ضیاء النور ص۲۱) .

امام نووی رحمه الله فرمائی: کل شی عمل علی غیر مثال سبق "چه بدعت هرهغه شے دے چه جوړشی په غیر دمخکښنی مثال نه .

(نووی شرح مسلم ج۱ ص۲۸۵ مع المسلم).

صاحب د منجد لیکی:

البدعة ج بدع ما احدث علی غیر مثال سابق الخ "(ص۲۹ المنجد طبع بیروت لبنان)

چه بدعت جمع بدع ده او بدعت هغه شے ته وئیلے شی چه نوے پیدا کړے شی بغیر ده مثال سابقه نه علامه ابن اثیر متوفی ۶۰۶ھ لیکی:

فی اسمآء الله البدیع هو الخالق المخترع لاعن مثال سابق (ج۱ ص۱۰۶ نهایة)

چه په نومونو د الله تعالی کښ بدیع راغلے دے او دا پیدا کونکی دے دنوی شی بغیر د مخکښنی مثال نه .

ده بدعت شرعی معنی

دبدعت دلغوی معنی نه بعد ددے شرعی ،اصطلاحی مفهوم دعلمآء دین او خدام شرع متین دتعریفاتو نه دناظرینو کرامو په خدمت کښ زیرتحریر کیدے شی ځکه چه وعیدات شدیده په مرتکبینو دبدعت اصطلاحی ،شرعی ،باندے راغلی دی نه په لغوی باندے .او مذموم او مردود ،غیرمقبول ،بدعات اصطلاحیه دی او حدیث پاک کښ چه ورته ضلالت او سبب ددخول جهنم وئیلے شویدے هم دغه بدعت شرعی دے .ځکه چه قاعده داده چه: کل متکلم یتکلم باصطلاحه چه هر خبره کونکے پخپله اصطلاح خبرے کوی نو ده شارع ﷺ مراد دبدعت نه شرعی دے نه لغوی .

(۱) صاحب د مجالس الابرار دبدعت د مفهوم په باره کښ دا سے لیکی :

ان البدعة لها معنیان احدهما لغوی عام وهو المحدث مطلقا سواء کان فی العادات اومن العبادات والثانی شرعی خاص وهو الزیادة فی الدین او النقصان

منه بعد الصحابة بغير اذن من الشارع عليه الصلوة والسلام لاقولا ولافعلا ولاصريحا ولااشارة انتهى[1]

"يقينًا دبدعت دپاره دوه معنے دی يولغوی عامه ده اوهغه نوپيداشده مطلقا ته وائی برابره ده که په عاداتو کښ وی اوکه دعباداتونه وی اودويئمه شرعی خاصه ده اوهغه زيادت په دين کښ دے اويانقصان ددين نه دے پس دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه بغير داجازت دشارع عليه السلام نه نه قولی اونه فعلی اونه صريحی اونه په اشارت سره"

(۲)علامه شاطبی رحمه الله پخپل مايه ناز تصنيف کښ ليکی :

فالبدعة اذن عبارة عن طريقة فى الدين مخترعة تضاهى الشريعة يقصد بالسلوك عليها المبالغة فى التعبد لله سبحانه[2]

پس بدعت په دے وخت کښ عبارت دے دهغه ايجادشوے طريقے نه په دين کښ چه مشابهت پرے راځی دشريعت سره(او)قصد کولے شی په تللو باندے په هغے سره د مبالغے په بندګئ دالله جل جلاله کښے"

(۳) حافظ ابن کثير رحمه الله پخپل تفسير کښ فرمائی :

واما اهل السنة والجماعة فيقولون فى كل قول وفعل لم يثبت عن الصحابة رضى الله عنهم هوبدعة لانه لوكان خيرا لسبقونا اليه لانهم لم يتركوا خصلة من خصال الخير الاوقد بادروا اليها (ابن کثير ج۳ ص۱۵۶ تفسير سورة الاحقاف طبع مصر)

"اوهرچه اهل سنت اوجماعت دی پس وائی په هر قول اوفعل کښ چه نه وی ثابت شوی دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه دغه بدعت دے ځکه چه که

---

[1] مجالس الابرار وبمثله فى طريقة المحمديه للعلامة محى الدين البركوى الحنفىؒ المتوفى ۹۸۱ بحواله ضياء النور ص۲۳:

[2] الاعتصام للعلامة الشاطبىؒ المتوفى ۷۹۰ ، ص۳۷ طبع بيروت لبنان:

چرے دغه غوره وے نوصحابه ؓ به سبقت (مخکښې والے) کړے په مونږ باندے دغه ته ځکه چه دوی نه دے پریخودے یوخصلت دخیرونه دخیرنه مگر دوی مخکښې والے کړے دے هغے ته "

دحافظ ابن کثیرؒ دعبارت نه یوخو داهل السنة والجماعة تعریف معلوم شه

نن صبا هر یو پوزه توره کړی وائی چه ځه لوهار یم ځانته اهل السنة والجماعة وائی اوبدعاتو ډهیران وی بل ترینه دامعلومه شوه چه دصحابه کرامو ؓ قول ،اوفعل ،ته بدعت نشی وئیلے ځرنګه چه دصاحب دمجالس الابرار دعبارت نه هم معلومه شوه اوبل ترینه دصحابه ؤ شان اومنقبت معلوم شو چه چرته دخیر کار وے نوهغوئ سبقیت اواقدام هغه ته کړے وے ځکه چه هغوی احرص الناس بالخیر وو ؓ .

(۴) جناب راغب اصفهانی رحمه الله دبدعت فی المذهب مفهوم داسے تحریر کړے دے .

والبدعة فی المذهب ایراد قول لم یستن قائلها وفاعلها بصاحب الشریعة واماثلها المتقدمة واصولها المتقنة وروی کل محدثة بدعة وکل بدعة ضلالة وکل ضلالة فی النار.

(المفردات للعلامة الامام الراغب الاصفهانیؒ المتوفی ۵۰۲ ھ ص ۳۷ طبع کراچی)

" اوبدعت په مذهب کښې (یعنی بدعت شرعی) راوړل دیوقول دی چه اقتداء نوی کړے ویونکے دهغه په صاحب دشریعت پسے اومخکښېنو پیروکارو دشریعت پسے اواصول متقنه ؤ دشریعت پسے اوروایت شوے دے چه هر نوے کار بدعت دے اوهر بدعت گمراهی ده اوهره گمراهی

په اُور کښې ده "

(۵) امام المحدثین شاه محمد اسحاق صاحب رحمه الله دبحر اوامداد په حواله داسے نوټ کړیدی .

البدعة ماأحدث على خلاف الحق المتلقى عن رسول الله ﷺ من علم اوعمل اوحال بنوع شبهة واستحسان وجعل دينا قويما وصراطا مستقيما.

(ماة مسائل ص ۷۱ طبع منظور عام پشاور)

"چه بدعت هغه شے دے چه راپیداشوے وی مخالفه دهغه حق کوم چه راخستلے شوی دجناب رسول الله ﷺ نه دعلم اوعمل اوحال نه په یو قسم شبهے اوبنه ګڼړلو سره اوګرزه ولے شوی وی دین نیغ اولاره برابره "

(۶) امام المجاهدین شاه محمداسمعیل شهید رحمه الله داسے جامع لیك کوی:

پس مفهوم مطلق بدعت چنین باشد که هر امرے از امور مذکوره در بحث اول یاثانی که محدث باشد وصاحبش آنرا از امور دین قرار داده بعمل آرد یابه او معامله امور دینیه نماید پس آن چیز بدعت است۔ (ایضاح الحق الصریح ص ۷۹)

" پس معنی دمطلق بدعت داسے ده چه هر کار دکارونو ذکر شوو نه په بحث اول[1] یا دوئم کښې چه نوی پیداشوی . اوخاوند دهغه ئے دکارونو ددین نه مقرر کړے وی اوعمل پرے کوی یا ددغه سره معامله ددینی کوی پس همدغه خیز بدعت دے "

(۷) حافظ بدرالدین العینی الحنفی رحمه الله زیر تحریر داسے کوی .

---

[1] شاه صاحب رحمه الله مخکښې اول بحث کښې دبدعت اصلیه تحقیق کړے دے اودویم بحث کښې دبدعت وصفیه بیان کړے دے پدے خائے کښې دغوته اشاره ده اوان شاء الله د دواړوذکر را راوان دے :

والبدعة فی الاصل احداث امر لم یکن فی زمن رسول الله ﷺ (عمدۃ القاری للحافظ العینی رحمہ اللہ المتوفی ۸۵۵ھ ص ۵۶ج۳ ۵او ص ۲۳۰ج۵ باب امامة المفتون والمبتدع)

"او بدعت په اصل کښې ایجاد کول د یو کار دی چه رسول الله ﷺ په زمانه کښې نه وی "

(۸) امام نسفی حنفی رحمہ اللہ فرمائی: په تفسیر د دقول دباری تعالی کښې چه :

بدیع السموت والارض وکل من فعل مالم یسبق الیه یقال ابدعت ولهذا قیل لمن خالف السنة والجماعة مبتدع لانه یاتی فی دین الاسلام مالم یسبقه الیه الصحابة والتابعون رضی اللہ عنہم (مدارک ص ۷۱ج۱)

"او هر هغه کس چه داسې عمل وکړی چه هغې ته سبقت نوی شوے نو ویلې شی آبدَعتَ چه بدعت د وکړو اولدے وجه نه وئیلې بشي هغه چاته چه خلاف دسنت اوجماعت نه کوی چه دابدعتی دے ځکه دے راتله کو ی په دین اسلام کښې داسې شی ته چه مخکښې والې ورته صحابه ؤ اوتابعینو ندے کړے "

(۹) علامه ابن الحاج المالکیؒ دبدعت دتعریف په سلسله کښې داسې فرمائی : والبدعة مااخترعه المرأ من قبل نفسه ولم یسبق الیه غیرہ.

(بحوالة ضیاء النور ص ۱۲۵ ج ۳ المدخل)

"او بدعت هغه دے چه ایجاد ئے کړی انسان دخپل طرف نه اوبل چاورته سبقت نه وی کړے (یعنی هغه چا چه خیرالقرون واله دی)

(۱۰) حضرت علامه مفتی کفایت الله صاحبؒ دبدعت جامع تعریف په داسې طریقې لیکلې دے .

بدعت ان چیزوں کو کہتے ہیں جن کی اصل شریعت سے ثابت نہ ہو یعنی قرآن مجید اور

احادیث شریفہ میں ان کا ثبوت نہ ملے اور رسول ﷺ اور صحابہ کرام رضی اللہ عنہم اور تابعین اور تبع تابعین کے زمانے میں اس کا وجود نہ ہو اور اسے دین کا کام سمجھ کر کیا یا چھوڑا جائے۔ (۱)

"بدعت هغه شیونو ته وئیلے شی چه دهغو اصل دشریعت نه ثابت نه وی یعنی قرآن مجید اواحادیثو شریفه وؤ کښې دهغه ثبوت نه میلاویږی اودرسول الله ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم اوتابعینو اوتبع تابعینو په دور کښې دهغه وجود نوی اودین دکار ئے وګنړی .کوی ئے یاپریخودے شی "

دبدعت تعریف ،مفهوم ،اومعنی دذکر شوو علمآء کرامو اومشائخو عظامو دارشاداتو ،عباراتو ،په رنړاکښې د روز روشن غوندے په ډاګه واضح شوه چه هر هغه نوے شی زیادت ، یا نقصان ، قول یا فعل چه ددین په حثیت دثواب دپاره دعبادت په وجه ایجاد شی چه کتاب الله ،سنت رسول الله ﷺ خیرالقرون کښې دهغه دپاره یا دهغه دتحدید اوهیئت دپاره څه اصل ،نقل ،دلیل موجود نه وی . اوصاحب دهغه ورسره معامله دینی کوی کول یا پریخودل ئے ثواب ګنړی . پس دغه بدعت شرعی دے اوصاحب دهغه ته مبتدع ،بدعتی وئیلے شی دکوم په ذم کښې اوتردید کښې داحادیثو مبارکه وؤ کتابونه ډك دی . او سخت نه سخت وعیدات ئے ذکر کړیدی چه دهغو روایاتونه څه قدرے مخکښې دکتونکو په خدمت کښې تحفه کړے شو .

(۱) تعلیم الاسلام حصہ چهارم ص ۲۷ طبع اشرفیه رائے وند للمفتی المتوفی ۱۳۷۲ ھ

دالله رب العزت په دربار کښې متضرعا دعاء خوان ئیم چه بنده ناچیز اونورو مسلمانان دبدعت دناکاره مرض نه پخپل فضل وکرم سره محفوظ کړی . امین ثم امین رحم الله من قال امینا .

ده بدعت حقیقی او اضافی فرق

حضرت شیخنا وشیخ القرآن والحدیث علامه مولانا محمد طاهر صاحب رحمه الله پخپل بهترین تصنیف ضیاء النور کښې چه په باب رد بدعت کښې بے نظیر کتاب دے اوهره پهلو ئے مکمله واضحه کړے دے داسے فرمائی :چه دعبارت مفهوم اوترجمه دناظرینو په خدمت کښې پیش کولے شی چه دارمدار دبدعت په داسے عقیده دے چه ښه وګنړی هغه چه شارع ښه نوی ګنړلے که چرے په اصل کښې وی نوبدعت حقیقی دے اوکه چرے په حد مقرر کولو اوپه هیئت جوړولو کښې وو. نودغه بدعت اضافی دے اودغه رنګے معامله دهغه په مثل دمعاملے ددینی کارونو وی اولازم ئے ګنړی لکه چه صدقه کول دمړی نه په اوله شپه چه نه ئے پریږدی سره د ډیرو موانعو اوشواغلو ، اوفقیریٔ نه . دغه رنګے په ایضاح الحق (کتاب) کښې دی پس پوهه شه چه هغه عمل چه دلیل پرے دشریعت نه نوی څنے هغه دی چه هغه لره څه اصل (دلیل) نوی . لکه چه بدعات دقبرونو ،اوامداد غوښتل دقبرونو والو نه اوشرکے وسیلے اوقول په انکار دتقدیر اوقول په انکار دخبرواحد اوهغه چه دَ د مشابهے دی اوبدعت حقیقی دے اوکله کفر ،شرك ، اوکله کبیره (ګناه) وی پس یقینی دامخالفت خالصه دے اوو تل دی دسنت ظاهره نه .

اوبعض هغه وی چه اصل ورله شریعت کښې وی خوهئیت (طریقه) ئے ایجادشده وی اودغه بدعت اضافی دے لکه لوستل د سورة الملك

(يوازې) په شپه دجمعې اوصدقه كول دخان نه په تعين شوو خاص كړو شو وقتونو كښې اوتخصيص دفدنې وركولو دجنازې په وقت اوپ روستو ددينه اودعاء كول پس دسنتو نه په هيئت اجتماعي سره پس داكارونه په اعتبار داصل سره مشروع (روا) دي اوبدعت دي په اعتبار وصف سره اوبعض محققين ورته بدعت وصفيه وائي پس بدعت حقيقي هغه دې چه پرې نه وي قائم شوې دليل شرعي نه دكتاب الله نه اونه دسنت نه اونه داجماع نه اونه دداسې دليل نيولو نه چه معتبر وي په نزد داهل علمو اوداقسم بدعت عام اومشهور دې پس حاجت ئې نشته احكامو ،اوتفصيل ته ځكه چه عامه ابتلاء (گرفتاري) په بدعاتو اضافي وسره ده . او په ډيرو خلقو دسنتو طريقو سره ئې اشتباه راغلې ده . اوډيركرتې ورته بعض كسان بدعت حسنه وائي پس له دې وجې نه ئې مونږه تفصيل وكړو اواقسام مو ورله ذكر كړه اوهم دغه رنګې شاطبي رحمه الله په اعتصام كښې او امام شهيد رحمه الله په ايضاح الحق كښې ذكر كړيدي .پكار دي چه قصد وكړې شي په دې باب كښې په دغه دواړو كتابونو باندې الخ .....«

(ضياء النور لدحض اهل الشرك والفجور ص ۳۰ طبع قديم)

شاه محمد اسمعيل شهيد رحمه الله فرمائي :پس دذكر كولو ددريوحديثونو نه يعنى دحضرت عرباض رضي الله عنه اوحضرت عائشې رضي الله عنها اوحضرت انس رضي الله عنه نه .

پس بايد دانست كه از احاديث ثلثه مرقومه چنان مستفاد گرديده كه بدعت بردووجه مي باشد اول آنكه خودان چيزني نفسه محدث باشد وآن مفاد حديث اول است دوم آنكه درآمر ماثور چيزے از كمي وبيشي ياهيئات جديده احداث كرده باشد بالجمله امر ماثور رابوجهے ادا

نمایند کہ بران وجہ ماثور نیست وان مفاد حدیثین آخرین است پس اول را بدعت اصلیہ می گویم وثانی را بدعت وصفیہ ۔[1]

"پس پوهیدل پکار دی چه ددریو احادیثو لیکلے شوو نه داسے معلومیږی چه بدعت په دوؤ وجهو سره دے . اول هغه چه هغے شے پخپله نو ی پیداشوے ایجاد شوے وی اودامعلومیږی داولنی حدیث نه دویم هغه چه په یوکار ماثوره کښ څه شئے دکم والی اودزیادت والی یا دنو ی هئیت نه پیداکړے شی حاصل داچه امر منقوله په داسے طریقے اداشی چه په هغه وجه (شریعت کښ) نقل شوی نوی اودامعلوم شوی دروستنو دوؤ حدیثونه دے پس اول ته بدعت اصلیه (حقیقی) وایم اودوئم ته بدعت وصفی (اضافی)وایم . ـ ـ ـ ـ

دبدعت حقیقی اواضافی دفرق واضح کیدو نه پس مناسب گنړم چه درسم اورواج تعریف هم پیش خدمت شی.

درسم رواج تعریف

جناب شیخ التفسیر والحدیث مولانامحمد طاهر صاحب رحمه الله لیکلی دی .

فالرسم التزام الامر المحدث المباح بحیث یعدتارکها مطعونا مذموما وفاعلها ممدوحا والتشدید فیها یبلغ الی البدعة الحکمیة وفی الرسم تقلید للاباء والمشائخ والموافقة للاقران مع قطع النظر من حصول المنفعة ودفع الضرر وجمیع الامور الملتزمة فی النکاح والختان من الرسم وکذالك

---

[1] ایضاح الحق الصریح ص ۵ طبع گلستان پریس سرگودها شعبه نشرواشاعت مرکزی دارالعلوم پنج پیر:

الاجتناب من الصنائع والمكاسب من اولاد الزهاد والمشائخ والعلماء ومن زيّ المجاهدين كل ذالك من هذا القسم حتى بلغت الى البدع الحكمية والاحتراز من النكاح للايامیٰ فان عددها مستحسنا فهی البدعة الحكمية فالالتزام بالامر المباح رسم والتدين بها بدعة حكمية (ضياء النور ص ۳۷،۳۸)

(پس رسم لازمولو ديو نوی مباح امر دی په داسے شان سره چه پريخودنکے ئے بدشوے .پيغور کړے شوے شميرلے شی اوکونکے ئے ستائيلے شی اومبالغه پکښ رسيږی حکمی بدعت ته اوپه رسم کښ تقليد دپلرونو ،اواستاذانو وی اوموافقت دهمزولو وی سره دقطع دنظر نه دحصول دنفعے اودفع دضررنه اوتهول لازم شوی کارونه په نکاح ،سنت گری ،کښ درسم نه دی اودغه رنگے دده کول دصنعتونو کسبونو داولاد دزاهدانو اومشائخو اوعلماؤ نه . اودپوزيشن دمجاهدينو نه داتول ددے قسم نه دی تردے چه رسيدلی دی بدعاتو حکميوته اودغه رنگے ځان ساتل دنکاح نه دکونډو دپاره اوکچرے خلق ئے ښه گنړی نودغه دبدعاتوحکميونه کيږی پس التزام په يومباح امرسره رسم دے اوددين په لحاظ ورسره معامله کول حکمی بدعت دے")

جناب شيخ المشائخ شيخ القرآن صاحب رحمه الله داهم ليکلی دی:

الفرق بين الاجماع والرواج فالاجماع حكم شرعی اتفق عليه العلماء المتقنون من المجتهدين بعد التامل فی الدلائل الشرعية والرواج ماأحدث من الافعال والاقوال بين الناس من عاداتهم وتلقوها عادة بينهم حتى صارت طريقة مستمرة قرنا بعدقرن فی جيل بعد جيل ثم التزموها حتى يطعن على

من خالفها ويلاومون عليها فصارت بذالك بدعة حكمية ولا يستعبد ان يسمى ذالك رسما عند البعض الخ (ضياء النور ٣٠)

"داجماع اورواج مينځ کښې فرق

پس اجماع حکم شرعي دے چه اتفاق کړے پدے عالمانو دمجتهدينو نه پس دسوچ کولونه په دلائلو شرعيو کښې اورواج هغه دے چه پيداشوی وی دافعالو اواقوالو نه په مابين خپل کښې تردے چه ګرزيدلے وی يوه جاری طريقه پيړی په پيړی په قوم کښې پس دقوم نه اوبيا ئے لازم کړے وی تردے چه پيغور کولے شی په مخالف دهغه اوملامت کولے شی پرے پس پدے وجه بدعت حکمي وګرزی اوبعيده نه ده چه دے ته رسم ووئيلے شی په نزد دبعضو .

بدعت شرعي حسنه نشي کيدې

بعض خلق په دے خبره دهوکه کيږی اوځنے نورو ساده لوحو ته دهوکه ورکوی چه بدعت په دوه قسمه دے يوحسنه اوبل سيئه نو بناء په دے خومره بدعات چه موجوده دور کښې شروع دی اوکيږی دغه دبدعت حسنه مصداق ګرزه وی اودے ته نه ګوری چه حديث دجناب رسول اکرم ﷺ کښې هر بدعت شرعي ته ګمراهي ،سبب ددخول داُور دجهنم وئيلے شوے دے . اوبطور قاعده کليه فرمائی:چه وکل بدعة ضلالة اوهر بدعت ضلالت ګمراهي ده. اوبل روايت دے وکل ضلالة فی النار اوهرے ګمراهي والا به په اُور کښې وی .

شيخ المشائخ فخر المفسرين والمحدثين حضرت مولانا محمد طاهر صاحب رحمه الله پخپل کتاب ضياء النور کښې پس د تفصيل او تشريح نه فرمائي :فالحديث بلفظ العموم المحيط لكل فرد من الافراد.
حديث په لفظ د عموم سره چه احاطه کونکئ دے هر فرد د افرادو د بدعت نه راغلے دے پدے کتابونو کښې لکه په:

مستدرك ج ١ص٩٧ او مسلم ص٢٨٥ او مسند د امام احمد رحمه الله ص١٢٠ او ج ٤ ص١٢٧ او ابوداود ص٢٨٧ ج٢ او ترمذي ص٩٢ ج ٢ او ابن ماجة ص ٥ او نسائي ص١٩٧ ج ١ او دارمي ص١٢٦\٢٨ او كتاب البدع والنهى عنها ص ٢٣ او تنبيه الغافلين دابوالليث باب العمل بالسنة او صفوة الصفوة ص١٦١ج١: او مجالس الابرار ص١٢٣ او ابن عساكر رحمه الله او لالكائي رحمه الله او ابوالنصر السنجري رحمه الله او دلائل د بيهقي رحمه الله او الاعتقاد.
کښې رانقل شويدي لکه چه په الباعث على انكار البدع والحوادث ص٧ کښې دي. (ضياء النور ٩٠)
حضرت امام سرهندي مجدد الف ثاني رحمه الله د هغه کسانو په ترديد کښې چه بدعت کښې حسن ويني داسے فرمائي :

اما اين فقير درين مسئله باايشان موافقت ندارد و هيچ فرد بدعت را حسنه نمى داند و جز ظلمت وكدرورت دران احسان نمى نمايد.

قال عليه وعلى اله الصلوة والسلام كل بدعة ضلالة الخ.

(ج٢ص٣٨ مكتوبات بحواله ضياء النور ص٩٢ و كذا في المنتخبات ص١٩٢ من المكتوبات)

"لیکن دافقیر په دے مسئله کښې سره ددغونه موافقت نه لری اوهیچ یوبدعت لره حسنه نه گڼری اوبغیر دتورتم اوخړوالی نه په دغه کښې څه نه بیامومی نبی ﷺ فرمائی چه بدعت گمراهی ده .

هم دغه رنگے امام موصوف فرمائی :په بل مقام کښې :

اما این فقیر در هیچ بدعتے ازین بدعت ها حسن ونورانیت مشاهده نمی کند وجز ظلمت وکدورت احسان نمی نماید. (المنتخبات من المکتوبات للمجدد الالف الثانیؒ ص۱۰۰) "

دافقیر په هیڅ بدعت کښې دد ے بدعتونو نه حسن اونورانیت (رنړا) نه وینی اوبغیر دتورتم اوخړوالی نه نه احساسه وی .

امام شهید محمد اسمعیلؒ پخپل تصنیف کښې فرمائی:

وکسیکه بدعت مخصوصه از دائره قبیح بیرون کند ودر صدد اثبات حسن آن شود اقامت دلیلے قاطع از دلائل شرعیه واجب برذمه اواست نه مانع آن مثلاً کسیکه که کذبے خاص رایافحشے خاص راتحسین کند پس اقامت دلیل قاطع عهده همان است نه عهده کسیکه ازان احتراز می کندالخ--- (ایضاح الحق الصریح ص۸۹،۹۰)

"اوهغه کسان چه بدعت مخصوصه لره ددائرے دقبح نه بهر کوی اوپه کوشش داثبات دحسن دهغه کښې وی اقامت ددلیل قاطع ددلائلو شرعیونه دهغه په ذمه واجب دے نه په ذمه دمنع کونکی دهغه نه .مثلا خوك چه یوخاص قسم دروغ لره یایے حیائی خاصے لره ښه والے ثابته وی پس ودرول دقطعی دلیل په ذمه واری دهغه باندے دےنه په ذمه دهغه چاچه دهغه نه احتراز کوی اوقباحت ئے ثابته وی "اوداهم روستو فرمائی :وهمین است مذهب حق (ایضاح الحق ص۹۰)"

ترجمه: اوهم دادے حق مذهب "

علامه قنوجی رحمه الله پس د بسط او تفصيل نه داسے فرمائي:

چه د عبارت معنی او ترجمه په داسے طريقه سره ده . "هغه چه د حديث د خطيب رحمه الله او عبارت د سيد سند رحمه الله د حاشيے د مشکوٰة او د ابن ملك رحمه الله د شرح مصابيح او د نهائي د ابن اثير جزری رحمه الله او د قاموس د مجدد الدين فيروزآبادی رحمه الله او شرح صحيح مسلم رحمه الله د قاضي عياض رحمه الله او د ترجمے د مشکوٰة د شيخ عبدالحق رحمه الله دهلوی او فتح الباری شرح صحيح بخاری د ابن حجر عسقلانی رحمه الله او د شرح اربعين نووی رحمه الله د معين ابن صفی رحمه الله او د فتاوی جامع الروايات او نصاب الفقه او مصفی او کلمات موتلفه فی المقاصد المختلفة او مکتوبات حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله تیر شو.

خلاصـه داده : که هر بدعتیکه مقابل سنت است هر گز منقسم نیست بلکه کل آن ضلالت است وآنکه منقسم است مقابل سنت نیست زیراکه حسنه مخالف سنت نمی باشد بلکه همان راحسنه گویند که موافق سنت باشد واصل ونظیر وی یافته شود۔ (ص ۵۳ تفهیم المسائل). "

ترجمه: چه هر بدعت چه مقابل د سنت دے هيچ کله (حسنه او سيئه) ته تقسيم شوے ندے بلکه هغه ټول ګمراهي ده . او هغه چه تقسيم شده دے . مقابل د سنت نه دے ځکه چه حسنه (ښه کار) مخالف د سنتو نه وی . بلکه حسنه (ښه عمل) هغه ته وئيلے شي چه موافقه د سنتو وی او اصل او نظير د هغه موندلے شي "

حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهی رحمه الله هم فرمائي د يو سوال په جواب کښې:

بد عت کوئی حسنہ نہیں اورجس کو بد عت حسنہ کہتے ہیں وہ سنت ہی ہے مگر یہ اصطلاح کا فرق ہے مطلب سب کا ایک ہے۔ (ص۱۰۲ فتاوی رشیدیہ)

"چه هیڅ بدعت حسنه نشته اوکوم ته چه بدعت حسنه وئیلے شی هغه سنت دی مګر داد اصطلاح فرق دے مطلب دټولو یو دے"

دمذکوره عباراتو نه واضحه شوه چه هیڅ یو فرد د افرادو دبدعت شرعی نه حسنه (ښه) نشی کیدے بلکه ټول آفراد دبدعت شرعی، ضلالت، اوګمراهی ده. اوولے به داسے نه وی حالانکه رسول اکرم ﷺ فرمائیلی دی:

کل بدعة ضلالة وکل ضلالة فی النار.

څرنګے چه مخکښ باحواله بیان شو. اصل که دامغالطه ځنے حضراتو ته دحضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ دقول نه راغلے ده چه هغوی خلق په شل رکعته تراویحو باندے دحضرت اُبی بن کعب رضی اللہ عنہ په امامت باندے راجمع کړے وو. نو یوځل وفرمائیل:

نعمت البدعة هذه (ص۱۱۵ مشکوۃ المصابیح ص۳۱۵ فتاوی رشیدیه)

"چه دا ښه بدعت دے" حالانکه دوئ په دے باندی ندی پوهه شوی. چه داقول دحضرت عمر رضی اللہ عنہ دلغت په لحاظ سره دے. ځکه چه مخکښ دعلماء کرامو دتعریفاتو په رڼاکښ داخبره واضحه شوے ده چه کوم فعل، قول، خیرالقرون کښ اوشی هغه بدعت اصطلاحی، ضلالت اوګمراهی نوی.

شاه محمد اسمعیل شهید صاحبؒ لیکی:

پس لابد لفظ بدعت به نسبت معنی مذکوره حقیقیه شرعیه باشد وحمل او بر همین معنی درصورت عدم قرائن خارجیه واجب واستعمال او بر غیر این معنی از قبیل استعمالات مجازیه است که احتیاج بقرائن خارجیه می دارد چنانچه درکلام حضرت امیر المؤمنین فاروق اعظم رضی الله عنه که درحق تراویح فرموده نعمت البدعة هذه واقع گردیده الخ۔۔(ایضاح الحق ص۷۷\۷۸)

"پس خامخا لفظ دبدعت په نسبت دمعنی ذکر شوے سره حقیقی شرعی دے اوحمل ددے په دے معنی باندے په وقت دنشت والی دخارجی قرینو نه واجب دے اواستعمال ددے بغیر ددمعنے دقبیلے داستعمالاتو مجازیه وئه دے چه حاجت خارجی قرینو ته لری څرنګے چه په کلام دامیر المؤمنین حضرت عمر فاروق اعظم رضی الله عنه کښں راغلی دی چه په حقِ د تراویحو کښں فرمائیلی وو چه دا ښه بدعت دے

تر دے ځایه پورے بطور مقدمه اوتمهید درسول اکرم ﷺ اتباع دقرآن عظیم الشان دآیتونو اودجناب رسالت مآب داحادیثو په رنړا کښں زیرتحریر شوه اودبدعت لغوی اوشرعی تعریفات اودبدعت حقیقی ،اواضافی فرق اودبدعت اورسم رواج تفرقه دسامعینو اوناظرینو په خدمت کښں هدیه شوله . اودبعضو خلقو دمغالطے دازالے کوشش وشو. چه بدعت حسنه هم راتلے شی اوس مناسب ګنړم چه بعض هغه بدعات ذکر کړم په کوموچه خلق ډیر ډیر مبتلاء شوی دی اوځنوکسانو پکښں خپل رزق ،روزی ،منحصره ګنړلے ده . اوچونکه دهغو مالی نقصان تاوان ئے په پریخودو کښں دے په دے اساس دمتبعینو سره زیات مخالفت ،عداوت ، دشمنی ،تربګنی ، په دغو بے اصله بے دلیله بدعاتو کښں کوی اوقسم قسم الزامات په علمآء حق لګوی اوعوام دهوکه کوی چه

دایوښه کار دے دعاء ده صدقه ده فدیه ده تلاوت دے وغیره اودوئ ترے منکر دی نه ئےمنی اودخپل زعم فاسد په بناء باندے خپل متعلقین دخدامو دکتاب مبین اوسنت سیدالمرسلین په مقابله کښې مخالفت ته تیاروی اوبدعت ورته سنت اوسنت طریقه ورته بدعت ښکاره کوی اوخوف آخرت نه لری .

افسوس چه دیوسالك په دے قول ئے په سره سینه غور کړے وے نوځه ښه به وے هغه قول دادے ....

ولے ګډه وے بدعت سنت دمصطفیٰ سره
مخ به لګوے صبا محشر کښې مجتبیٰ سره

① دجنازے دمونځ نه بعد د دُعاء بیان

دجنازے مونځ دمسلمان دحقوقو نه یوحق دے دکومو حقونوذکر چه په حدیث نبوی ﷺ کښې مفصل راغلے دے.

په یوروایت کښې اتباع الجنائز راغې (پیروی دجنازو) اوبل روایت کښې راغې اذامات فاتبعه چه کله مسلمان وفات شي نوورپسے شي دمانځه اوتدفین دپاره .دواړه روایات په حاشیه[1] باندے کتلے شي ملاعلی قاری رحمه الله داتباع الجنائز معنی داسے لیکی :

ای جنازته للصلوة علیه وللدفن اکمل (المرقاة ج۳ص ۳۴۷)

---

[1] وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ حق المسلم علی المسلم خمس رد السلام وعیادة المریض واتباع الجنائز واجابة الدعوة وتشمیت العاطس متفق علیه مشکوة المصابیح ج۱ص ۱۳۳ وعنه قال قال رسول الله ﷺ حق المسلم علی المسلم ست قیل ماهن یارسول الله قال اذا لقیته فسلم علیه واذا دعاك فاجبه واذا استنصحك فانصح له واذا عطس فحمدالله فشمته واذا مرض فعده واذامات فاتبعه رواه مسلم -مشکوة ج۱ص ۱۳۳

"چه دمسلمان ورور په جنازه پسے ورپسے شه دپاره دمانځ کولو په هغه باندے اودهغه دخخولو دپاره اوداپوره حق اداکول دهغه دی "
اوده جنازے مونځ اصل کښ عبارت دے ددعاءنه څرنګے چه ددریم تکبیر نه بعد کولے شی اوددغه دعآء دپاره ترغیب ورکړے دے جناب رسول الله ﷺ په دے مبارکولفظونو سره لکه چه ارشاد کوی:

اذاصليتم على الميت فاخلصواله الدعآء (عن ابی هريرة رضی الله عنه) [۲]

"کله موچه مونځ کولو په مړی باندے پس اخلاص کوی دهغه دپاره په دعاء باندے "حضرت شیخ الحدیث مولانا قاضی شمس الدین صاحب رحمه الله فرمائی چه داحدیث چلیدلے دے دپاره داخلاص ددعاء دمړی په مابین دمانځه دجنازے کښ ....اوددے مثال داسے دے لکه چه په محاوره دعربو کښ وئیلے شی:

اذاتوضأت فاغسل وجهك واذا صليت فاحسن الركوع والسجود.

"معنی ئے داده چه کله اراده داودس وکړے نومخ پکښ وینځه اوچه کله مونځ کوے نورکوع سجده پکښ ښه وکړه .نوهم دغسے مطلب دحدیث پاك دادے چه په جنازه کښ داخلاصه ډکه دعآء دهغه دپاره وکړه نه پس دجنازے نه.

(ا) لاكمازعمه المبتدعة من معاصرنا (التعليق الفصيح ج۲ ص ٥٩ للقاضی المرحوم ١٤٠٥ھ)
"اودامطلب ئے نه دے څرنګے زمونږه دهم عصر مبتدعینو خیال دے "

---

(۲) ابوداود ص ٤٥٦-ابن ماجة ص ١٠٩- مشكوة المصابيح ص ١٤٦ باب المشي بالجنازة

دجنازے دسلام گرزولونه بعد چه کومه مروجه فاتحه اودعاءده چه امام یا بل یوغږوکړی چه ده د عاجزپه حق کښی دعاء وکړی دامکروه اوبدعت اوزیادت دے په جنازه کښی اوثبوت ئے دمشفق اعظم ﷺ نه ندے راغلے لکه دعلماء کرامو اوفقهاؤعظامو عبارات پرے دلالت کوی. ملاعلی قاری رحمه الله لیکی :

۲. ولایدعواللمیت بعدصلوة الجنازة لانه یشبه الزیادة فی صلوة الجنازة [۱]

"اودعاء به دمړی دپاره پس دمانځه دجنازے نه نه غواړی ځکه چه دامشابهت لری دزیادت والی سره په مانځه دجنازے کښی علامه ابن نجیم حنفی هم تحریر کوی چه پس دسلام نه به دعاء نه غواړی عبارت ئے دادے.

(۳) لانه لایدعوابعدالتسلیم [۲]

"دغه رنګے صاحب ددرمختار خپله فیصله په داسے طور پیش کوی :

(۴) ویسلم بلادعاء بعدالرابعة [۳]

"اوسلام به ګرزوه وی پس دڅلورم تکبیرنه بغیرددعاء کولونه"

علامه ابن البزازالکردری رحمه الله المتوفی ۸۲۷ھ صاحب دبزازئے داسے نوټ کوی :

(۵) لایقوم بالدعاء بعدصلوة الجنائزلانه دعا مرة لان اکثرها دعاء [۱]

[۱] المرقات شرح المشکوة للقاری المتوفی ۱۰۱۴ھ کذافی هامش المشکوة ج۱ص ۱۴۷
[۲] البحر الرائق ص ۱۸۳ شرح الکنز الدقائق للعلامة ابن نجیم المتوفی ۹۶۹ھ
[۳] الدر المختار علی هامش الشامی ج۱ص ٦٤٤
[۱] بزازیه بهامش هندیه ج۱ص ۸۰-

"چه اهتمام د دعآء په پس د مانځه د جنازونه نه کوی ځکه چه ده يوځلے دعاء کړيده ولے چه زياته حصه د مانځه د جنازے دعاء ده"
مطلب دا شه چه مانځه د جنازے کښې د سلام نه مخکښې دعاء وشوه اوس د سلام نه بعد به دعآء باندے راتګ نه کوی ځکه چه دعاء پسے دعاء کول به تسلسل ته ورسيږی .
جناب مفتی محمد شفيع ديوبندی صاحب رحمه الله فرمائی چه د دعاء بعد الجنازه ثبوت د رسول اکرم ﷺ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ندے راغلے لکه د يو سوال په جواب کښې ليکی :
(٦) الدعآء للميت وقراة شيئ من القرآن بعد صلوة الجنازة لايصال الثواب الى الميت لم يثبت عمن هو اشفق على امته واله واصحابه من سائر الاباء والامهات ولاعن احد من خلفائه الراشدين رض ومن بعدهم من الصحابة رض والتابعين رح فلو كان فى ذالك حسن لسبقونا فعرفنا من ههنا انها بدعة وضلالة وليس بعمل صالح قد قال فيه تبارك وتعالى لايضيع عمل العاملين[1]
"دعاء کول د مړی د پاره او لوستل د څه حصے د قرآن مجيد نه پس د مانځه د جنازے نه د پاره د ثواب رسولو د مړی نه دی نقل شوی د هغه ذات نه چه هغه ډير شفيق (مهربانه) په امت او اولاد او اصحابو خپلو د نورو پلارانو او ميندو نه او نه دی را نقل شوی د هغه صحابه و او تابعينو نه چه پس د هغوی نه دی کچرے پدے کښې څه حسن (ښه والے) وے نو خامخا به هغوی سبقت کړے وے دے ته په مونږه باندے پس

[1] امداد المفتين ص ۵۱۷ قد صرح به خلاصة الفتاوی ج۱ ص ۲۲۵-

معلومه کړله مونږه چه دغه بدعت او ګمراهي ده او عمل صالح نه دے دکوم په باره کښې چه الله تبارك وتعالى فرمائى چه هغه عمل دعمل کونکونه برباده وى "

حاصل داشه چه دپيغمبر ﷺ نه زيات شفيق بل څوك نشته او دهغوى نه بعد صحابه کرامونه غير بل څوك احرص الناس بالخير نشته نوچه ددوى نه ئے ثبوت نشته نومعلومه شوه چه هيڅه خير په دغه فاتحے اودعاء بعدالجنازه کښې نشته اګرچه دبعض په ذهين کښې دااحسن اوښه دى خوحسن اوښه والے هغه دے چه دحضوراکرم ﷺ اواصحاب کرامو رضي الله عنهم په نزد ښه وى نه هغه چه دزمان حال په ناقصو فکرونو کښې وى.

(۷) حضرت مولانا شيخ الحديث والقرآن مولانا عبدالسلام صاحب رحمه الله ليکلى دى چه حاصل دعبارت ئے په دے طورسره دے :چه نبى كريم ﷺ اوصحابه كرامو رضي الله عنهم اوتابعينو رحمهم الله ګنړمونځونه دجنازوکړى دى اوديوتن نه هم دانه نقل شوى چه دجنازے دسلام ګرځيدونه ئے بعد دعاء کړيده.

فعدم النقل عن الشارع يدل على انه بدعة سيئة لان البدعة فى العبادات لاتكون الاسيئة كمافى اكام النفائس ومجالس الابرار.

(التبيان فى تفسيرام القرآن ص۱۷۰\۱۷۱)

"پس عدم نقل ديوشى دشارع نه په دے خبره دلالت کوى چه دغه ناکاره بدعت دے ځکه چه بدعت په عباداتو کښې نه وى مګر ناکاره څرنګے چه راغلى دى په اكام النفاس كښې (کتاب)اومجالس الابرار (کتاب)کښې "

اوبيا ددعاء بعدالجنازه په مکروه والی اوبدعت والی داوؤکتابونو حوالے پیش کړی دی [۱]

(۸)هم دغه رنګے حضرت مفتی رشید احمد لدهیانوی رحمه الله په خپل تالیف احسن الفتاوی کښ داسے قسم دعاء ته مکروه اوبدعت وئیلے ده اوښه تفصیلی کلام ئے کړے دے اوډیر علماء کرامو په حواله ئے خپله مدعی ثابته کړیده لکه چه فرمائی چه ددریمے صدی هجری فقیه امام ابوبکر بن حامد رحمه الله فرمائی :

(۹)ان الدعاء بعد صلوة الجنازة مکروه [۱]

"یقینی چه دعاء کول پس دمانځه دجنازے نه مکروه دی "

(۱۰)شمس الائمة حلوائی رح المتوفی ۴۵۴ھ اوشیخ الاسلام علامه سعدی رح متوفی ۴۶۱ھ فرمائی : لایقوم الرجل بالدعاء بعد صلوة الجنازة (قنیه ج۱ص۵۲)

"چه نه به ودریږی په دعاء سره بعد دمانځه دجنازے نه "(یعنی دعاء به نه کوی په اهتمام اواجتماعی طور سره)

(۱۱)وفی الفتاوی السراجیة اذافرغ من الصلوة لایقوم داعیاله.

(فتاوی سراجیه مع قاضی خان ج۱ص ۱۴۱بحواله احسن الفتاوی ص۱۱۷)

اوپه فتاوی سراجیه کښ دی چه کله فارغه شی دمانځه دجنازے نه نه به ودریږی دعاء کونکی دمړی دپاره "(یعنی رسمی ،رواجی ،اجتماعی ،دعاء به نه غواړی)

اوبیا روستو دمتعدد کتابونو په حواله لکه:

---

(۱) البحرالرائق ج۳ص ۱۸۳-المرقاة -وجامع الرموز ج۱ص ۱۲۵-والشامی -والسراجیه ص ۱۳۳\۶؛ومظاهرالحق ج۲ص ۵۷ونفع المفتی والسائل ص۶۱-

(۱) الفوائدالبهیة ج۱ص۱۵۲بحواله احسن الفتاوی ص۱۱۷وکذافی المحیط بحواله تحقیق الدعاء ص۵۲-

خلاصة الفتاوى، كتاب المدخل، فتاوى برجندى، فتاوى برهنه، مجموعه خانى، مظاهرالحق شرح المشكوة، نفع المفتى ليكى چه: په دے كتابونو كښ ددے ممانعت منقول دے (احسن الفتاوى ص۱۱۸)

(۱۲) مولانا حكيم سيد عزيزشاه صاحبؒ پخپل قابل ديد تصنيف كښ چه په دے مسئله باندے تصنيف كړيدے او دمسئلے ددعاء بعد الجنازه حق ئے اداكړے دے دډيروعلماء كرامو تقاريظ ئے پرے ليكلى دى اوتقريبا يويشت ثبوتونه ئے دمختلفو كتابونو نه په كراهت اومنع والى ددے مصنوعى دعاء چه مروجه دمونځ دجنازے نه ده پيش كړى دى. [1]

قاضى ثناء الله پانى پتى رحمه الله فرمائى:

(۱۳) بعد تكبير چهارم سلام گويد وبعد ازاں هيچ دعاء نخواند. [2]

"پس دڅلورم تكبيرنه به سلام وائى (گرزوى) اوپس دهغه به هيڅ دعاء نه لولوى"

(۱۴) حضرت مولا نا مفتى محمد سعيد صاحبؒ ميانى ضلع سرگودها هم پخپل كتاب (خير الهدى فى صلوة الميت والدعاء) كښ د مبتدعينو دوهمونو دندان شكن جوابات كړيدى اوبيائے اپيل كړے دے چه راشى اودضد اودعناد چشمے لرى كړى اوزمونږه په دلائلو اوبراهينو په يخ زړه سره غو روكړى:

[1] رساله تحقيق الدعاء بعد صلوة الجنازة من ص۱٤٤ الى ۹ د]-

[2] مالابد منه ص۷۰ بحواله رساله مسنونه كور د ص ٥٤-

آخر مرنا ہے اور خدائے علیم وخبیر کے سامنے پیش ہونا ہے۔

"چه اخر مرګ دے او دعلیم خبیر خدائی په دربار کښ پیشی ده"
اوبیا ئے داامامانو ،فقهآو، محدثینو، مفتیانو، حوالے په وضاحت سره پیش کړی دی (خیرالهدیٰ ص۴۶تا۵۰)

(۱۵) جناب مفتی کفایت الله صاحب رحمہ اللہ لیکلی دی: چه فقهآو کرامو رحمهم الله تعالی دمانځه دجنازے نه بعد دعآء نه مکروه مطلقا نه دی فرمائیلی بلکه دهغوی مراد دادے چه داجتماع اواهتمام سره دعاء کول مکروه دی اونفس ددعاء جائزوالے اجتماع اواهتمام لره مستلزم (لازمه ونکے) نه دے ددے خبرے تفصیل دادے چه دمړی دوقت دوفات نه بلکه دهغه دعیادت دزمانے نه ځان له ځانله ددعآء غوښتلو ثبوت په روایاتو داحادیثو اوفقیهیه وکتب موجود دے هرمسلمان لره اختیاردے کچرے هغه دکوم مریض تپوس لره لاړشی نودهغه دپاره ددعآء وکړی ددے نه پس کله چه دهغه انتقال وشی نودهغه دپاره دمغفرت دعآء وکړی ددینه بعد دپرے دجنازے مونځ وکړی ددے نه پس دخخیدو پورے اوبیا دخپل ژوند پورے دمړی دپاره دعاء کولے شی[1]

هم دغه رنګے فرمائی چه شریعت مقدسه دمسلمانانو مړودپاره ددفن کولونه مخکښ په اجتماع اواهتمام سره ددعاء کولو صرف داطریقه مقررکړیده کوم ته چه دجنازے مونځ وئیلے شی پس ددفن کولو نه

---

(۱) خیرالصلات فی حکم الدعاء للاموات ص ۲۵تا۲۶

مخکښې داجتماعي دعآء اواهتمام ثبوت صرف دجنازې مانځه دپاره د ےچه هم په حقيقت کښې دمړی دپاره ددعاء مغفرت نوم دے.

اس کے علاوہ اور جس موقع پر اجتماع واہتمام کے دعاء کی جائے اس فقہاء مکروہ وبدعت فرماتے ہیں۔ [۲]

جناب مفتی صاحبؒ دبحررائق ،مرقات ،سراجيه ،جامع الرموز، محيط ،برجندی ،عبارات زيرتحرير کړيدی کتونکی دهغو یکتاب ته رجوع وکړ ی.(کتاب مذکورہ ص۳۸)

ددغه کتاب په تکمله کښې دسلو نه زيات دمختلفو مقاماتو دلوئ لوئ علماء کرامو فتوے هم درج شوی دی چه ددغه رسمی دعآء دپاره جمع کيدل اودمړی په تدفين کښې تاخير کول شرعا چرته ثابت نه دی بلکه بدعت اوناجائزدی .فجزاهم الله تعالیٰ خيرالجزآء

(۱۲)جناب حسن وفائی شرنبلالی رحمه الله تحرير فرمائی دجنازے دسنتونو په باره کښې والدعآءللميت بعدالثالثة "[۱]

او(څلورم)سنت دجنازے دعآء ده مړی دپاره پس ددريم تکبير نه " حاصل داشه چه مسنونه دعآء دمړی دپاره په مانځه دجنازے کښې دننه ده پس ددريم تکبيرنه " بياروستو فرمائی :

ويسلم بعدالرابعة من غيردعآءفی ظاهرالرواية (نورالايضاح۱۲۸)

---

(۲) خيرالصلات فی حکم الدعاء للاموات ص۵۰ تا ص۵۳

(۱) نورالايضاح ص۱۲۷ کتاب الجنائز-

"اوسلام به گرزه وی پس دخلورم تکبیر نه بغیر ددعآء کولو نه په ظاهر الروایة کښې" (یعنی دمذهب په روایت کښې)

(۱۷) حضرت مولانا خیرمحمد صاحب جالندهریؒ هم دمروجه دعآء منع والے لیکلے دے:

نماز جنازہ کے بعد ہاتھ اٹھا کر دعاء مانگنا جائز نہیں۔

"دمانځه دجنازے نه بعد لاس اوچت کول اودعاء غوښتل جائز نه دی (وګورئ ذکرشوی کتابونه[1])

(۱۸) علامه ابن الحاج رحمه الله خپل کتاب المدخل کښې دتنبیه په طور سره لیکلی دی:

ان بعض من یعتنون به من الموتیٰ یترکونه بعد ان یصلی علیه فی المسجد ویقفون عنده یدعون ویطولون الدعآء .

یقینا بعض دمقصودی مړونه پریږدی خلق پس دمانځه نه په هغه باندے په جمات کښې اوخلق ئے په خواکښې اودریږی اودعآء کوی اوږده وی دعآء لره "

بیاروستو فرمائی چه په دے سره تاخیر دمړی په تدفین کښې راځی اوداخلاف سنت عمل دے .

والسنة التعجیل بالمیت ای دفنه ومواراته وفعلهم بضدذلك فلیحذر من هذا[2]

---

(۱) سراجیه ص ۲۳ - خلاصة الفتاوی ص ۲۲۵ - انواع بارك الله ص ۲۵۸ - بحواله نماز حنفی ص ۳ طبع امدادیه ملتان -

(۲) المدخل لابن امیر الحاج ج ۳ ص ۲۱۲ طبع مصطفی مصر -

"اوسنت طريقه جلدي كول دي په مړي باندے يعني په خخولو اوپټولو دهغه اوددے خلقو فعل په ضد دسنت طريقے دے پس ويره كول پكار دي ددينه "

(۱۹) جناب مفتي عزيزالرحمنؒ صاحب ديو سوال په جواب كښې فرمائي :چه په مړي باندے ثناء خير ښه ښه اوصاف ئے ذكركول اومثلا داوئيل چه دامړي ښه سړے وو مونځ گزاروو وغيره وغيره الله تعالى دده مغفرت نصيب كړي.

تواس لئے اجتماع بقصد دعاء اور اہتمام دعاء کا بھی بہئیت خاصہ ثابت نہیں ہوتا۔

(عزیزالفتاوی ص٣٣٧)

نوددغه نه جمع والے په قصد ددعاء اواهتمام ددعاء په خاص هيئت سره نه ثابتيږي "

(۲۰) صاحب دخلاصة الفتاویٰؒ داسے ليكلي دي :

لايقوم بالدعاء بعد صلوة الجنازة (خلاصة الفتاوی ص٢٢٥)

"چه ددعاء اهتمام به پس دمانځه دجنازے نه نه كوي"

لهذا مونږه لره پكاردي چه دځان نه ددين نه جوړوبلكه دسنت طريقے پيروكار شو .

شوق رکھ سنت گرامی سے ہے شرف آپ کی غلامی سے

دغه څواقتباسات دعلماء دين اوخدام شرع متين ووچه دتائيد په طور دكتونكو په حضور كښې نذرقلم شو چه داخبره ترينه واضحه شوه چه دمړي دپاره شريعت مقدسه اجتماعي دعاء دجنازے په شكل كښې خودلے ده ځكه چه جنازه اصل كښې عبارت دے ددعاء نه اودسلام

ګرځیده نه بعد بیا دمړی خاوروته سپارل اوپه دے باندے جلدی کول اوتاخیر نه کول سنت طریقه ده اوپه مروجه دعاء کولو کښې زیادت په شرعی طریقه کښې اومخالفت دسنت طریقے نه دے لهذا ددے په بدعت والی کښې څه شك دے چه حضور اکرم ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم نه ندی نقل شوی اوحال دادے چه هغوی احرص الناس بالخیر وو.

دحافظ عمادالدین ابن کثیر رحمه الله حواله مخکښې هم ذکر شویده چه اهل سنت اوجماعت په هر قول اوفعل کښې وائی چه دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه نوی نقل شوی دا بدعت دے ځکه چه کچرے دغه قول اوفعل ښه وے نوصحابه و رضی الله عنهم به ورته زمونږه نه سبقیت کړے وے ځکه چه:

لانهم لم یترکوا خصلة من خصال الخیر الا وقد بادروا آلیها (ابن کثیر ج۳ ص۱۵۶)

دوی ندے پریخودے یوخوی دکارونو دنیکی نه مګر مخکښې والے ورته کړیدے"

ددفن کولو نه پس دعاء

البته چه دمړی په ښخولو سرعت وشی اودتدفین نه ئے فراغت حاصل شی نو دتثبیت دپاره او دمغفرت دپاره ورله دعاء ثابته ده.

عن عثمان رضی الله عنه قال کان النبی ﷺ اذا فرغ عن دفن المیت وقف علیه وقال استغفروا لاخیکم واسئلوا له بالتثبت فانه الان یسأل[1]

[1] سنن ابی داود ص۴۵۹-الجنائز ومشکوة المصابیح ج۱ص۲۶باب عذاب القبر-المرقاة شرح المشکوة ج۱ص۸۱-المدخل لابن الحاج ج۳ص۲۷۷-تفسیر ابن کثیر ج۲ص۳۸۰سورة التوبة-

"دحضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه روایت دے وائی چه وو نبی کریم ﷺ چه کله به فارغه شولو دخښولو دمړی نه نو دقبرخواته به ئے ودریدو اوبه ئے فرمائیل :چه ښښنه وغواړی دوړور خپل دپاره اوسوال وکړی دده دپاره د مظبوط والی په جواب کښے ځکه چه دده نه اوس تپوس کولے شی "

افسوس خودادے چه دین خوهغه دے چه خیرالقرون کښں وونه هغه چه روستوخلقو دځان نه جوړ کړی وی.

بقول امام مالك رحمہ اللہ : مالم يكن يومئذ دينا لايكون اليوم دينا .

(امدادالمفتین ص ٦۵)

"چه کوم شے هغه دور کښں دین نه وو نو اوس دور کښں به هم ددین نه نوی "

لیکن نن خلق برعکس روان دی سنت ورته بدعت اوبدعت ورته سنت ښکاری اوعجیبه داده چه دعوی دصحیح والی هم لری :

ترسم که به کعبه نرسی ای اعرابی — این راه که تو میروی به ترکستان است

مخکښں ذکرشویدے چه بدعت وی ناکاره اوممنوعه وی اوهیڅ حسن پکښں نه وی اګرچه دچا په عقل کښں ښه ښکاریږی خوښه عمل هغه وی چه شرعے ورته ښه وئیلے وی.

قاضی بیضاویؒ فرمائی:

وهی من الاعمال ماسوّغه الشرع وحسنه (بیضاوی ج۱ص۴۷) "

اوصالح اونیك عمل دعملونو نه هغه دے چه رواکرے وی شرعے اوښه ئے ګرزه ولے وی "

ورنه بیا خوداختر دمونځ دپاره اذان اواقامت کول پکارووادداخته دمونځ نه مخکښں به نفل هم رواوے اوپه رکوع کښں په ځائے دتسبیح

تلاوت هم روا وے اوقعده اولی کښې به ددریم رکعت دپاځیدو نه مخکښې درودشریف وئیل هم صحیح وے حالانکه دغه ټول ممنوعه دی اګر چه اذان اقامت نفل تلاوت درودشریف دثواب عملونه دی خو په خپل خپل مقام کښې نه دلته ځکه چه دشریعت نه ددے ځیزونو ثبوت په دے ځایونو کښې نه دے راغلے .

(۳) اسقاط مروّجه

دجنازے دمانځه نه بعد یوبل بدعت په شدمد سره شروع دے چه مالګه ،یاصابون ،وغیره په جنازګاه کښې ډیرې کړئ اوځه روپئ اوقرآن عظیم الشان پرے دپاسه کیدی اوځه الفاظ مخترعه ګیت پرے وائي اودوی ورته په خپله اصطلاح کښې "قبض"وائی
په پردی مال سخیان شی اویوبل ته ئے بخی اودغریب اودغنی فرق پکښې نوی اودقبض نه بعد هغه مال بیاتقسیمیږی اوچه په کوم مړی داعمل ونشی نونهایت خفه کیږی اودغه سخاطیان شور جوړکړی چه مونږه بیا ځله راغواړ ی.
بهرحال دائے دمړی دنجات یوه ذریعه بلکه دخپل ځان دپاره دګټلویوطریقه جوړه کړیده دقبض الفاظ دپاره مستقل مشر صدروی دهغوالفاظونه بعض ګیت دادے چه بعض حضراتوچهاپ کړے هم دے (دفرضودواجبودسنتودمستحبوبلکه دجمیع کفاراتوچه لازم شویدی په ذمه ددے حاضر متوفیؓ بنائیږی دشان دمسلمان سره چه اکثر به ئے ترے اداکړی اوبعض به ترینه فوت شوی وی اوس د اداۤء دمافات ځنے عاجزدے دامال قلیله سره ددے کتاب الله نه چه غبن فاحش دے ماقبول کړے ماتاته دربخلے)

دحیلے اسقاط مروّجه مفاسد

کوم کس لره چه الله رب العزت علم شرعی اوعقل سلیم ورکړے وی هغه پوهیږی چه نن صبا په عوامو کښې دحیلے اسقاط یاقبض یادور کومه طریقه مروجه شروع ده داپه کنړومفاسدوخلاف سنت خلاف شریعت امورومشتمله ده اوولے به نوی چه حضور اکرم ﷺ اودهغوی دوارثانو نه منقوله نه ده .

بنده ناچیزمؤلف کتاب دحیلے کمے مطالعے باوجود لاندینی خرابی اومفاسد پکښې لیدلی دی چه اجمالاً دسنت مئینو ورونړو په خدمت کښې عرض کولے شی .

(۱) په دے کښې تاخیرکول دی په خښولودمړی کښې .

(۲) خاص کول ددغے ورځے دی په تقسیم دفدیے پورے

(۳) خاص کول ددغه مکان یعنی "جنازګاه" دی په فدئے ویشلوپورے

(۴) عقیده ساتل دی په دغه وخت پورے چه دے کښې ډیر ثواب دے

(۵) کله پکښې دیتیم مال تقسیمیږی .

(۶) دغه رنګے دوارث غائبه مال پکښې هم وی .

(۷) بغیر وصیت دمړی نه دفدئے ورکول التزام کول.

(۸) دفدئے ورکول پکښې غنی لره.

(۹) دمقدارشرعی نه کم ورکول .

(۱۰) دوصیت دمقدار یعنی ثلث (دریمے حصے) نه نه ورکول

(۱۱) ټول ارکان هم فقیران نه وی .

(۱۲) طیب نفس دولی هم نه وی بلکه دشرم دوجهے نه مال حاضره وی.

(۱۳) ددائرے فقیر بغیر درضاء قلب بخی دسرماتی نه ویریږی .



(۱۴) په دے کښې رجوع په بخښلی شوی شئ کښې ده .
(۱۵) اکثر د ریاء او د شهرت د پاره وی .
(۱۶) په دے کښې حیلے جوړل دی خلقو د مال د پاره په باطلے طریقے سره .
(۱۷) په دے کښې حلال ګڼړل دی دهغه چه خدائی حرام کړی دی .
(۱۸) بار بار یعنی په هرمړی کښې مکر او دهوکه کول دی .
(۱۹) فقیر ته ورکول دی په داسے طریقے سره چه تملیك پکښې نه رازی.
۲۰.داحیله غیر شرعیه ده .
۲۱. په دےکښې استهزاء ده په قرآن پاك پورے .
(۲۲) هم په دے کښې دعوامو عقیده برباده ول دی .
(۲۳) چه داحیله ئے پس دمرګه کیږی نو دلیره کول دعوامو دی په ګناهونو باندے .
(۲۴) په دے کښې داعقیده ساتل دی چه دادور دضروریاتو دتکفین اوتجهیز دمړی نه دی .
(۲۵) ددے ثبوت دمشفق اعظم جناب رسول الله ﷺ نه نه دے راغلے .
(۲۶) ددے نقل داحرص الناس باالخیر چه صحابه کرام رضی الله عنهم دی ندے راغلے .
(۲۷) مال تقسیمه ول دی اګرچه مړے قرضدارے وی .
(۲۸) شریك مال ویشل دی په دے کښې مخکښې دتقسیم نه.
(۲۹) دماشوم نه چه غیرمکلف دے هم ځنې مقاماتوکښې څه ویشی.
(۳۰) دباجوړ په علاقه کښې دمالګے راویستل اوخاص کول دقبض دپاره وغیره وغیره .دغه تقریبا دیرش نقصانات ووچه اجمالا ذکر شو

اوس مناسب ګنړو چه دبعض مفاسدو ذکر شوو باحواله وضاحت اوشي .

(١) په مروجه دائرے سره اوبيا په مال تقسيمه ولوسره تاخير دمړی په تدفين کښ راځی حالانکه ابوهريره رضي الله عنه روايت کوی چه :

قال قال رسول الله ﷺ اسرعوا بالجنازة فان تك صالحة فخير تقدمونها اليه وان تك سوى ذلك فشر تضعونه عن رقابكم [١]

"رسول الله ﷺ ارشاد کړيدے چه جلدی وکړی په خښولو ده مړی باندے که چرے نيك عمله وی نوډ لره خير دے چه مخکښ کوی ده لره هغه خير ته اوکه چرے غير ددے نه وی يعنی نيك عمله نوی نو شر دے چه کيدی دخپلونوخپلونه "

علامه بدالدين عينی رحمه الله ددے حديث مبارکه په فوائدوکښ ليکی:

وفيه استحباب المبادرة الى دفن الميت بعد تحقق موته [٢]

"چه په دے حديث کښ استحباب دجلدی کولو دے خښولودمړی ته ليکن پس دثبوت دمرګ دهغه نه "

علامه ابن الهمام حنفی رحمه الله هم درج کړيدی پس دنقل ددے حديث نه: ويستحب الاسراع بتجهيزه كله من حين يموت (فتح القدير ج١ص٣٦٩)

---

(١) بخاریؒ ج١ص ١٧٦باب الجنائز-مسلمؒ ص٣٠٦\٣٠٧-ابوداودؒ ص٤٥٣ج١-ترمذیؒ ص١٥٣الجنائزنسائیؒ ٢٢٠-ابن ماجةؒ ص١٠٧-طحاوی ج١ص٣٢٢-موطاامام محمدرح ص١٦٧-مشکوة ج١ص١٤٤-

(٢) عمدة القاری ج٨ص١١٧طبع احياء التراث العربی بيروت لبنان-

اومستحب دی جلدی کول سنبالولودمړی په تولوکارونوباندے دوقته دمرګ دهغه نه دغه رنګے ابن نجیم شارح کنز رحمه الله نوټ کوی:

والافضل ان یعجل بتجهیزه کله من حین یموت (البحرالرائق ج۲ص ۱۹۰)

"اوبهتر دادی چه دمړی په تیارولوتولوباندے جلدی وشی کله چه مړشی"

هم دغه شانے دحصین بن وحوح رضی الله عنه نه روایت دے چه طلحة بن البرآء رضی الله عنه مریض ووجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ئے بیمار پرسی لره راغلے وو:

فقال انی لاآری طلحةرضالاقد حدث به الموت فاذونی فانه لاینبغی لجیفة مسلم ان تحبس بین ظهرانی اهله[1]

نووے فرمائیل چه څه خیال نه کوم په طلحهؓ باندے مګر چه مرګ پرے نازلیدونکے دے پس ماله خبر راکړی ځکه چه مناسب نه دی جثے دمړی لره چه حصاره شی پخواد خپلوانوکښ"

(۲)بله داچه تخصیص داوقاتو،مکاناتو،دعبادت دپاره داحق دشارع دے دخانه خاص کول خلاف شریعت دی.

وعن ابی هریرةرضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایصوم احدکم یوم الجمعة الاان یصوم قبله اویصوم بعده (متفق علیه مشکوة ج۱ص۱۷۹)

"دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه فرمائیلے دی رسول الله صلی الله علیه وسلم اوروژه دنه نیسی یوکس له تاسو نه دورزے د جمعے مګرکه روژه ونیسی مخکښ ددے نه اویاروژه ونیسی پس ددغے نه"

[1] ابوداود ج۲ص ۹۱،۸۵-مشکوة ج۱ص۱۴۱-موضوعات کبیر ص۳٦-

وعنه قال قال رسول الله ﷺ لاتختصوا ليلة الجمعة بقيام من بين الليالى ولاتختصوا يوم الجمعة بصيام من بين الايام الا ان يكون فى صوم يصوم احدكم (مسلم. مشكوة ج١ص١٧٩)

"او بل روايت هم دابوهريره رضی الله عنه نه دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه مه خاص کوئ شپه دجمعے دمانځه دپاره دمينځ دنوروشپونه اومه خاص کوئ ورځ دجمعے په روژه سره دمينځ دنوروورځونه مګر که وى دجمعے روژه په عادتى روژه ديوکس ستاسونه چه دپخوانه ئے نيسى "

دمخکښې رواياتونه ثابته شوه چه روژه اومونځ ځومره قيمتى عبادتونه دى دجمعے په ورځ اوشپے پورے ندى خاص کول پکار حالانکه چه جمعه سيدالايام هم ده نو معلومه شوه چه تخصيصات دځانه ممنوع دى دحديث پاك په فوائدو کښې محدثين حضرات رح داهم ليکى چه:

والثالث ان سبب النهى خوف اعتقاد وجوبه (١)

"اودريمه وجه داده چه سبب دمنع والے ددے تخصيص ويره دعقيدے دواجب والى ددے ده "

مطلب داچه داعقيده دعوامو به راشى چه نوافل دجمعے دشپے اوروژے دجمعے دورزے ګوندے واجبے دى نودے وجے نه ترے نه منع راغله .دغه شانے په مذکوره مسئله کښې ددے عقيدے خطره ده چه ګوندے فديه تقسيمه و ل دمرګ په ورځ په جنازه ګاه کښې دى اوبس لکه چه

(١) هامش مشكوة ص١٧٩- وبمثله فى المرقاة ج٤ص١٩٦-

دډيروعوامو دحالﷺ مشاهده کيږي چه دغه وقت نه روستوهډودفدئے
ورکو لو خيال نه لري.

د يتيم د مال خوړلوممانعت

قرآن حکيم اواحاديثودنبي کريم ﷺ کښې ديتيم دمال حفاظت اوپه
هغه باندے دظلم ممانعت اوديتيم سره دښه سلوك وصيت باربار
راغلے دے دټولوذکرکولونه يولوئ کتاب جوړيږي صرف دنمونے دپاره
څوآياتونه مقدسه اواحاديث مبارکه نقل کولے شي.

(۱) اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ؕ وَ
سَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا ۝ (سورة النساء ۱۰)

"يقينا هغه کسان چه خوري مالونه ديتيمانانو په ظلم سره يقينا
راجمع کوي په ګيډو خپلوکښ اُوراويقينا داخل به شي اُورته"

(۲) وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ[1]

"اومه نزدے کيږي مال ديتيم ته مګر په هغے طريقے سره چه هغه ښه وي
تردے چه وريسيږي خوانے خپلے ته"

(۳) كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ۝ وَ لَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۝ وَ تَاْكُلُوْنَ
التُّرَاثَ اَكْلًا لَّمًّا ۝ وَّ تُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ۝ (سورة الفجرمن ۱۷الی ۲۰)

ندہ داسے څه رنګے چه ستاسوخيال دے بلکه تاسو عزت نه کوي د يتيم
اوتيز ی نه ورکوي په خوراك دمسکين او خوري ميراث (دمړي مال) په
خوړلوډيروسرهٔ"ياګډوډ سرهٔ"اومينه ساتي دمال سره مينه زياته"

---

[1] سورة الانعام ۱۵۲- و کذافی سورة الاسراء ۳۴-

(۴) فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ۝ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ ۝ فَكُّ رَقَبَةٍ ۝ اَوْ اِطْعٰمٌ فِيْ يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ ۝ يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ۝ اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ ۝ (سورة البلد من ۱۱ الی ۱۵)

"پس ولې نه دے ختلے (دا انسان) ډيرى د کاميابى ته او تاته څه پته ده چه ډيرى د کاميابى څه ده ؟ آزاده ول د څټ (مرئى) دى او يا طعام ورکول دى په ورزے د لوږے کښ يتيم ته چه خاوند د خپلولۍ وى يا مسکين ته چه خاوروواله (يعنى په خاورو پروت) وى.

(۵) اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝ فَذٰلِكَ الَّذِيْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ۝ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۝ (سورة الماعون)

"اے خبرئے د هغه کس نه چه د روغژنتيا کوى په ورزے د بدلے پس دغه کس دے چه ديکره ورکوى يتيم ته او تيزى نه ورکوى په خوراکے د مسکين باندے"

(٦) وعن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اجتنبوا السبع الموبقات قالوا يا رسول الله وماهن قال الشرك بالله والسحر وقتل النفس التى حرم الله الا بالحق واكل الربوا واكل مال اليتيم والتولى يوم الزحف وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات (متفق عليه. مشكوة المصابيح ج۱ص۱۷)

"او د ابى هريرة رضي الله عنه نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه د اوو هلاکونو ګناهونو نه ځان وساتى . صحابه ؓ عرض وکړو چه اے د الله رسوله ﷺ چه کومے دى دغه ؟هغوى وفرمائيل :چه شرك کول د الله سره او جادو کول او وژل د هغه نفس چه حرام کړى وى الله تعالى مګر په حق سره او خوړل د مال د سود دى او خوړل د مال

دیتیم اوشاه کول کفاروته په ورزے دګنړے (جنګ) اوتور لګول په پاك لمنوایماندارو ناخبروښځو باندے.

(۷) وعن سهل بن سعد رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ انا وكافل اليتيم له ولغيره في الجنة هكذا واشار بالسبابة والوسطى وفرج بينهما شئيا[1]

"اودسهل بن سعد رضی الله عنه نه نقل دے داوائی چه رسول الله ﷺ ارشادکوی چه څه اویتیم پروش کونکے دده خپل وی اوکه دغیر وی په جنت کښ به داسے یواواشاره ئے وکړه په مسواکئے ګوتے اومینځومئے ګوتے وکړه اوددواړو مینځ کښ قدرے پراخی وکړه "

(۸) وعن ابى هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ خير بيت في المسلمين بيت فيه يتيم يحسن اليه وشر بيت فيه يتيم يساأ اليه (رواه ابن ماجة ج۲ ص ۲۲۳. مشكوة)

"اودابوهریره رضی الله عنه نه نقل دے فرمائی :چه رسول الله ﷺ ارشادکوی چه بهتر کور په مسلمانانو کښ هغه کوردے چه یتیم پکښ وی اونیکی ورسره کولے شی اوناکاره هغه کور دے چه یتیم وی پکښ بدی ورسره کولے شی "

(۹) وعنه ان رجلا شكا الى النبى ﷺ قسوة قلبه قال امسح رأس اليتيم واطعم المسكين (رواه ابن ماجة ج۲ ص ۲۲۵. مشكوة)

"اوددغه صحابی (ابی هریره رضی الله عنه) نه روایت دے چه یوسړی شکایت وکړو نبی ﷺ ته دسخت والی دزړه خپل هغو ی وفرمائیل چه مسحه کړه سر دیتیم اوخوراك ورکړه مسکین ته "

[1] رواه البخاری ج۲ ص ۸۸۲- مشكوة

دذکرشوؤ ایاتونو اوحدیثونو نه بعد څه تبصرے ته ضرورت نشته صافه واضحه شوه چه دیتیم څومره شان دے اوداسقاط عاشقان ورسره څه کوی.

یوه عجیبه واقعه

(۱۰) رساله قشیریّهٌ کښ دحمدون رحمه الله په حقله ذکرکوی چه ددوی یو دوست وفات شواودائے سرته وونوډیوه ئے مړه کړه پس حاضرینو ورته اووئیل چه په داسے وخت کښ خو په ډیوه کښ تیل زیاته ولے شی (اوتا ډیوه مړه کړه) پس هغه ووئیل دوئ ته:

الیٰ هذا الوقت کان الدهن له ومن هذا الوقت صار الدهن للورثة[1]

"چه ددے وخته پورے تیل دهغه وو اوددے نه پس تیل دورثو شو مطلب داچه مخکښ دهغه دوست تیل وو اوهغه ژوندے وو موجود وو اجازت ئے ووا وس دورثو حق شه په دے کښ غیر حاضر اویتیمانان وی نوزه دهغو تیلو بلولو ته څنګه کینم.

ماشاء الله بزرگان دین څومره احتیاط کوی اومونږه څه کوو.

ببین تفاوت راه از کجا است تا بکجا۔

د فدئے مقدار اوثبوت

دروژے دفدئے په حقله قرآن عظیم الشان کښ الله تعالی فرمائی:

---

[1] الرسالة القشيرية ص ۱۸- للامام ابی القاسم عبدالکریم القشیریؒ المتوفی ۴۶۵ھ اور اپنے پاس سے پیسے دیکر تیل منگوایا اور روشنی کی۔ اودخپل طرف نه پیسے ورکړے تیل ئے راوغوښتل اورنړانے وکړه -معارف القران ج ۲ ص ۳۱۸-

وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ (سورة البقرة ١٨٤)

"اوپه هغه کسانو چه طاقت نه لری دروژے نیولو فدیه ده چه خوراك دمسکین دے"

په مذکوره حصے دآیت کریمه کښ دشیخ فانی (نهایت بوډا) په حقله دفدئیے ذکر دے چه دروژے په بدله کښ به ئے ورکوی اومشهور قول پکښ دادے چه لایطیقونه چه طاقت دروژے نه لری یعنی لفظ دلا پکښ پټ دے اویا همزه ددے باب دپاره دسلب دے مطلب ئے دادے چه طاقت دروژے ئے ختم شوی وی بهرحال ددواړو مرادیورازی .

اودمانځه دفدئیے پحقله دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه راغلی دی.

قال لایصلی احد عن احد ولکن یطعم عنه [1]

"دوی فرمائی چه یوکس ددَبل کس نه مونځ نه کوی بلکه طعام دے ترے نه ورکوی "

فقهاء کرام دفدئیے په حقله داسے فیصله لیکی :

ومن مات وعلیه قضاء رمضان فاوصیٰ به اطعم عنه ولیه لکل یوم مسکینا نصف صاع من براوصاعا من تمراوشعیرلانه عجزعن الاداء فی اخرعمره فصار کالشیخ الفانی.

اوخوك چه مړشو اوپه ده قضاء روژے درمضان وے پس وصیت ئے وکړو طعام به ورکوی ولی دده دهرے ورځے دپاره مسکین ته نیم اوګے غنم یاپوره اوګے دکهجورویادوربشو ځکه چه داعاجز شو د اداء نه په

[1] مشکل الاثار ج٣ص١٤١-زیلعی ج٢ص٤٦٣-وقال الحافظ ابن حجرؒ اسناده صحیح کذافی الدرایهؒ ص١٧٧بحواله التبیان لمولانا عبدالسلام ص١٧٢وکذافی هامش الهدایهؒ ج١ص٢٢٣عن ابن عمر رضی الله عنه موقوفا-

خپل اخری عمرکښ نوشو په شان دشیخ فانی "[1]
اوچه دفدیې نه کم مسکین ته ورکړی نوفدیه نه صحیح کیږی.

ولایجوز ان یعطی کل مسکین اقل من نصف صاع "[2]
"اوروا نه دی چه ورکړی هر مسکین ته کم دنمائی صاع (اوړی)دغنمو نه اودهر مانځه فدیه پشان دهرے روژے ده لکه چه لیکی :

وفدیة کل صلوة کصوم هوالصحیح [3]
"اوفدیه دهرمانځه پشان دروژے ده اوداصحیح خبره ده "
اودصاع په حقله اندازه پدے بیت فارسی کښ راغلے دے :

صاع کوفی هست ای مرد فهیم　　دوصد وهفتاد تولہ مستقیم
باز دینارے کہ دارد اعتبار　　وزن آن آزماشہ دان نیم وچهار[4]

مطلب ئے دادے چه دکوفی صاع (اوړی)اندازه دوه سوه اویا تولے دی اوددینار اندازه څلور نیمے ماسے دی .
فائده: کوم پوخ سیر چه بادشاه صاحب سوات پخپل ریاست کښ مروج کړیدے اودیوسل اتوروپو جوك دے ده هغے په حساب سره نیم شرعی اوګے پنځه پاوه پنځه تولے لس ماسے کیږی .اوکوم سیر چه دیوسل پنځه روپو جوك دے دهغے په حساب سره نیم اوګے پنځه پاوه

---

[1] هدایه ج۱ص ۲۲۲ کتاب الصوم خانیه ج۱ص ۹٦- الدر المختار ج۱ص ۱٤۵- والمراقی ۱٥٤علی الطحاوی بحواله عقدالالی ومجموعة الرسائل ص ۲٦٤\۲٦۸ -ایك روزه كافدیه نصف صاع گندم یااس کی قیمت هے :معارف القران ج۱ص ٤٤٦-
[2] البحر الرائق ج۲ص ۹۱-وفی مجموعة الرسائل لم یعتدبه ص ۲۱۲ -وفی قاضی خان یعطی کل یوم نصف صاع من الحنطة ج۱ص ۹۸-وفی المستخلص ویطعم ولیهما (المسافر والمریض) کالفطرة بوصیة ص ۳۹۵-
[3] شرح الوقایه ج۱ص ۳۱٦ کتاب الصوم- هدایه ص ۲۲۲ -وفی عمدة الرعایه ولو کان وترا-
[4] العرف الشذی ص ۵۷-

اونهـه تولے اواوه ماسے کیـږی لـیکن داحتیـاط خبـره داده چـه زیـات وركړی مثلاً كه غنم په مذكوره سير وركوی نويونيم سير دوركړی ځكه چه په زيات كښ بدی نشته (فتاوی ودودیه ص۲۱۷)

فديه حق دمسكين دے

او پوره فديه وركول پكاردى

دمخكښنى تحقيق نه داهم واضحه شوه چه فديه حق دمسكين دے ځكه خدائى تعالى پخپله فرمائى:طعام مسكين نوغنى دپاره ئے اخستل منع دى اوداهم ثابته شوه چه پوره فديه به وركولے شى نه كم مقدار اوكچرے دمقدار دفدئے نه ئے كم وركړى څه اعتبار ورله نشته اوروا نه دى اوديويو مونځ فديه پشان ديوے روژے ده اوعلاوه داچه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد وتر واجب دى اوحكم ئے پشان دفرضو دے نوبنا پدے ديوے ورزے قضاء شوو مونځونو شپږفدئے لازميږى.
لـيكن افسـوس دادے چه دمونځونو روژو حساب نه كوى خوفورى طور دنمودارى دپاره مال ويشى اواكثر داسے وى چه غنى اومخه وريز لره ډيرے پيسے وركوى اوغريب نادار لره لږے اوودادمشاهدے نه ثابته ده هر څوك ئے ليدلے شى. الاماشآء الله تعالیٰ
چندكسان به دحدود شرعيه وو پابند وى.

وصيت د دريمے حصے پورے صحيح دے

دمړى له طرفه په ميراث خور هله فديه وركول لازم وى چه كله هغه وصيت كړے وى څرنګے چه مخكښ دفقهاء كرامو دعبارت نه واضحه شوه اووصيت ددريمے حصے اوددے نه كم صحيح كيږى نه زيات.
دسعد بن ابى وقاص رضی الله عنه نه روايت دے چه څه بيمارشوم په كال

دفتح باندے په داسے بیمارئ چه مرګ ته نزدے شوم پس رسول الله ﷺ څما بیمارپرسئ لره راغے نوماورته اووئیل چه ائے دالله رسوله ﷺ څما دپاره ډیرمال دے اومیراث وړونکے م نشته سوا دلور څما نه (یعنی په ذوی الفروض کښې)ایا په ټول مال وصیت وکړم.

قال لا قلت فثلثی مالی قال لا قلت فالشطر قال لا قلت فالثلث قال الثلث والثلث کثیر الحدیث[1]

هغوی وفرمائیل چه نه ماووئیل چه ددریو حصونه په دوه حصو باندے؟هغوی وفرمائیل چه نه مااوئیل چه نمائی باندے ؟هغوی ارشاد وکړه چه نه مااوئیل چه په دوئمه حصه باندے ؟ هغو ی وفرمائیل په دریمه حصه وصیت وکړه اودریمه حصه ډیره ده "

په باطلے طریقے سره دمال دخوراک نه اجتناب

په مروجه طریقے حیله اسقاط کښې په غیر مشروعے طریقے سره مال حاصلول دی اوشریعت مطهره کښې ددے نه منع راغلے ده الله رب العزت فرمائی :

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ (سورة النساء الايه ۲۹)

"اے ایماندارو مه خورئ مالونه خپل په مینځ خپل کښې په باطلے طریقے سره مګر که وی تجارت درضاء ستاسونه "

[1] متفق علیه- مشکوة المصابیح ج۱ص ۲۶۵-

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی :دباطلې طریقې په معنی اومفهوم کښې چه:

ای بانواع المکاسب التی هی غیر شرعیة کانواع الربوا والقمار وماجری مجری ذلك من سائر صنوف الحیل الخ (تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۷۹) : ا دجولی :

"یعنی په ټولو طریقو غیرشرعیو باندې لکه قسمونه دسود؛ اوهغه چه ددې په ځائی چلیږی دباقی قسمونو دحیلونه آیت کریمه کښې منع دخوراك نه ده په باطلې طریقې سره مګر دعامې محاورې په اعتبار سره ددې معنی داده چه دچا په مال کښې په ناحق طریقې سره هیڅ قسم تصرف مه کوئ (معارف القرآن ج۲ ص۳۷۷).

په باطلې طریقې کښې حیلې هم شاملیږی دحضرت ﷺ ارشاد دې:

وعن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال لاترتکبوا ماارتکبت الیهود فتستحلوا محارم الله بادنی الحیل وهذا اسناد جید (ابن کثیر رحمه الله ج۱ ص۱۰۷)

"دابی هریره رضی الله عنه نه نقل دې چه رسول الله ﷺ ارشاد کړې دې چه مه کوی هغه چه یهودو کول پس حلال به وګنړ ی هغه چه حرام کړیدی الله تعالی په ناکاره حیلو باندې.

په بخښلی شوی شئ کښې رجوع

په بخښلی شوې شی کښې رجوع کیږی اوکه نه ؟ دافقهی ،علمی ، مسئله ده لیکن بهرحال دقبح کراهت نه نه خالی کیږی جناب رسول الله ﷺ فرمائی:

العائد في الهبة كالكلب يعود في قيئه ليس لنا مثل السوء [1]

"چه رجوع کونکے په بخښلی شئ کښ پشان دسپی دے چه رجوع کوی په قئ (گرزون) خپل کښ ندی مناسب زمونږه دپاره مثال ناکاره"

قاضی شمس الدين مرحوم فرمائی: په

(التعليق الفصيح شرح مشكوة المصابيح ج۲ ص۱۴۴) کښ

چه داحديث دلالت په ډيروالی دقباحت ددے عمل کوی.

شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه:

والمراد التنزيه عن فعل يشبه الكلب (كذا في اللمعات هامش المشكوة ج۱ ص۲۶۰ نمبر۹)

مراد ددے حديث نه ځان ساتل دی دداسے فعل نه چه مشابهت دسپی سره راولی"

تګی، دهوکه، ده منافق صفت دے

هم دغه سے په مروجه قبض کښ باربار دهوکه کول دی چه دلږشی نه ډير جوړوی خداوند جل مجده ارشادکوی:

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۝ (سورة البقرة آيت۹)

"تګی کوی دوئ دالله سره (پخپل خيال کښ يا تګی کوی درسول الله سره) اودايماندارو سره اوتګی نشی کولے مګر دخپلو ځانونو سره اونه پوهيږی دوئ"

بهرحال داحيله کونکے که چرے دالله تعالی سره تګی کوی چه دډيرو

---

[1] رواه البخاري-مشكوة ج۱ ص۲۶۰-ابن كثير ج۲ ص۲۶۱-

حقوقو په ځائې لږ څه فديه کوي اوکه دايماندارو سره تګکی کوي چه شي؛ ورته وبخښي اوبيرته ترينه غواړي ځکه کچرے کوم مسکين ووائي چه داځما شو څه ئے چاته نه ورکوم نوجبراً ئے ترينه اخلي نو دا ټوله دهوکه اوصفت دمنافقينو دے الله تعالى دتړے نه مونږه محفوظ کړي. آمين

که چرے يوکس دسلو روپو قرضداري ته يونوټ دلسو روپو لس ځلے ورکوي او آخلي نو سل کيږي ؟ نه هم دغه شان په حقوق الله کښ هم لږ شے دډيرو په ځائے نه ودريږي سالك څه ښه فرمائي :

کارها با خلق داری جمله راست ؛ با خدا تزویر و حیله کے رواست

دقرض آدآء مقدمه ده په وصيت باندے

دزمان حال داسقاطونو اکثر طريقه داوی چه دمړی وصيت ته هم نه ګوری اواګر بالفرض چه وصيت ئے هم کړی وی نو دقرضونو خيال نه کوی حالانکه دقرض په باره کښ څومره اهتمام په احاديثو کښ راغلے دے بطور نمونه وګورئ چه :دابوقتاده رضی الله عنه نه روايت دے وائي : چه يوسړی عرض وکړه چه ائے دخدائی رسوله خبر راکړئ چه کچرے څه قتل شم په لارے دالله کښ صبر کونکے ،ثواب ګټونکے په مخکښ تلونکے نه په شاليدونکے:

يكفر الله عنى خطاياى فقال رسول الله ﷺ نعم فلما ادبر ناداه فقال نعم الا الدين كذالك قال جبرئيل (رواه مسلم. مشكوة ج١ص ٢٥٢)

تولرے به کړی خمانه ګناهونه خما ؟ پس رسول الله ﷺ اوفرمائيل او: پس کله چه پښا روان شه هغه سړے نوآواز ئے ورته وکړه . اووے

فرمائیل اومګر دین (قرض) نه بخښی دغه رنګے جبرئیل وائی "

مطلب دا شه چه دشهادت غونډے لوړمقام سره هم پردی حقوق (قرضونه) نشی بخښلے خلق دخیراتونو ،اسقاطونو کوشش کوی او د قرضونو څه پرواه نه ساتی .

شیخ عبدالحق رحمه الله فرمائی: فیه دلیل علی ان حقوق العباد فی غایة المضائقة (هامش مشکوة نمبر۱ ج۱ ص۲۵۲)

"چه په دے حدیث کښ دلیل دے په دے خبره باندے چه حقوق العباد (دبندګانو حقونه) په ډیرے تنګئ کښ دی (معاف کیږی نه)

باقی داخبره چه قرآن عظیم الشان کښ خو وصیت مخکښ شویدے په قرض باندے[1]

"نوجواب دادے چه اصل کښ قرض مخکښ دے په وصیت باندے لیکن قرآن پاك کښ دوجهے دیوے نکتے نه مخکښ شوے دے هغه نکته داده چه وارثانو ته هدایت دے چه قرض خوهسے هم درنه قرضداری غواړی لیکن دوصیت پوره کول هم ضروری دی اګرچه ظاهره کښ درنه څوك دوصیت دپوره والی مطالبه نه کوی .

حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی :

اجمع العلماء من السلف والخلف علی ان الدّین مقدم علی الوصیة[2]

---

(۱) سورة النساء ۱۱-

(۲) ابن کثیر ج۱ ص۹ ملو کذالی معارف القران ج۲ ص۳۲۹ والترمذی ص۳۱-

"اجماع کړے علماء د مخکښنو اوروستنو نه چه د قرض خلاصول مخکښ دی د وصیت پوره کولو نه" بیا د حضرت علی رضی الله عنه روایت پیش کوی په دے باره کښ چه قرض مخکښ دے:

وان رسول الله ﷺ قضی بالدّین قبل الوصیة (حاشیه مذکوره)

"او یقینی چه رسول الله ﷺ فیصله کړے په قرض باندے مخکښ د وصیت نه"

دریآء د وجهے نه یادشرم اوحیآء دوجهے نه صدقه کول څه حکم لری؟

بساآوقات په جنازګاه کښ مال ویشلو کښ ریآء ،شهرت ،نموداری راځی الاماشآء الله تعالی حالانکه هر عبادت کښ صحیح نیت دخدائی تعالی رضا ضروری ده قرآن پاك کښ د ریآء دصدقے مثال داسے ورکړے دے .

فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ۭ لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰي شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا ۭ (البقرۃ آیت ۲۶۴)

"پس مثال ئے په مثل دیوتړنګ دے چه په دغه باندے خاورے وی پس ورسیږی دغه ته شیبه ور باران پس وئے ګرزه وی خالی مالی قدرت به بیا نه مومی په څه شئ دهغه عمل نه چه دوئ کړے دے"

اودریآء خیرات ته حدیث نبوی ﷺ کښ شرك وئیلے شوے دے . من

تصدق یرائی فقد اشرك [1] "چاچه صدقه دریا ءدپاره ورکړه پس دغه شرك وکړه " (ریا ء وړوکے شرك دے) دغسے دحیاء اودشرم په وجه چاله څه ورکول ممنوع دی .

قال الغزالی رحمه الله من اخذ شیئا مع العلم بان باعث المعطی الحیاء منه اوالحاضرین ولولا ذالك لما اعطاه فهوحرام اجماعا ویلزم رده اورد بدله الیه اوالی ورثته [2]

"امام غزالی رحمه الله فرمائی :چاچه څه شیٔ واخستله سره دعلم نه پدے چه باعث په ورکونکے حیاء ده دده نه یا دنورو حاضرینو نه اوکچرے دغه وجه نوی نو بیا څه نه ورکوی نو دغه حرام دی اجماعا اولازم دی په ده باندے ردکول ددغه اویا ردکول دبدل ددغه ورکونکے ته اویاهغه وارثانو ته "

ماشوم غیرمکلّف دے

په بعض ځائنو کښ دماشوم دمرګ نه بعد ګوره ،یا پیسے ویشی حالانکه ماشوم غیرمکلف دے مونځ روژه وغیره پرے نشته نوفدیه وغیره پرے دکومے نه شوه اوځنے وائی چه داشیرنی ده نو آیا شیرنی دمرګ په وخت کښ وی اوکه دپیدائش ؟

دحضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے چه :

---

[1] عن شداد بن اوس رضی الله عنه قال سمعت رسول ﷺ یقول من صلی یرائی فقداشرك ومن صام یرائی فقداشرك ومن تصدق یرائی فقداشرك -رواه احمد كذافی المشكوة ج۲ص ۴۵۵باب الریاء والسمعة -

[2] المرقاة ج۴ص۱۷۴ -کسی قسم کے دباؤ کے ساتھ چندہ یاھدیہ بھی طلب کرنا غصب ہے آنحضرت ﷺ کا واضح ارشاد ہے کہ :لایحل مال امرئ مسلم الابطیب نفس منه (معارف القران ج۷ص۵۰۴\ ۵۰۵ سوره ص-

قال رسول الله ﷺ رفع القلم عن ثلثة عن النائم حتى استيقظ وعن الصبى حتى يبلغ وعن المعتوه حتى يعقل [۱]

"رسول الله ﷺ ارشاد کوی چه پورته شوے دے قلم د دریو کسانو نه د اوده نه تردے چه راویښ شی اود ماشوم نه تردے چه بالغ شی اود لیونی نه تردے چه په عقل کښې راشی.

دحیلے مروجے ثبوت د نبی کریم ﷺ نه ندے راغلے

د ذکرشوو مفاسدو نه علاوه دحیلے مروجے ،قبض ،سخاط طریقه دجناب رسول الله ﷺ اوحضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ندے راغلے . پس ... ے په بدعت والی کښې څه شك دے ؟ دحافظ ابن کثیر رحمه الله عبارت مخکښې لیکلے شویدے فقهآء کرام لیکی چه :

عدم النقل تدل على الكراهة .

"چه عدم نقل دشارع نه دلالت کوی په مکرو ه والی باندے " ځو نمونے ووګورئ .

ولايتنفل قبل العيدين فى المصلى لان النبى ﷺ لم يفعل ذالك مع حرصه على الصلوة [۱]

"اونفل به نه کوی مخکښې دمانځه داخترونونه په عیدګاه کښې ځکه چه نبی ﷺ نه دی کړی سره دحرصه دهغو ی نه په مانځه باندے "

---

(۱) رواه الترمذی وابو داؤد والدارمی عن عائشه رضی الله عنها وابن ماجه عنها - مشکوة المصابیح ج۲ص۲۸٤- کتاب الطلاق -

(۱) مستخلص ص۲۹۸-باب العیدین -هدایه ج۱ص۱۷۳-

ومُنِعَ عن النفل بعد طلوع الفجر باكثر من سنة الفجر لان النبى ﷺ لم يفعل ذالك مع حرصه على الصلوة [۲]

" اومنع راغلے ده دنفلوکولو نه بعد دختلو دصبانه په زياتو دسنتو دصبانه څکه چه نبى ﷺ دانفل ندى کړى سره دحرص دهغوى نه په مانځه باندے" ۱: ستهزاء په قرآن پاک ليسے :

په حيله مروجه کښ استهزاء په قرآ ن مجيد پسے ده او د هغه بے حرمتى ده :

قرآن پاك الله جل مجده دامت محمدى دهدايت دپاره اودسوچ فکر دپاره اودعمل درست کولو دپاره اودتورتم دضلالت نه رنړا دهدايت ته دراويستلو دپاره راستولے دے نه ددے دپاره چه دسخاط دموادو دډيرى دپاسه ئے کيدئ اودتوقے په شکل وائى :ماقبول کړے ماتاته دربخښلے په دے سلسله کښ دطوالت دکبله په يوجامع آيت ذکر کولو اکتفاء کوم :

الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۙ (سورة ابراهيم آيت ۱)

" الله خبر دے په معنى ددے حروفو دايوعزتمند کتاب د ے راليږلے دے مونږ تاته چه راوباسے خلقو لره دتورتمونو نه رنړاته په اذن درب ددوئ لارے دزوره ور ستائيلى شوى (بادشاه) ته"[۱]

په ذکر شوى آيت کريمه کښ دقرآن مقدس دنازيليدلو حکمت واضح

---

[۲] هدايه ج۱ص۸٦-مستخلص الحقائق وفى العناية على هامش فتح القدير ج۱ص۱٦٦-يعنى ان الترك مع الحرص على احراز فضيلة النفل دليل الكراهة ولما لم يفعله عليه الصلوة والسلام دل على الترك مع وجود المعنى المقتضى -الاعتصام ج۱ص۳٦٦-

[۱] اهل علم دِدا ايتونه هم وګګورى بقره:۲يوسف:۳فرقان:۱يونس:۵۷ص:۲۹انعام:۱۵۵نساء:۸۲وغيره (مؤلف عفى عنه)

شو افسوس چه دقرآن پاك د نزول مقصد نن دخيتې دخوشحالو ذريعه وګرځيده .

مولانا مفتاح الدين رحمه الله چه مشهور دے په جورے مولانا صاحب سره خپل كتاب كښې ليكى :

لطيفه

خما يو دوست عالم متقى سلمه ربى په يومقام كښې وعظ كولو نو په ضمن دوعظ كښې داقصه راغله چه يوسړے مړو او نورڅه ئے نه وو پاتې بغير ديوے چيلئ (بيزے) نه نو هغه وارث ئے دامام نه تپوس وكړو چه ددے سره به څنګه كار كوو نو امام استاذ ورته اووے چه ته ئے دائرے ته راوله نورڅه پوهيږم نو چه رائے وستله نو امام استاذ قرآن شريف دچيلې په ملا پورے اوتړلو نو په دائرے كښې روانه كړه اوهر سړى به وے "ماقبول كړيدے په طريقې مذكورے سره خشے"

نوحاضرينو دمجلس دوعظ وخندل نوهغه عالم ورته ووئيل :چه تاسو ولې خاندئ ؟ دازمونږه طريقه چه تړل دقرآن شريف دى دبتانو (يعنى لوټونو)سره داخو دامام استاذ دطريقې نه زيات ناكاره دى ليكن چه څوك په يوكار باندے عادت اونيسى نوكه ډير ناكاره وى خو ده ته ښه ښكاره كيږى .(اصلاح الرسوم ص۵۸)

د قرآ ن مجيد د دور حقيقت

بعض كسانو دقرآن مجيد د دور دثبوت دپاره دا يوه واقعه پيش كړے ده چه دعمر فاروق رضي الله عنه د دورنه ددے ثبوت راغلے دے .

حدثنا العباس بن سفیان عن ابن علّیة عن ابن عون عن محمد عن عبدالله قال قال عمر رضی اللہ عنہ [۱]

" بیان کړیدے مونږه ته عباس ابن سفیان دابن علیّة دابن عون نه دمحمد نه دعبدالله نه وائی چه عمر رضی اللہ عنہ اوفرمائیل :اے مؤمنانو ! قرآن وسیله وګرځوئ دپاره دنجات دمړو پس حلقه جوړه کړئ اووائی چه اے الله بخښنه وکړے دے مړے ته په حرمت دقرآن مجید او وار په وار قرآن راخلی پلاسونو خپلو باندے اوکړئ ووعمر رضی اللہ عنہ په آخر سر دخلافت خپل کښ دارنګے دیوے ښځے دپاره چه حبیبه لور دعربد ښځه دقلاب وه په حصے دقرآن دمالی نه ترعم یتساءلون پورے اوخورشه فعل د دوئ په زمانه دخلافت دعثمان رضی اللہ عنہ کښ په انکار دمروان سره دوجهے دعنادنه "

وقال الامام السمرقندی ثم اشتهر فی خلافة هارون الرشید من غیر انکار نکیر دوران القرآن لحیلة الاسقاط فاصله ثابت عن عمر رضی اللہ عنہ وان لم یذکر فی الکتب المشهورة من الاحادیث ولکنه مذکور فی الکتب من التواریخ بسند قوی کما قال المورخ صاحب الفتوح اخبرنا ابوعاصم عن ابن جریج عن ابن شهاب عن ابی مسلمة عن ابی موسی رضی اللہ عنہ قال فعل عمر رضی اللہ عنہ تعاور جزء القرآن فی حلقة عشرین رجلا بعد صلوة الجنازة لامراة ملقبة بحبیبة الخ

---

[۱] ایها المؤمنون اجعلوا القران وسیلة لنجاة الموتیٰ وتناولوا بایدیکم متناوبة - وفعل عمر رضی اللہ عنہ فی اخر الخلافة مثله فی زمانه لامراة ملقبة بحبیبة بنت عربد زوجة قلاب (وفی نسخة ملاّب) بجزء القران من مالی الی عم یتساءلون وشاع عمله فی زمان خلافة عثمان رضی اللہ عنہ بانکار مروان بعناد -

ولرجل من قبيلة الانصار ماحفظنا اسمه وثبت بهذا السند ايضا اخبرنا سعد عن ايوب عن جميع عن عبدالرحمن بن ابی بکر رضی اللہ عنہ انه اوجد دوران القرآن عمر رضی اللہ عنہ والقرآن شافع للمومنين حياتا وبعد ممات انتهى.

(فتاوی سمرقندی بحواله المنهاج الواضح ص۲۶۴\۲۶۵)

دعبارت دلوستلو نه دفهم خاوند په دے پوهيږی چه دا قصه قابل قبول نه ده ځکه چه ددين داحکامو ثبوت په داسے ناشنا اوکمزورو راويانو اوکتابونو نشی کيدے .دزيات پوهے دپاره دواقعے مذکورے پوزيشن واضحه کول غوارم. وبالله التوفيق

حضرت شيخنا شيخ القرآن والحديث مولانا محمد طاهر صاحب رحمه الله پخپل تصنيف کښ فرمائيلی دی چه په اولنی حديث کښ عباس بن سفيان مجهول دے ترجمه ئے چانده ذکرکړے اود ابن عليه ولادت په ۱۱۰ ه اووفات ۱۹۳ ه کښ دے.

(تهذيب التهذيب ص۲۷۷\بحوالة النشاط ص۱۵)

اودامام سمرقندی ابوالليث رحمه الله وفات په ۳۷۳ھ کښ دے. (کمافی الجواهر المضيئة ج۲ ص۱۹۶ والفوائد البهية ص۲۲۰ ومفتاح السعادة ج۲ ص ۱۳۹ النشاط من حيلة الاسقاط ص۱۵)

پس روايت دمجهول نه اوبيا دسمرقندی اودابن عليه په مابين کښ نهه شلے کالو اوږده زمانه په واسطے مجهولے سره څه رنګے قبليږی.

فاثار الکذب علی هذه الرواية ظاهرة بادية. (النشاط من حيلة الاسقاط ص۱۵)

پس د دروغو نښانے په دے روايت ښکاره ماره دی "

اوهر چه دویم حدیث دے نو په دے کښ اولا محمد بن عمر الواقدی دے صاحب دمیزان رحمه الله فرمائی: متروک مع سعة علمه (١)
"چه پریخودلے شوے سره دفراخي دعلم دده نه"
وقال البخاری رحمه الله متروك الحديث تركه احمد رحمه الله وابن المبارك رحمه الله وابن نمير رحمه الله واسمعيل بن زكريا رحمه الله ......وقال فی موضع اخر كذبه احمد رحمه الله وقال معاوية بن صالح رحمه الله قال احمد بن حنبل رحمه الله الواقدی كذاب وتوفی ٢٠٧ھ وقال الشافعی رحمه الله فيما اسنده البيهقی رحمه الله كتب الواقدی كلها كذب ......وقال ابن عدی رحمه الله احاديثه غير محفوظة والبلاء منه وقال ابن المدينی رحمه الله عنده عشرون الف حديث يعنی مالها اصل وقال بندار رحمه الله ما رايت اكذب منه انتهی تهذيب التهذيب ملخصا (١)
امام بخاری رحمه الله فرمائی : چه حدیث ئے پریخودے شویدے امام احمد رحمه الله اوابن مبارک رحمه الله اوابن نمیر رحمه الله اواسمعیل بن زکریا رحمه الله دغه پریخودے دے اوبه بل ځائی کښ فرمائی : دروغژن کړے ده لره امام احمد رحمه الله اوصالح ابن معاویه رحمه الله وائی: چه امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی: چه واقدی غټ دروغژن دے اووفات شوے دے واقدی په ٢٠٧ھ کښ اوامام شافعی رحمه الله فرمائی: چه دواقدی ټول کتابونه دروغ دی ......امام ابن عدی رحمه الله وائی چه حدیثونه ئے غیرمحفوظ دی اومصیبت ددۀ دطرف نه دے او امام ابن مدینی رحمه الله وائی

---

(١) ج٦ص ٨٥٢- وتقريب ص ٣٣٦- بحواله النشاط ص ١٤- وفی السعاية مات ببغداد ٢٠٧ھ قال احمد رح كذاب وقال يحیٰ ليس بثقة وقال البخاری والرازی والنسائی متروك الحديث الخ السعايه لمولانا ابی الحسنات اللكهنوی ج١ص ٣٦٤-
(١) ج٩ص ٣٦٧- بحواله النشاط ص ١٥ وانظر ميزان الاعتدال من ص ٦٦٣ الی ٦٦٦ ج٣-

دواقدی سره شل زره احادیث دی یعنی چه هغولره څه اصل نشته اوبندار صاحب رحمه الله وائی چه ما دواقدی نه عټ دروغژن بل ندے لیدلے . اوبل دغه روایت کښې ابن جریج دے حضرت شیخ القرآن صاحب رحمه الله دده په حقله لیکی :

واما ابن جریج فهو عبدالملک ابن عبدالعزیز بن جریج المولود ۸۰ھ المتوفی ۱۴۹ھ او ۱۵۰ھ قال الشافعی رحمه الله استمتع بسبعین امراة وقال مالک رحمه الله ابن جریج حاطب لیل وعن ابن معین رحمه الله لیس بشیٔ فی الزهری . (تهذیب التهذیب ج۶ ص۴۱۶ ، بحواله النشاط ص۱۲)

"اوهر چه ابن جریج دے پس دغه عبدالملک ځوی دعبدالعزیز ځوی دجریج دے چه په سنه ۸۰ھ کښې پیدا شوے دے او سنه ۱۴۹ یا سنه ۱۵۰ھ کښې وفات شوے دے امام شافعی رحمه الله فرمائی چه ابن جریج اویا متعے نکاح کړے دے او امام مالک رحمه الله وائی چه ابن جریج دشپے لرګی (ګډوډ) راټولونکے دے دامام بن معین رحمه الله نه نقل دی چه دابن جریج نقل دابن شهاب زهری رحمه الله نه هیڅ شی نه دے (قابل قبول نه دے) هم دغه شانے صاحب دمیزان الاعتدال (کتاب) دده پشان کښې لیکی :

وهوفی نفسه مجمع علی ثقته مع کونه قد تزوج نحوا من سبعین امراة نکاح المتعة کان یری الرخصة فی ذالک الخ[1]

" اودا پخپله اجماع شوے په ثقه والی دده سره ددے نه چه اویا ښځو سره ئے نکاح متعه کړے ده ده به اجازت لیدو په دے کښې . (نکاح متعه وقتی نکاح ته په عوض دځه پیسو کښې وئیلے شی اوددے په

[1] میزان الاعتدال ج۲ ص۶۵۹ لابی عبدالله محمد بن احمد عثمان الذهبی المتوفی ۷۴۸ھ

حرمت باندے اجماع ده اویقینی حرامه ده البته شیعه ګان ئے رواګنړی) دغه وو دسند حال چه دکتاب کتونکو په خدمت کښې هدیه شو لیکن دسند نه قطع نظر که چرے درایة په دے غور وشی نو په څو وجوهو ددے بطلان معلومیږی.

دمولا نا ابوالزاهد صفدر صاحب رحمه الله

دعبارت خلاصه عرض کوم

اول: خو دادکوم رافضی ایجاد دے چه ددے حیلے نسبت حضرت عمر رضی الله عنه حضرت عثمان رضی الله عنه هارون الرشید ته کوی اودمروان مخالفت خصوصی طور سره کوی اودحضرت علی رضی الله عنه نوم نه ذکر کوی.

دویم:دورخلافت راشده کښې څرنګے دمونځونو روژو بے پروائی کیدے شی چه حیله دوران قرآن ورله تجویز کیږی

دریم:دحبیبے اودقلاب ذکر په کتابونو داسمآء الرّجال اوتاریخ کښې نشته اودانصاری صحابی په حقله داباور څنګه کیدے شی چه دمونځ روژو دکوتاهی په تلافی کښې دورله حیله دروان قرآن وشی.

څلورم: دحضرت عمر رضی الله عنه په آخری دورخلافت کښې قرآن کریم په سرکاری طور په کتابی شکل کښې راجمع شوے وو نو بیاولے ټول قرآن نشو ګرزه ولے دمالی نه تر عم یتساءلون پورے ددے څه وجه ده ؟

پنځم :چه کچرے ددے حیلے اصل دخلافت راشده دوخت نه وے نو محدثین کرام اوفقهاء عظامو ته داولے نده رسیدلے؟

شپږم: لفظ اوجد دوران القرآن چه دور دقرآن ئے ایجاد کړه یوجعلی

لفظ دے داهم ددے ثبوت ورکوی چه دایو کوهستانی لفظ دے وغیره

(المنهاج الواضح ص۲۶۷).

بعض خلق دقنیه، درة البرر، نورالهدیٰ، المجموع للرقعات، جواهر النفیس، بحر المنافع، تحفة الصلحاء، یاموجوده دور کښې البصائر او الذخائر ضعیف نادر غیرمشهور کتابونه پیش کوی دداسې کتابونو په حقله جناب قاری صاحب رحمه الله داسې فیصله کوی (شل پاپړ دیو لوړ) ومن القواعد الکلیة ان نقل الاحادیث النبویة والمسائل الفقهیة والتفاسیر القرآنیة لایجوز الامن الکتب المتداولة لعدم الاعتماد علی غیرها من وضع الزنادقة والحاق الملاحدة بخلاف الکتب المحفوظة فان نسخها یکون صحیحة متعددة اه[۱]

"او بعض دقواعد و کلیو نه داخبره ده چه نقل کول داحادیثو نبویه و او فقهی مسائلو او تفاسیرو قرآنیه و روانده مگر دمعتمدو کتابونو نه دوجهې دعدم اعتماد نه په نورو باندے دوجهې دوضع دزیندیقانو او پیوست والی دملحدانو پخلاف دکتابونو محفوظ ؤ زکه چه نسخې ئے ډیرے وی.

دخدائی فضل او احسان دے زمونږه دین نبه په مضبوطو کتابونو او صحیح سندونو رارسیدلے دے داخو دبودئ باز نه دے چه پنجے

(۱) موضوعات کبیرؒ للقاری ص ۱۶۰- وکذافی ص ۱۱ مقدمة عمدة الرعایه لمولانا ابی الحسنات محمد عبدالحی اللکهنوی رحمه الله المتوفی ۱۳۰۴ھ

اومخوکه ئې نه وی یعنی نه ئې سند صحیح وی اونه متن حاشاوکلا امام مسلم رحمه الله فرمائی :دجناب عبدالله بن مبارک رحمه الله په نقل:

الاسناد من الدين ولولا الاسناد لقال من شآء ماشآء اه (مقدمة مسلم ج۱ص۱۲)

"چه سند ذکرکول ددین نه دی که چرے سند ذکر کول نه وے نو خوا مخا به وئیلے دچاچه څه خوښه وی "

فقهاء کرام اوحیله اسقاط

بعض حضرات دقبض یا حیله اسقاط دپاره دفقهاء کرامو دعباراتونه استدلال نیسی حالانکه دهغوی نه دلیل نیول هم د دوئ دپاره مفید نه دی بطور مثال د درمختار عبارت داسے دے:

ولومات(۱) وعليه صلوات(۲) فائتة (۳) واوصى بالكفارة يعطى لكل(۴) صلوة نصف صاع من بر كالفطرة (وكذا(۵) حكم الوتر) والصوم وانما يعطى ((۶) من ثلث ماله) ولو(۷) لم يترك مالا يستقرض وارثه نصف صاع مثلا (۸) ويدفعه لفقير ثم(۹) يدفعه الفقير للوارث ثم(۱۰) وثم حتى يتم[1]

"که چرے مړشی اوپه دے باندے قضائی مونځونه وی اووصیت په کفارے وکړی نو ورکولے به شی دهرمانځه دپاره نمائی اوگے پشان دفطرانے اوهم دغه رنګے حکم دوترو اوروژے دے اویقینی کفاره (فدیه) به ورکولے شی ددریمے حصے دمال دده نه اوکچرے هیڅ شئ دمال نه ئے نوی پریخودے نو په قرض به اخلی وارث دده نمائی اوبے اوورکوی به ئے فقیر ته اوبیا به ئے ورکوی فقیر وارث ته اوبیا تردے چه پوره شی

[1] درمختار مع الشامیؒ ج۱ص ۵۸۳-وکذافی رسائل ابن عابدینؒ ج۱ص۱۹۶والبحر الرائق ج۲ص۹۰\۹۱والهندیة ج۱ص۱۲۵-وخلاصة الفتاوی ج۱ص۱۹۲-ونورالایضاح ص۷۴-

دفقهاء کرامو په دے عبارت باندے اولا دانظراچول پکاردی چه آیا دایودلیل شرعی دے اوکه نه ؟حالانکه تمام اصولین لیکی چه دلائل شرعیه څلوردی .۱. کتاب الله ۲. اوسنت رسول الله ﷺ۳. واجماع الامة. اوقیاس مستنبطه ددغه دریو واړو نه علامه حسام الدین رحمه الله په سر دخپل کتاب کښ لیکی :

فان اصول الشرع ثلثة الکتاب والسنة واجماع الامة والاصل الرابع القیاس المستنبط من هذه الاصول (منتخب الحسامی طبع سعید کمپنی ص۲)

وقال صاحب الشاشی فان اصول الفقه اربعة کتاب الله وسنة رسوله ﷺ واجماع الامة والقیاس وفی التنقیح وان کان ذافرعاللثلثة[1]

"پس یقینی دلائل دشرع درے دی کتاب الله اوسنت رسول الله ﷺ اواجماع امت اوڅلورم دلیل قیاس دے چه راویستلے شوے وی ددغه دریونه .

اوصاحب دشاشی وائی چه دلائل دفقه څلوردی کتاب الله اوسنت رسول الله اواجماع دامت اوقیاس "په تنقیح (کتاب)کښ دی اواګرچه قیاس فرعه دمخکښنی دریوواړو ده "

حاصل دادے چه دلایل هم دغه څلوردی اګرچه قیاس فرعه ده لدے وجهے نه مظهر (ظاهرونکے) دحکم دے اواولنی دریو واړه مثبت (ثابتونکی دحکم) دی اوثانیا دفقهاء کرامو عبارت کښ تقریباً لس شرطونه دی اوموجوده دور کښ دا حضرات مطلقا په هرمړی کښ حیله اوقبض کوی خواه دمونځونو قضائی پرے وی اوکه نه ؟اووصیت

---

[1] اصول الشاشی ص۵-التوضیح والتلویح ص۱۳۸-طبع نور محمد کراتشی-وکذافی المنار مع نور الانوار ص۱۶/۷و الناسی ص۱-

د مړي وی اوکه نه ؟ اوفدیه به پوره وی دانه چه غنی قاضی حاجی لره ډیرے اومسکین غریب له کمه . اودثلث یعنی دریمے حصے دمال دمړی نه به وی نه دمشترك اوټول مال نه . اوکچرے هیڅ مال ئے نه وی پریخودے اودوارث سره هم څه نه وی نو بیا به وارث قرض کوی اوفقیر ته به ئے بخښی اوهغه به ئے پخپله مرضی اوخوشی وارث ته بخښی اوداعمل به ترهغے پور ے کوی چه دهغه مړی کفاره پوره شی .

علماء پوهیږی چه په دے عبارت کښں (ولولم یترک مالا) کښں لَو دفرضیت دپاره دے اولَمْ نافیه اومالاً نکره روستو دنفے نه . معنی ئے داشوه چه فرض که چرے هیڅ مال ئے نه وو پریخودلے یعنی نه کور نه پټی نه دانے نه پیسے نه لوښی لرګی نه دتن جامے وغیره نو وراث به ئے نیم وړی مثلا قرضه وی نو آیا داسے فقیر چرته موجوده دور کښں شته ؟ هیڅکله نشته داخویو فرضی مثال دے لکه دانځرګل یا دعنقاء مارغه.

ازبرائی خدا! دبدعاتو دترویج دپاره په فقهآء افترآء مه کوئ اودسنت محمدی پیروی وکړئ چه کامیاب شئ .

اکابرین دیوبندؒ اوتردید حیله اسقاط

اوس مناسب ګڼړم چه داکابرین دیوبند څو عبارات پیش خدمت کړم څکه چه هغوی دقرآن اودسنت خادمان وو اوپه فقه حنفی زمونږه نه ښه پوهیدل الله تعالی دقبرونو دنورنه ډك کړی آمین .

حضرت رشید احمد ګنګوهی رحمہ اللہ فرمائی :

ا۔ حیلہ اسقاط کا مفلس کے واسطے علماء نے وضع کیا تھا اب یہ حیلہ تحصیل چند فلوس کا ملاؤں کے واسطے مقرر ہوگیا ہے حق تعالیٰ نیت سے واقف ہے وہاں حیلہ کار گر نہیں مفلس کے

واسطے بشرط صحت نیت ورثہ کے کیا عجب ہے کہ مفید ہو ورنہ لغو اور حیلہ تحصیل دنیا دنیہ کا ہے۔ فقط واللہ اعلم (فتاوی رشیدیہ ص۱۱۶)

" حیله داسقاط دمفلس دپاره علماؤ مقرر کړے وه اوس داحیله دخو پیسو دحاصلیدو دپاره دملانو دپاره مقررشویده الله تعالی د نیت نه خبردے هلته حیلے کارآمدے نه دی دمفلس دپاره پشرط دصحیح نیت دوارثانو څه عجیبه ده چه مفیده (فائده ناکه) دوی اوکچرے داسے نوی نولغوه اوچلول دحاصلولو درزیلےدنیا دے"

مولانا موصوف په بل مقام کښ فرمائی :چه دروژے ،مانځه نه چه پوره فدیه ورکړے شی نوامید دآداء دے اوددے حیلے هیڅ ثبوت دخیروالقرون نه نشته خالص لغو اوبے هوده حیله ده .

۲۔ جواب: حقوق مالیہ تو ادائے حقوق سے ادا ہو سکتے ہیں او حقوق بدنیہ جیسے نماز، روزہ، تو ہر نماز روزہ کے بدلے نصف صاع گیہوں اور صاع جو ادا کرنے سے امید ادا ہے ان شاء اللہ تعالیٰ باقی رہا یہ اسقاط مروجہ محض لغو اور بے ہودہ حیلہ ہے اور اس کا خیر والقرون میں کچھ اثر نہیں ہے۔ واللہ تعالیٰ اعلم (فتاوی رشیدیہ ص۲۲۲) .

ترجمه :دمال حقونه د آداکولودحقوقونه اداکیږی اوبدنی حقونه لکه مونځ روژه نودهر مونځ روژے په بدله کښ دنمائی اوړی غنم ،اویا یو اوړی وربشے ادا کولو نه امید د آداء دے کچرے دالله تعالی رضاء وشی باقی پاتے دامروج اسقاط خالص لغوه اوبے فائدے حیله ده اوددے په غوره پیړو کښ هیڅ اثر نشته دے"

حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله لیکلی دی داسقاط مروجه په حقله .



۳۔ چونکہ یہ فعل بالیقین ناموری کے واسطے کیا جاتا ہے اس لئے خلاف سنت ہے اور اکثر اس مقام غیر مستحقین جمع ہو جاتے ہیں اس لئے اولی یہ ہے کہ جو کچھ دینا ہو اپنے گھر پر خفیہ کو سوچ سمجھ کر دیں اور وہ بھی مشترکہ ترکہ سے نہ ہو۔

(اصلاح الرسوم للتھانوی رحمہ اللہ ص ۱۳۲، ردالبدعات لسید انوار الحق کاکاخیل ۲۹)

ترجمه: چونکه دا ويش واش په جنازګاه کښ يقينا دشهرت دپاره کولے شي لـه دے وجهے نـه خـلاف سـنت دے اواکثـر پـه دغـه مقام کـښ غيرحقدار خلق جمع کيږي له دے وجهے نه بهتـر دادي چه څه ورکول وي نو پخپل کور باندے په پټه حقدار وته په ښـه سوچ فکـر د ورکړي او هغه (فديه) دهم دشريك مال نه نه وي "

۴. وكذافي ردالبدعات (ص ۱٦١)

ماشاء الله تهانوي رحمه الله څه ښکلےطريقه وخودله کاشکے چه دقبض خاوندانو دحکيم الامت رحمه الله په عبارت عمل کړے وے.

جناب مفتي محمد کفايت الله صاحب رحمه الله پس دعبارت دفقهاؤ دتحقيق نه خپله فتوی داسے ليکي :

۵۔ لیکن اس ترکیب سے جہاں تک ہمیں علم ہے کوئی نہیں کرتا۔

(دلیل الخیرات فی ترک المنکرات ص ۳۹)

"ليکن په دغه ترکيب (دفقهاؤ) څومره پورے چه مونږه ته علم دے اسقاط څوك نه کوي "

جناب مفتي صاحبؒ هم دخپل وخت داسقاط پحقله چه دوه نيم پنځوس سيره غنم اوقرآن مجيد دتولوفرآئضو اوواجباتو په فديه کښ ورکوي ليکي :چه دايے اصل اوناجائز دي بے اصل خو ددے وجهے نه

دی چه ددے خاص مقدار دتولو فرائضو واجباتو دطرف نه په کافی کیدوباندے څه دلیل نشته .

۶۔اور ناجائز ہونا اس لئے کہ اس میں ساڑے باؤن سیر کی تعین بدعت ہے۔

(دلیل الخیرات فی ترک المنکرات ص ۳۱)

"اوناجائز والے ددے وجهے نه چه په دے کښ د دوه نیموپنځوسو سیرو تعین بدعت دے"

دمفتی صاحب دعبارت نه صافه معلومه شوه چه دخاص مقدار معین کول دځان نه دابدعت دے نو بناء په دے باندے ځمونږه علاقو کښ دمالګے په ډیرئ قبض کول اوددے تعین کولو ثبوت دکوم ځائے نه دے نو داخوامخا بدعت دے بدعت دے .

۷. مفتی رشید احمد لدهیانو ی رحمه الله داسے نوټ کړیدی چه :

یہ مروجہ طریقہ ناجائز اور بدعت ہے۔قرآن ،حدیث اور فقہ میں اس کا کوئی ثبوت نہیں اور نہ ہی قرون مشہود لہا بالخیر میں اس کا کوئی وجود ہے۔ (احسن الفتاوی[1] ص ۲۵)

"دامروجه طریقه ناجائزه اوبدعت دے قرآن ،حدیث اوفقه کښ ددے چرته ثبوت نشته اونه ددے څه وجود په هغه پیړو کښ شته چه دنیکئ شهادت ئے شویدے"

هم ذغه شان مفتی مذکور صاحبؒ پس دځلورو هغه مفاسدو چه مونږه مخکښ لیکلی[1] دی صاف فرمائی:

---

[1] چه یوتملیك دفقرآء و دتملیك په طریقه نه دے دویم عوام په ګناهونو دلیرکیږی اودمونځ روژے پروابیانه کوی دریم داداعمالو دتکفین نه مستقل عمل ګنړلےشی ځلورم ددریے حصے دمال نه فدیه نه ورکوی الخ مؤلف عفی عنه

۸۔ مگر فی زماننا فساد عقیدہ کی وجہ سے یہ جائز نہیں۔ (احسن الفتاویٰ ص۱۳۶)

مگر زمونږه په زمانه دعوامو دعقیدے دفاسد والي په وجه (یعنی د مونځ روژے پروانه ساتی داسقاط په وجه) داهم جائز نه دی "

حضرت مفتی محمد شفیع صاحب رحمہ اللہ هم دمروجه حیله اسقاط مفاسدو ذکرکوی دکومو چه حاشیه کښې نشاندهی شویده اودائے لیکلی دی:

۹۔ اور حیلہ اسقاط مروجہ عوام زمانہ بلاشبہ بدعت ہے۔ (امداد المفتین ص۹۵)"

دعوامو دزمانے حال حیله اسقاط مروّجه بے شکه بدعت دے "

هم دغه رنګے فتاوی امداد المفتین کښې هم په دغه مخ کښې دحضرت مفتی ګل محمد شاه صاحب رحمہ اللہ فتوی کښې دے حیلے ته بدعت وئیلے شویدے.

۱۰۔ الجواب: ہر حیلہ اسقاط ناجائز ہے۔

مفتی عزیزالرحمن صاحب دیوبندی رحمہ اللہ ددے طریقے په لړ کښې داسے فتوی صادره وی:

۱۱۔ ایسی صورت کو فقہاء نے جائز نہیں رکھا۔ (عزیزالفتاویٰ ص۱۲۳)

"داسے صورت لره فقهآء کرامو جائز کړے نه دے "

هم دغه چند اقتباسات دااکابرینو ددیوبند دفتاوو نه چه باحواله اوترجمه زیر تحریر شو چه دبصیرت خاوندان به ترینه فائده واخلی اوهغه حضرات چه ددیوبندی حضراتو دتلمذ دعویدار دی دهغوی ده عبرت دپاره کافی دی .

دحیله ګرو استدلال

بعض صاحبان[1] دحیلے داسقاط دپاره دحضرت سیدنا آیوب صابر ﷺ دواقعے نه دلیل نیسی چه دهغوئ دخپلے بی بی صاحبے دوهلو قسم کړےوو کله چه هغوئ صحت مند شولو نوخدائی تعالی ورته ارشاد وکړو چه یو جارو راواخله اوبی بی صاحبه پرے ووهه اوځان مه حانثه وه چنانچه هغو ی داسے وکړه:

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ ؕ اِنَّا وَجَدْنٰهُ صَابِرًا ؕ نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ○

(سورة ص ۴۴)

"او ونیسه په لاس خپل جارو لره اووهل وکړه په دغے اوځان مه حانثه وه په قسم کښں یقینا مونږه مونـدلےوو ده لـره صـابره ښـه بنـده وودغـه اویقینی دغه رجوع کونکےوو الله تعالی ته "

هر کله چه دحضرت ایوب ﷺ اهلیه بے ګناه وه اودهغوی په خدمت کښں وفاداره وه نوالله تعالی پرے مهربانی وکړه اودحضرت ایوب ﷺ قسم ئے ددهغے پحقله آسان کړو نوددے آیت کریمه دحیله اسقاط سره څه مناسبت دے.

اولا :خو دادحضرت ایوب ﷺ خصوصیت دے اوثانیا دقسم مسئله ده اوثالثا دے کښں خو دفع دمظلوم نه ده نه ابطال دحکم شرعی څرنګے په مروجه حیلے اسقاط کښں دیتیم اوغائب اومشترکه مال دخوړلو دپاره بهانے جوړیږی .جناب الوسی رحمه الله نقل کړی دی چه :

[1] مولوی حمدالله جان صاحب دحیلے دثبوت دپاره دحضرت یوسف ﷺ واقعه هم پیش کوی کذالك کدنا لیوسف -حالانکه داتدبیر محموده الله رب العزت پخپل حکمت بالغه سره هغوی ته خودلےوو-ددے دحیلے سره څه مناسبت دے ؟مولف

واخرج ابن عساكرؒ عن ابن عباسؓ لايجوز ذالك لاحد بعد ايوب عليه السلام الا الانبياء عليهم السلام وفي احكام القرآن للجلال الدين السيوطيؒ عن مجاهدؒ كان هذه لايوب خاصة (روح المعاني ج۲۳ ص۲۰۹)

"اوابن عساكرؒ دابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړے دے چه روانډی داطريقه پس دايوب عليه السلام نه مګر انبياء عليهم السلام دپاره اوپه احكام القرآن (كتاب) دجلال الدين سيوطي رحمه الله کښې دمجاهد رحمه الله په نقل دی چه داخاصه دايوب عليه السلام ده "

هم دغه رنګے داختصاص قول تفسير ماجدی ،خازن ،درمختار وغيره کښې راغلی دی [1]

علامه الوسی رحمه الله دحيلو په ابطال کښې داسے فرمائی:

وعندی ان كل حيلة اوجبت ابطال حكمة شرعية لا تقبل كحيلة سقوط الزكوة وحيلة سقوط الاستبرآء [2]

"اوځما په نزد هر هغه حيله چه ثابتوی باطلوالے دحکمت شرعی هغه قبوله نه ده لکه حيله دساقط کولو دزکوة اوحيله دساقطول داستبراء (پاکوالے درحم دښځے يعنی دعدت)

بعض حضرات لکه مولوی صاحب حمدالله جان ډاګئ دځپلے سينه زورئ نه دحضرت سيدنا ابراهيم عليه السلام دتورئے نه حيله جوړه کړيده [1] چه هغوی ويلی وو انی سقيم چه زه بيمار يم .

---

[1] تفسير خازن ج٤ ص٤٣ بيروت لبنان - ماجدی ص۹۱۲ - والدر المختار مع رد المحتار ج۳ ص۱٤٤-

[2] روح المعانی ج۲۳ ص۲۰۹ وكذافی الماجدی ص۹۱۲

[1] البصائر لحمدالله الداجوی ص۱۲۹-



حالانکه هغه توریه وه اوتوریه دیته وئیلے شی چه دیو لفظ دوه معنی گانے وی دمخاطب ذهن نزدے معنی ته لاړشی اودمتکلّم مطلب معنی بعیده وی چه دواقعے سره مطابق وی دلته دابراهیم ﷺ مطلب داد ے چه څه ستاسو دشرك نه ناجوړه اومریض یم .(۲)

= دحیلوشرعی یا غیرشرعی حیثیت =

دبحث په اختتام کښں دحیلو دمذمت په باره کښں مختصر عرضونه کوم ارشاد خداوندی دے دهغه کسانو په باره کښں چه دخیالی دورځے دمهیانو ښکار پرے ممنوعه شوے وو اودقدرت کرشمه داوه چه په نوروورځوکښں به مهیان (سیند) سمندرکښں نه وو اودخیالی په ورځ به ښه ښکاره وو نو هغوی ډنډونه جوړکړه اولختی ورته رامات کړه چه کله به مهیان دغه حوضونوته راغله نو دوئ به لختی بند کړه یا میخ اوکونډو کښں به ئے گیر کړه بهرحال دغه مهیان به ئے داتوار په شپه راوړو اودابه ئے حیلے بهانے کښں ویل چه مونږه خو دخیالی په ورځ ښکار ندے کړے اوداعمل یوجماعت شروع کړه اوبل جماعت ددوئ په رد کښں تبلیغ شروع کړه اودریم جماعت ساکته چپ پاتے شو پس کله چه عذاب راغله نوبیان کونکی خلاص شو اوحیله گرتباه شو اودحافظ ابن کثیر دارشاد مطابق:

وسکت عن الساکتین لان الجزآء من جنس العمل فهم لا یستحقون مدحا فیمدحوا ولا ارتکبوا عظیما فیذموا (تفسیرابن کثیرج۲ص۲۵۷)

---

(۲) مدارك ج۱ص۲٤-معارف القران ج۷ص٤٥٢-جواهر القران ج۳ص۳۰-

"چه الله ساکت پاتې شو دساکتینو نه ځکه چه جزا دعمل پشان وی پس دوئ حقدار دمدحې ندی چه مدحه ئې وشی اونه ئې جرم کړې چه ذم ئې بیان شی "

اوخو سره ددینه اختلاف دائمه ؤ دې په د وئ کښې چه ده هلاکیدونکو دی اوکه ده خلاصیدونکو د ی . بهرحال دحیله ګرو انجام خو خوامخا دتباهی شو .

وَ سْـَٔلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ ۘ اِذْ يَعْدُوْنَ فِي السَّبْتِ اِذْ تَاْتِيْهِمْ حِيْتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَّ يَوْمَ لَا يَسْبِتُوْنَ ۙ لَا تَاْتِيْهِمْ ۛۚ كَذٰلِكَ ۛۚ نَبْلُوْهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۱۶۳﴾ وَ اِذْ قَالَتْ اُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُوْنَ قَوْمَا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ قَالُوْا مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ وَ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖۤ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوْٓءِ وَ اَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا بِعَذَابٍۭ بَـِٕيْسٍۭ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۱۶۵﴾ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴿۱۶۶﴾

(سورة الاعراف ۱۶۳\۱۶۴\۱۶۵\۱۶۶)

ترجمه :اوتپوس وکړه د دوئ نه دهغه کلی په باره کښې چه نزدې وو دریاب ته کله چه زیاتې کولو په (ښکار)دخیالی (ورزې)کښې کله چه راتله دوئ ته ماهیان ددوئ په ورځ دخیالی ددوئ ښکاره ماره اوکله به چه دخیالی په ورځې نوو نونه به راتله دوئ ته (خبره دغه رنګې وه) مونږه امتحان کولو په دوئ باندې په سبب دفسق ددوئ اوکله چه اوویل یوې ډلې د دوئ نه ولې وعظ کوئ هغه قوم ته چه الله تعالی ئې هلاکونکې یا عذاب ورکونکې په سخت عذاب سره نو اوویل (بلې ډلې) دپاره دعذرلتهولو رب ستاسې ته اوشاید چه دوئ هم ځان بچ کړی پس

کله ئې چه پریخودو هغه چه دوئ ته پرے پند ورکولے شوو . خلاص مو کړه هغه کسان چه منع ئې کوله دبدعمل نه اوومونیول ظالمانو لره په عذاب ناکاره په سبب دهمیشه فسق د دوئ پس هر کله چه سرکشي ئې وکړه دهغې نه چه دوئ ترینه منع شوی وو نواووئیل مونږه چه شئ شادوګان ذلیله "مفسرین حضرات لیکي :چه ددغه کلي نوم ایله اودکوه طور اودمدین په مابین کښ وو اودغه زمانه دحضرت سیدنا داود علیه السلام وه.[1]

دآیت کریمه په مفهوم کښ د حیله کونکي بار بار سوچ اوفکر اوتدبر وکړی چه انجام دحیلو څه دے؟

فسوف ترى اذا انكشف الغبار : افرس تحت رجلك امر حمار :

حضرت شیخ القرآن علامه مولانا محمد طاهر صاحب رحمه الله په خپل کتاب النشاط کښ ښه په بسط سره په دے کلام کړیدے فرمائي: چه حیله هغه شي دے چه رسیده پرے کیږی مقصودته اودا په نزد دعلماؤ په څوقسمه ده په اعتبار دباعث سره پدے باندے که چرے رسیدل کیده په دے سره په طریقه مباحے باطل والي دحق ته اواثبات دباطل ته پس دغه حرامه ده . اوکه اثبات دحق اودفع دباطل ته نو دغه واجبه اویا مستحبه ده اوکه رسیدل کیدے شو په دے باندے په طریقے مباحے سره سلامتیا ته دوقوع نه په مکروهوکښ پس دغه مستحبه یا مباحه ده اوکه چرے پریخوده دمستحبو وو نودغه مکروه ده .[2]

---

(1) (جواهر القران ج٢ص٣٩٢\ وموضح القران مصنفه شاه عبدالقادر صاحب رح

(2) النشاط: وعبارته هكذا: الحيلة وهي مايتوصل به الى مقصود بطريق خفى وهي عند العلماء على اقسام بحسب المحامل عليها فان توصل بها بطريق مباح الى ابطال حق او اثبات باطل فهي حرام او الى اثبات حق اودفع باطل فهي واجبة اومستحبة وان توصل بها بطريق مباح الى سلامة من وقوع في مكروه فهي مستحبة اومباحة او الى ترك مندوب فهي مكروهة: مولف غفرله

دحضرت صاحبؒ کتاب په دے موضوع کافی شافی دے ځرنګے چه نوم دے. ځه دهغه نه په یوے حوالے سره اکتفاء کوم.

وقال شمس الائمه فالحاصل ان مایتخلص به الرجل من الحرام اویتوصل به الی الحلال من الحیل فهوحسن وانما یکره ذالك ان یحتال فی حق الرجل حتی یبطله اوفی باطل یتموهه اوفی حق یدخل فیه شبهة فما کان علی هذا السبیل فهو مکروه وماکان علی السبیل الذی قلنا اولا فلا باس به لان الله تعالی قال وتعاونوا علی البروالتقوٰی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان[1] (المائدة ع۳)

"اووئیلی دی شمس الائمه پس حاصل دا ے چه هغه شے چه سړے پرے ځان خلاصوی دحرامو اویا رسیدل کوی حلالو ته دتدبیرونو نه پس دغه ښه دی اویقینا مکروه دی داچه حیله وشی په حق دسړی کښې تردے چه باطل ئے کړی اویا په باطل کښې چه مشتبه ئے کړی اویا په یوحق کښې چه شبه پکښې راولی پس هغه چه په دے طریقه وی نوهغه مکروه ده اوهغه چه په هغه طریقه وی کومه چه مونږه مخکښې بیان کړه نو باك نشته په هغه باندے ځکه چه الله تعالی فرمائی: اودیوبل سره مرسته وکړئ په نیکئ اوپه تقوی کښې اودیوبل سره مرسته مه کوئ په ګناه اوپه زیاتی "

دمذکوره بیان نه واضحه شوه چه مروجه حیله چه په ګڼرو مفاسدو مشتمله ده داممنوعه مکروهه ده اوپه دے کښې شمولیت تعاون په اثم اوعدوان دے ځه ښه ترجمه سهل تستری رحمه الله دایات مذکوره کړے ده هغو ی فرمائی :

[1] المبسوط للسرخسیؒ ج۳۰ص۲۱۰ المتوفی ۴۸۳، بحوالة النشاط ص ۷۱۶

ان (البر) الایمان (والتقوی) السنة (والاثم) الکفر (والعدوان) البدعة.

(روح المعانی ج۶ ص۶۷)

"یقینی دبر معنی ایمان اودتقوی سنت اوداثم معنی کفر اودعدوان بدعت ده"

بعض حضرات دحیلو دثبوت دپاره په امام محمد رحمه الله چه دمذهب نعمانی ناقل دے الزام لګوی چه هغوی کتاب الحیل جوړ کړیدے.

قال ابوسلیمان رحمه الله کذبوا علی محمد لیس له کتاب الحیل انما کتاب الحیل للوراق[1]

"ابوسلیمان فرمائی چه (حیله ګر) دروغ تړی په امام محمد رحمه الله دهغه کتاب کتاب الحیل (دحیلوکتاب) نه دے یقینا دحیلو کتاب دوراق (نوم سړے) دے.

③ د غم زده وو د پاره د خوراک سکاک انتظام

کله چه په مسلمان غم راشی اومړے اوشی نو سنت طریقه داده چه خپلوان اوګاونډیان دوئ لره دپخلی بندوبست وکړی لکه چه محدثین حضرات باب تړی چه کله دموتے[2] په غزاکښ درسول الله ﷺ دتره خوے جعفر رضی الله عنه بن ابی طالب شهید شولو اوجبرئیل امین اطلاع راوړه اودحضرت ﷺ په مخ مبارک اثر دغم ظاهریده نو هغوی یددے نه بعد فرمائیلی وو. علامه ترمذی داسے باب تړی فرمائی :

---

[1] الجواهر المضیئة ج۲ ص۳۸ لمحیی الدین القرشی المتوفی ۷۷۵ھ قال الشیخ انه هو ابوسلیمان الجوزجانی لا الجرجانی النشاط ص۱۱

[2] قتل شهیدا یوم مؤتة سنة ۸ھ ... وله احدی واربعون سنة فوجد فیما اقبل من جسده تسعون ضربة مابین طعنة برمح وضربة سیف - کذافی الاکمال فی اسماء الرجال ... لصاحب المشکوٰة - ص۵۸۹

باب ماجآء فی الطعام یصنع لاهل المیت عن عبد الله بن جعفر قال لما جآء نعی جعفر قال النبی ﷺ اصنعوا لآل جعفر طعاما فانه قد جآء هم مایشغلهم "[1]

"باب دے په بیان دهغه کښ چه دمړی والو دپاره دخوراك تیاره ولو په حق کښ راغلی دی دعبدالله ځوی دجعفر رضی الله عنه نه روایت دے چه کله دمرګ خبر دجعفر راغلو نبی ﷺ وفرمائیل چه دبال بچ دجعفر دپاره خوراك تیار کړئ پس یقینا دوئ ته داسے غم راغلے دے چه دوئ مشغوله کړیدی"

په دے حدیث پاك محدثین عظام اوفقهاء کرام رحمهم الله لیکی چه خپلوان اوګاونډ خاوندانولره پکار دی چه غم ځپلو لره تیاری دخوراك سکاك وکړی . عبارت ئے دادے

دل علی انه یستحب للاقارب والجیران تهیة طعام لاهل المیت[2]

"چه داحدیث دلالت کوی چه مستحب دی دخپلو انو اوګاونډیانو دپاره تیاره ول دطعام دغمزده کانو دپاره "

جناب محترم صاحب دفتح القدیر شارح دهدائے تحریر داسے کوی

ویستحب لجیران اهل المیت والاقربآء الاباعد تهیة طعام لهم یشبعهم یومهم ولیلتهم لقوله ﷺ اصنعوا لآل جعفر طعاما فقد جآء هم ما یشغلهم حسنه الترمذیؒ وصححه الحاکمؒ ولانه برمعروف ویلح علیهم فی الاکل لان الخزن یمنعهم عن ذالك فیضعفون"[3]

---

[1] الترمذی ج۱ص۱۵۱-ابواب الجنائز وفی ابی داؤدفانه قداتاهم مایشغلهم ص۲٤۷ ج۲الجنائز وکذافی المشکوة ج۱ص۱۵۱وابن ماجه ص۱۱۱۶المرقاة ج٤ص۹۶هامش الترمذیؒ ج٤ص۱۵۱هامش ابی داؤد ج۲ص٤٤۷مصر د-هامش المشکوة مصر دص۱۵۱-العرف الشذی ۳٤٤-التعلیق الفصیح ج۲ص۱۶شامی ج۱ص۶۶٤- مدخل ابن الحاج ج۲ص۲۸۸-مجالس الابرار ص۳۳٤-

[2] المرقاة ج٤ص۹۶-هامش الترمذی مصر٤ص۱۵۱هامش ابی داؤدمصر د ج۲ص٤٤۷-هامش المشکوة

[3] فتح القدیر ج۱ص٤۷۳-

"او مستحب دی ګاونډیانو دمړی والو او خپلوانو لرے لره تیارول د طعام دمړی والو دپاره چه ماړه کړی یو شواروز دوجے دوینا دنبی ﷺ نه چه تیار کړئ بال بچ دجعفر دپاره خوراك ځکه چه دوئ ته داسے غم راغلے دے چه دوئ ئے مشغوله کړیدی.

دے حدیث ته ترمذی حسن او حاکم صحیح وئیلے دے او بلے داچه دانیکی او احسان دے او زور به پرے لګوی په خوړلو کښ ځکه چه غم منع کوی دوئ لره دخوراك نه نو کمزوری به شی "

مولانا خلیل احمد رحمه الله شارح ابی داود پخپل تالیف کښ لیکی:

والمراد طعام یشبعهم یومهم ولیلتهم فان الغالب ان الحزن الشاغل عن تناول الطعام لایستمر اکثر من یوم وقیل یحمل لهم طعام الی ثلثة ایام مدة التعزیة الخ (بذل المجهود ص۵ الجنائز)"

مراد دادے چه داسے طعام به وی چه مړه وی دوئ لره یو شپه او ورځ ځکه چه غالبه داده چه غم مشغولوونکے دخوړلو دطعام نه نه پاتے کیږی زیات دیوے ورځے نه او وئیلی شوی دی وروړلے به شی دوئ ته طعام تر درے ورځو پورے څومره چه تعزئے (تسلی ورکولو) مده ده "

د ذکر شوی بیان نه معلومه شوه چه دغمزده ګانو دپاره خوراك تیاره ول یو مسنونه طریقه ده لیکن افسوس صد افسوس چه موجوده دجهالت دور کښ معامله برعکس شویده .کله چه مړے اوشی نو دمړی واله خلق راغواړی او حلالے ورله کوی او خوراکونه ورله تیاره وی او داعمل ئے دومره ضروری کړیدے چه دمړی تجهیز او تکفین نه ئے ګڼړی او بسا اوقات دمړی د قبر تیاریدو باوجود مړے ایساره وی ځکه چه ډوډئ تیاره نه وی او کوم خلق چه ئے دمکړیه وجه نخوری نو

په لارو کوڅوکښې په ډوډو کښې دغوښو ستهان ورکوی .اوعجیبه لاداده چه بعض استاذان ورته صدقه وائی اګرچه دیتیم اودغائب اودمشترکه مال نه وی اوپه ورځو دغم کښې وی اوکه دحق ویونکو له طرفه پرانکار اوشی اودسنت طریقے تلقین ورته وشی نو په هغه الزام لګوی چه دے خیرات ،صدقات ،نه منی .

والی الله المشتکیٰ وهو المستعان ٥

د مړی والونه دطعام پخولو بندیز که شومه وی که دریمه که جمعه وی اوکه تلین.

۱ . سنن ابن ماجهؒ کښې صاف باب تړی اوفرمائی :

باب ماجاء فی النهی عن الاجتماع الیٰ اهل المیت وصنعة الطعام

"با ب دے په منع والی کښې دراجمع کیدونه مړی والوته او(منع والی) دخوراك تیارولونه "

عن جریر بن عبدالله رضی الله عنه قال کنا نعدّ الاجتماع الیٰ اهل المیت وصنعهم الطعام من النیاحة(۱)

"دحضرت جریر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه وو مونږه چه شمیرلو به موراجمع کیدل مړی والوته اودهغوی طعام تیارولو لره دویرنه (یعنی چه څنګه ویر په مړی منع اوحرام دے هم دغه رنګے هغوی ته راجمع کیدل اوخوراك تیاروه ول دی)

داحدیث پاك یوه قاعده کلیه ده اوداصحاب کرامو اجماع پدے ده څنګه چه دحدیث مبارکه دمعنی نه معلومیږی .

(۱) سنن ابن ماجهٔ ص ۱۱۷- وکذافی المرقاة ج٤ص٩٦- وامداد المفتین ص ۷۸- وقال فی التبیان ص ۱۷۱ و کذالك فی المستدرك ص ۳۳٤-

۲. صاحب د العرف الشذیؒ لیکی چه سند دد ے روایت قوی دے
وسندها قوی [(۲)]

ابن الهمام حنفی رحمه الله اودهغه په نقل علامه شامی رحمه الله اونور علماء کرامو دغه شانے طعام تیاروه ولو ته بدعت مستقبحه ناکاره بدعت وئیلے دے دوضاحت دپاره څو حوالے دلیك لاندے راولم .

۳. ویکره اتخاذ الضیافة من الطعام لانه شرع فی السرور لافی الشرور وهی بدعة مستقبحة روی الامام احمد وابن ماجة باسناد صحیح عن جریر بن عبدالله رضی الله عنه الحدیث [(۱)]

اومکروه دی میلمستیا تیارول دطعام ځکه چه دامشروعه ده په وقت دخوشحالئ کښ نه په وخت دغمونو کښ اوداناکاره بدعت دے امام احمد رحمه الله اوابن ماجة رحمه الله په صحیح سند دحضرت جریر بن عبدالله رضی الله عنه (هغه) حدیث رانقل کړے ....الخ

۴. علامه شامی رحمه الله دفتاوی بزازیه په نقل لیك فرمائی :

۵. ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الی القبر فی المواسم واتخاذ الدعوة لقرأة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم اولقرأة سورة الانعام اوالاخلاص فالحاصل ان اتخاذ الطعام عند قرأة القرآن لاجل الاکل یکره [(۲)]

---

(۲) العرف الشذی ص۳٤٥۔
(۱) ص٤۷۳ ج۱فتح القدیر و کذافی ص٤۷۱ ج۵و ص٦٦٤ ج۱الشامی نقلاعن فتح القدیر و کذافی امدادالمفتین ص۸۸۔
(۲) (البزازیة علی هامش الهندیة ج٤ص۸۱و کذافی الشامی ج۱ص٦٦٤)

" اومکروه دی خوراك تيارول په اوله ورځ دمړی اوپه دريمه ورځ اوپس دجمعے نه او وړل دطعام ادیرے ته په خاص وختونو کښ اودعوت جوړول دپاره دلوستلو دقرآن اوراجمع کيدل دصالحانو اوقاريانو دپاره دختم يا دلوستلو دسورة انعام يا اخلاص پس حاصل دادے چه تياره ول دطعام دپاره دخوراك په وخت دلوستلو دقرآن کښ مکروه ده "

۲. هم دغه طور شاه محمد اسحاق رحمه الله .

۷. اومولانا احمدعلی لاهوریؒ خپلو خپلو کتابونو کښ ليکلی دی[۱] دعلامه بزازی دعبارت نه دشومے دريمے جمعګی (دجمعے شپه) مقبرے ته وړل دطعام اودختم طعام اوراجمع کيدل ټول ختم مکروه اوممنوعه شو . حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهی رحمه الله فرمائی

۸۔ اگر کھانا اهل میت نے ایسے لوگوں کے واسطے جو نوحہ گر جمع ہیں کہ ان کو کھلاویں تو حدیث میں آیا ہے کہ یہ نوحہ میں داخل ہے پس یہ حرام ہے اور اگر دوسرے لوگ میت والے کو کھانا کھلاویں تاکہ کھانے کے بعد اس کا غم کم ہو تو درست ہے۔

(فتاوی رشيديه ص۱۵۰)

" که چرے خوراك دمړی والو دداسے کسانو دپاره تيارکړه چه دويروالے جمع وو نو حديث کښ راغلی دی چه دا په وير کښ داخل دی پس داحرام دی اوکچرے نورخلق په مړی والو خوراك وخوری . چه دخوراك نه پس ئے غم کم شی نودادرست (صحی) دی "

مولانا موصوفؒ خپله فتاوی کښ بل ځائے کښ هم فرمائی :

---

[۱] مسائل اربعين ص۳۸ - واصلی حنفيت ص۱۶-

۹۔ مقرر کردن روز سوم وغیرہ با تخصیص اور ضروری انگاشتن در شریعت محمدیہ ثابت نیست صاحب نصاب الاحتساب آنرا مکروہ نوشتہ رسم وراہ تخصیص بگزارند ہر روزیکہ خواہند ثواب بر روح میت برسانند۔[1]

" مقرره ول د دریمې ورځې وغیره په تخصیص سره اودې لره ضروري ګڼړل په شریعت محمدیه کښې ثابت نه دی صاحب د نصاب الاحتساب (کتاب) دې لره مکروه لیکلې دی رسم اوتخصیص لاره دې پریږدی اویه هره ورځې چه غواړي ثواب د دمړي روح ته ورسوی

ابن امیر الحاج المالکی رحمہ اللہ هم خپل کتاب کښې نوټ داسې کوی

۱۰۔ واما — اصلاح اهل المیت طعاما وجمع الناس علیه فلم ینقل فیه شی وهی بدعة غیرمستحبة. (المدخل ج۳ ص۲۸۸)

اوهر چه برابرول د غمزده وو د دې طعام لره اوجمع کیدل د خلقو په دې باندې پس نه دی نقل شوی په دې کښې څه شی اودا بدعت غیر مستحبه ده "

جناب مولانامفتی محمد شفیع رحمہ اللہ د بریقې (کتاب) په نقل لیکی :

واقبح البدع عشرة وعدمنها طعام المیت وایقاد الشموع علی المقابر والبناء علی القبر وتزینه والبیتوتة عنده والتغنی والسماع واتخاذ الطعام للرقص واجتماع النسآء لزیارة القبور"[2]

[1] ص۱۱۸- وکذافی ص۱۳۳فتاوی رشیدیہ وکذافی اصلی حنفیت ص۷۲مصنفہ مولانا احمد علی لاہوری رحمہ اللہ۔

[2] البریقة شرح الطریقة المحمدیہ ص۱۳۳ وکذافی امداد المفتین ص۶۵۔

"او ډير ناکاره د بدعتونو نه لس دی او د دغونه ئے شمير کړی دی د مړی د طعام او بلول د شمعو په اديرو باندے او آبادی په قبر باندے او بنائسته کول د قبر او شپه تيرول د قبر خواکښ او ډم چوری او د سرود او ريدل او د ګډا د پاره خوراك برابرول او د ښځو راجمع کيدل د قبرونو دليدو د پاره .

۱۲ جناب مفتی صاحب رحمه الله دا هم ليکلی دی دغه سوال په جواب کښ چه د کلی والو د پاره د مخکښ نه طعام تياره وی چه کله د تدفين نه فارغه شی نو خوراك به ترينه او کړی او کچرے داسے او نشی د مړی والو د پاره د شرم سبب وی .

الجواب: یہ رسم بالکل بدعت وناجائز ہے اور علاوہ بدعت ہونے کے اسراف محض ہونے کی وجہ سے بھی حرام ہے نیز اسلئے بھی کہ موجودہ زمانے میں مسلمانوں کی حالت اس کو مقتضی ہے کہ اپنے پیسہ پیسہ کو احتیاط سے خرچ کریں قرض لینے سے بچیں اور اس رسم کے ہوتے قرض سے بچنا تقریباً ناممکن ہے۔ (امداد المفتین ص ۸۷)

جواب :دارسم بالکل بدعت او ناجائز دے او د بدعت والی نه علاوه د خالص اسراف کيدونه هم حرام دے د دے وجهے نه هم چه موجوده زمانه کښ د مسلمانانو حالت د دے تقاضا کوی چه خپلے پيسے پيسے په احتياط سره خرچ کړی او د قرض اخستلو نه بچ شی او د دے رسم د کيدو په وجه د قرض نه بچ کيدل تقريبا ناممکن دی .

په فتاوی هنديه کښ چه مشهوره په فتاوی عالمګيری ده داسے راغلی دی. ولايباح اتخاذ الضيافة عند ثلاثة ايام[1]

[1] هنديه ج۱ ص ۱۶۷

"اوروا نه دی میلمستیا په وخت ددرے ورځو کښ (کومے چه دغم ورځے شپے وی)

۱۴. شیخ الحدیث مولانا خلیل احمد صاحب رحمه الله دابوداؤد په شرح کښ دملاعلی قاریؒ نه نقل کوی لیکی:

واصطناعه من بعید اوقریب للنائحات شدید التحریم لانه اعانة علی المعصیة واصطناع اهل المیت لاجل اجتماع الناس علیه بدعة مکروهة بل صح عن جریر رضی الله عنه کنا نعده من النیاحة وهوظاهرفی التحریم قال الغزالی: ویکره الاکل منه قلت وهذا اذالم یکن من مال الیتیم اوالغائب والافهوحرام انتهی ماقاله القاری رحمه الله [۲]

"اوتیاره ول دخوراك دلرے اونزدے (کسانو) دپاره دویرکونکو سخت حرام دی ځکه چه دائے مرسته ده په ګناه باندے اوتیاره ول دمړی والو دپاره دجمع والی دخلقو په مړی باندے ناکاره بدعت دے بلکه صحیح حدیث کښ دحضرت جریر رضی الله عنه نه راځی چه مونږه به دادویرنه حسابوو. اوداحدیث ظاهر دے په حرام والی ددے کښ امام غزالی رحمه الله وائی چه خوراك ترینه مکروهه دے (قاری رحمه الله وائی) چه ځه وایم اوداهله چه نوی دغه طعام دمال دیتیم یا غائب نه اوکچرے وی نو خوراك ترینه حرام دے"

۱۶. شیخ الحدیث مولانا محمد عبدالسلام رستم (رحمه الله) هم خپل کتاب کښ لیکلی دی:

---

[۲] البذل المجهود ص۱۷۹- المرقات ج۴ص۹۶- وکذافی هامش المشکوة نمبر۲ ج۱ص۱۵۱-

۱۷. وقال فی مظاهر الحق: چهلم، سہ ماہی وبرسی سب حرام ہیں۔

۱۸. وقال فی سفر السعادت طعام اهل المیت بدعة"(۱)

"اوپه مظاهر حق (کتاب) کښې وئیلی دی څلویښتی اودریمے میاشتے طعام اوتلین ټول رسمونه حرام دی اوپه کتاب سفرالسعادت کښې وئیلی دی دمړی والو له طرفه خوراك تیاره ول بدعت دے"

۱۹. جناب مولانا مفتی عزیز الرحمن صاحب رحمه الله دفتح القدیر اوبزازیه عباراتوده نقل کولونه بعد فرمائی:

سوم، دہم اور چہلم سب ممنوع وبدعت ہے۔ (عزیزالفتاوی ص۱۰۸)

"دریمه لسمه اوڅلویښتمه ټول منع اوبدعت دے"

اوبل ځائے کښې مړی ته دثواب رسولو په حق کښې ذکر کوی:

ایصال ثواب بر روح بزرگان وعام مؤمنین امر خیر وموجب اجر ہے مگر اپنی طرف سے قیود وتاریخ سوم، دہم، چہلم، یازدہم اور فاتحہ وغیرہ نہ لگائیں۔(۱)

"رَسَوَل دثواب روح دبزرګانو اوعامو مؤمنانوته کار دخیر اوسبب داجر دے مګر دخپل طرف نه قیدونه اودریم اولسم اوڅلویښتمه او یوولسم تاریخ اودفاتحے وغیره دپاره دنه لګوی"

الحاصل دغمزده ګانوله طرفه دغم په ورځو کښې طعام تیاروه ول اوهغه لره دخلقو خوړل ممنوع حرام ناجائز دی اودغم دورځو نه غیرهم دخان له طرفه ورله قید لګول تخصیص کول هم منع اوبدعت دے دحضرت حکیم الامت اشرف علی صاحب رحمه الله دعبارت په

(۱) مظاهر الحق ج۱ص۲۲ سفر السعادة ص۷۳- وکذافی التبیان فی ام القران ص۱۷۹-

(۱) عزیزالفتاوی ص۹۸ طبع دارالاشاعت کراچی

ترجمه دابحث ختمومه هغوی وائی:

۲۰. په اکثرو ځاینو کښې دستور دے چه په څه معینو تاریخونو کښې یا دهغه نزدے نزدے مخکښې روستو څه خوراك پخوی په خپلوانو کښې تقسیمیږی اوڅه په مسکینانو باندے خوره وی اوددغه ثواب مړی ته بخی دغه قصه دریا اوتفاخر یقینی ده اودرسم دتابعداری دوجے نه ددغو داسے پابندی ده چه بعض وختونو کښې قرض اخلی اوکوی ئے اوکچرے څوك دویٔ ته ووائی چه څومره رقم په دے کښې لګیږی هغه په پټه طریقه ورکړئ نو هیڅکله ئے نه خوښوی اوداخیال کوی چه اوهو څومره خرچ وشو اوهیچاته ته اطلاع ونشوه اواکثر دشریکے میراثے نه دارسمونه اداکیږی چه دهغے ممنوع والے (مخکښې بیان شوے دے) ددے نه علاوه په دے کښې دخپلوانو څه حق دے غیرمستحقو ته ورکول دمال بربادی ده چه دهغه منع والے قرآن اوحدیث کښې موجود دے دومره مفاسد په دغه تقسیم طعام کښې جمع شوی دی ددے وجے نه ددے پریخودل واجب دی بعض خلق وائی چه دثواب رسیده څنګه وکړی نو جواب دادے.

که جس طرح سلف صالحین کرتے تھے بلا تقید و تخصیص اپنی ہمت کے موافق حلال مال سے مساکین کی خفیہ مدد کریں اور جو کچھ توفیق ہو بطور خود قرآن وغیرہ ختم کرکے اس کو پہنچادیں۔ (اصلاح الرسوم ص ۱۳۴)

"چه څنګه طریقه باندے سلف صالحینو کولو بغیر دقید لګولو تخصیص کولو خپل وس مطابق دحلال مال نه دغریبانو پټ مدد دے وکړی اوڅومره ئے چه توفیق وی پخپله دے قرآن وغیره ختم کړی اوهغه ته دثواب ورسوی.

د هندوانو د ثواب رسولو طریقے

اکثر دغه بدعات اومصنوعي خیرات اودایصال ثواب غیرشرعي صدقات دهندوانو نه مسلمانانو کښې رائج شوی اومشهور شوی دی لکه دعلامه بیرونی رحمه الله اومولانا عبیدالله صاحب رحمه الله اومولانا ابوالخیر رحمه الله دتحقیق نه معلومیږی دهغو ی عبارات دناظرینو په حضور کښې پیش کولے شی .

واما مالزم للوارث اقامته من حقوق المیت فی السنة الاولی فهو ستة عشرة ضیافة یطعم فیها ویتصدق منها کل واحد من الیوم الحادی عشر والخامس عشر من یوم موته والتی فی سادس الشهور منها مزیة علی غیرها فی الکثرة والجودة ....واما شهرپوش فانهم یکثرون فی اکثر ایامه من پول وهو طعام حلو یتخذونه[1]

"اوهر څه هغه دی چه پوره کول ئے دوارث دپاره لازم وو دحقوقونو دمړی نه پس دغه شپاړس دی یوه داسے میلمستیا ده چه خوراك به ورکولے شو په دغه کښې اوصدقه به ترے کیدے شوه په هریو دیولسمے ورځے اوپنځلسمے ورځے دوخته دمرګ دمړی نه اوهغه چه په شپږمه میاشت به وو هغه به زیات وو په نورو باندے په ډیروالی اوښه والی کښې ....اود پوه میاشت په اکثرو ورځو کښې پول ورکوی چه دایو خوږ طعام چه دوئ به تیاره ولو "مولانا عبیدالله

[1] کتاب الهند ص۲۸۲ طبع یورپ للعلامة البیرونی رحمه الله المتوفی ۴۴۰ ، کذاذکر مولانا ابوالخیر الاسدی الملتانی رحمه الله فی کتابه ملاجی کا مردہ ٹیکس ص۸

ﷺ چه مخکښې هندو مذهبې وو اوبيا په سنه ۱۳۰۱ھ کښې په اسلام[1] سره مشرف شو ګويا دوئ ته دهندوانو رسمونه ښه معلوم دی لکه چه مشهوره مقوله ده صاحب البيت ادری بما فيه "چه دکور مالك دکور په حالاتو باندے ښه پوهيږی . دوئ داسې ليکی :

ثواب پہنچانا ان کے نزدیک اگرچہ ہر روز درست ہیں پھر بعض دن مقرر کرنے ضروری جانتے ہیں چنانچہ ایک دن واسطے کریاکرم مقرر ہے۔

" ثواب رسول د دوئ په نزد اګرچه په هره ورځ درست دی خو بعض ورځې مقررئې ضروری ګنړلې .چنانچه يو ورځ ئې د کرياکرم دپاره مقرروه " اوداهم ليکلی دی .

اومہابرہمن وہ برہمن ہے کہ مردوں کے نام کا صدقہ ان کو دیتے ہیں الخ۔

"اومها برهمن هغه پنډت وو چه د مړو نوم صدقه به ئې هغه ته ورکوله اوورانده ئې داهم ليکلی دی .

ازاں جملہ ایک چھ ماہی کادن ہے یعنی مرنے کے بعد چھ مہینے ازاں جملہ برسی کادن ہے اور اس دن گائے کو بھی کھانا کھلاتے ہیں الخ۔۔۔[2]

"ددغو صدقو نه يوه شپږمياشتيزے ورځ وه يعنی دمرګ نه پس شپږمياشتې اودغو نه يوه دتلين ورځ ده په دے ورځ به ئې غواته هم خوراك ورکوو "

مولانا ابوالخير اسدی ﷺ ديوسوال په جواب کښې ددغه صاحب نه نقل کوی .

---

(۱) كذافی طبقات المفسرين ص ٣٦٢ لشيخنا العلامة مولانا محمد طاهر الفنجفيري ﷺ.

(۲) تحفة الهند ص ۵۷ كذافی ملاجی كامرده تيكس ص ١١\١٢ نقلاعن تحفة الهند:

اگر ہندو ہم پر اعتراض کریں۔ ایسی باتیں تمہارے مسلمان اور مولوی بھی کرتے ہیں تو اِن کے جواب میں لکھتے ہیں ہمارے دین میں اور دین والوں کی ریس (RACE) ان باتوں میں منع ہے جن کی اصل ہمارے دین میں کچھ نہ ہو اور ان کی خصوصیات میں سے ہو۔ (اور جو مولوی ایسا کرتے ہیں) دو چار پیسے پر اپنی تقویٰ بیچتے ہیں۔

(ملاجی کا مردہ ٹیکس ص ۱۴. تحفۃ الہند ص ۸۸\۸۲)

"که چرے هندوان په مونږه اعتراض وکړي چه داسے خبرے ستاسو مسلمانان اوملیان هم کوی نودهغو ی په جواب کښ (صاحب دتحفة الهند کتاب) لیکی چه زمونږه په دین کښ دنورو دینونو (ریئس) مقابله په داسے خبرو کښ منع ده چه د کومو اصل زمونږه په دین کښ څه نه وی اودهغو ئ دخصوصیاتو نه وی (اوکوم ملایان چه داسے کوی هغو ی) په دوه څلورو پیسو خپله تقوی خرڅه وی "

په ذکر شوو حوالجاتو دے اسلام مئین حضرات غور وکړی چه دغیرو درسمونو پیروی څنګه نن صبا په اهل اسلامو کښ راغلے ده په دے وعید هم فکر کول پکار دی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

من تشبه بقوم فهومنهم .

"چاچه مشابهت اختیارکړو په کوم قوم پسے پس هغه دهغوی نه شو"[1]

"دعاصم بن كليبؒ دَروايت نه دشومے دپاره استدلال اود هغه نه جوابات

څنې کسانو چه داحادیثو په پوره کتابونو باندے نظرنه وی کړے هغوی

[1] رواه احمد وابوداود عن ابن عمر رضي الله عنه كذافي المشكوة ج۲ص۳۷۵:

دمړی کور د ډوډئ دجواز دپاره دعاصم بن کلیبؒ روایت پیش کوی کوم چه مشکوة شریف کښې ذکر دے حالانکه هغه کښې لږه غوندے غلطي دکوم کاتب نه راغلې ده چه دهغې غلطئ په وجه بیاروستو هم ډیرو حضراتو قلم خوئیدلے دے اودخپلو دعاشقانو دپاره گویا ثبوت گرځیدلے دے.

څه دخدائی تعالی په توفیق سره اولاً هغه حدیث باترجمه پیش کوم اوبیا دمشائخو دارشاداتو په رڼا کښې جوابات پیش کوم حدیث دادے.

عن عاصم بن کلیبؒ عن ابیه عن رجل من الانصارؓ قال خرجنا مع رسول الله ﷺ فی جنازة فرایتُ رسول الله ﷺ وهو علی القبر یوصی الحافر یقول اوسع من قبل رجلیه اوسع من قبل راسه فلما رجع استقبله داعی امراته فاجاب ونحن معه فجِیئَ بالطعام فوضع یده ثم وضع القوم فاکلوا فنظرنا الی رسول الله ﷺ یلوك لقمة فی فمه ثم قال اجد لحم شاة اُخِذَتْ بغیر اهلها فارسلت المراةُ تقول یارسولَ الله ﷺ انی ارسلت الی النقیع وهو موضع یباع فیه الغنم یشتری لی شاة فلم توجد فارسلتُ اِلی جار لی قد اشتری شاة ان یرسل بها الی بثمنها فلم یوجد فارسلت الی امراته فارسلت الی بها فقال رسول الله ﷺ اطعمی هذا الطعام الاسری (رواه ابوداؤدؒ والبیهقیؒ فی دلائل النبوة)[1]

دعاصم بن کلیبؒ نه روایت دے هغه دخپل پلار نه اوهغه دیوسړی دانصاروؓ نه وائی چه مونږه وتلو درسول ﷺ سره په یو جنازه کښې پس

[1] مشکوة المصابیح ج۲ ص۵۴۴-المعجزات:

وم لیدلو رسول الله ﷺ چه دقبر دپاسه ولاړو اوکنستونکے ته ئے وصیت کولو فرمائیل ئے چه فراخه کړه قبرلـه طرفـه دخپودده نه اوفراخي وکړه دطرفه دسردده نه پس کله چه واپس شو نومخے لره ئے راغله قاصد دښځے ده هغه پس دعوت ئے قبول کړو نو طعام راوړے شو پس لاس حضور ﷺ کیښوده اوبیانور قوم لاس کیخوده اوخوراك ئے شروع کړه مونږه وکتل رسول الله ﷺ ته چه نوړئ ئے په خوله کښ جوله بیائے وفرمائیل چه بیا مومه غوښه دداسے بزے چه بغیر داجازے داهل خپل نه اخستلے شویده پس پیغام راولیږه هغه ښځے وئیلے اے دالله رسوله ﷺ ماقاصد ولیږه نقیع ته اودایوځائے دے چه چیلئ پکښ خرڅیږی پس هلته څه مونده نه شو پس جواب م ګاونډی ته ولیږه چه چیلئ ئے اخستے وه چه ماته ئے په قیمت راولیږه هغه هم نه وو نودهغه ښځے ته م پیغام ولیږه نوهغے ماته راولیږه پس اوفرمائیل رسول الله ﷺ چه داطعام قیدیانو ته ورکړه ".

دحدیث نه استدلال په دے طریقے سره دے چه ﷺ کله دهغه جنازے نه واپس راتله نو اِسْتَقْبَلَهُ دَاعِي اِمْرَاتِه "مخے ته ئے قاصد دښځے دهغه راغلے یعنی په امراته لفظ کښ ضمیر مضاف الیه مړی ته راجع دے لکه چه قاری رحمه الله مرقاة کښ ذکرکړیدے.

نوجوابات ترینه دادی :

(۱)اول خو دعاصم بن کلیبؒ روایت قابل حجت نشی کیدے چه کله دامنفرده په روایت کښ شی:

قال ابن المدینیؒ لایحتج بما انفرد به (بذل المجهود ج۴ ص۳)

"ابن المدینیؒ فرمائی چه قابل حجت نشی کیدے هغه حدیث چه یوه دوے پرے وی (یعنی عاصم بن کلیبؒ) میزان الاعتدال ج۲ ص ۳۵۱

(۲) دوئیم داچه صاحب دمشکوۃؒ حواله په بیهقیؒ اوابوداؤدؒ ورکوی اوهلته لفظ دداعی امرأة دے ضمیرپکښ نشته نواصل کښ په چا چه حواله ورکړے شویده هغه لره اعتبار[۱] دے نومعلومیږی چه دکوم لیکونکے نه غلطی شویده چه ضمیرئے زیات کړے دے.

(۳) درئیم داچه متعددو کتابونو داحادیثو کښ هم دغه روایت دعاصم بن کلیبؒ دے اوضمیر ذکر پکښ نشته هغه کتابونه باحواله په حاشیے باندے وګوری[۲].

(۴) څلورم داچه امام ابوجعفر الطحاوی رحمه الله چه کله داروایت ذکرکوی نو هغه لیکی چه دادعوت دیوے ښځے دقریشو نه وو لکه چه هغه پخپل سند سره ذکر کوی چه زهیر بن معاویهؒ وائی :

(۱) مشکوۃ ناقل هے ابوداؤدؒ سے لهذا ابوقت تعارض ابوداؤد کی روایت کا اعتبار هوگا پس استدلال کی بناء منهدم هوگی۔ احسن الفتاوی ص ۱۳۱

(۲) ابوداودؒ ص ۴۷۳-عون المعبود ج۳ ص ۳۴۹-بذل المجهود ج۵ ص ۲۳۹ طبع قاسمیه ملتان سنن الکبری للبیهقیؒ ج۲ ص ۹۷-مشکل الاثار للطحاویؒ ج۴ ص ۱۳۲-طبع الدکن الدارالقطنیؒ ج۴ ص ۵۴۵ مسند الامام احمدؒ ج۵ ص ۲۹۲ طبع بیروت خصائص الکبری ج۲ ص ۱۰۲-المستدرک للحاکمؒ ج۴ ص ۲۳۴-المحلی لابن حزمؒ المتوفی ۴۵۲ طبع مصر ج۷ ص ۴۱۵-هامش الهدایۃ ج۳ ص ۳۷۷ نمبر۵-الدرایۃ علی هامش الهدایۃ کتاب الغصب ج۳ ص ۳۷۷-حکایۃ الصحابۃ من فضائل الاعمال ص ۵۵-وراجع الی ص ۱۳۱ احسن الفتاوی وص ۲۵۰ المنهاج الواضح وص ۱۷۲ التبیان و ۲۲۳ ج۱ هامش المرقاۃ:

حدثنا عاصم بن کلیب عن ابیه عن رجل من الانصار انه کان مع رسول الله ﷺ فی جنازة فلقیه رسول امراة من قریش یدعوه الی طعام الحدیث[1]

"چه مونږه ته حدیث بیان کړے دے عاصم ځوی د کلیب دخپل پلار نه دیوسړی دانصارونه چه سره د رسول ﷺ په یوے جنازے کښې پس ملاؤ شه دوی سره قاصد دیوے ښځے دقریشونه چه بللوئے دوی لره طعام ته نوهرکله چه ښځه دقریشو نه شوه نومړی دښځے ذکر پکښې دکوم ځائے نه شو ۔

(۵) پنځم داچه امام محمد رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله هم دغه دعاصم بن کلیب عن ابیه روایت کښې فرمائی:

(قال ابوحنیفة) عن عاصم بن کلیب (عن) رجل من اصحاب رسول الله ﷺ قال صنع رجل من اصحاب رسول الله ﷺ طعاما للنبی ﷺ وقمنا معه الحدیث[2]

"امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی: دعاصم ځوی دکلیب رحمه الله نه دپلار خپل نه دیو سړی داصحابو دنبی ﷺ نه چه تیار کړے وو یو سړی دملګرو دنبی ﷺ طعام دپاره دنبی ﷺ پس پاسیده نبی ﷺ او مونږه ورسره هم پاسیدو (بیا ئے تول حدیث ذکر کړے دے)

اعجوبه: هم دغه یو روایت دے چه رسول اکرم ﷺ لره دعوت پکښې ذکر دے پس دتشریف راوړلو دهغوی دیوے جنازے نه چه امام

---

(۱) شرح معانی الاثار للطحاوی رحمه الله باب اکل لحوم الحمر الاهلیة ج۲ص۳۵۲ - دجناب طحاوی رحمه الله دعبارت نه هم جواب وشو چه څنګه وائی چه ابوداود کښې ضمیر نشته لیکن تنوین ئے عوض دمضاف الیه نه دے نوواضحه شوه چه امراة من قریش وه نه امراة المیت .

(۲) جامع المسانید ج۲ص ۶۹ وکذافی کتاب الاثار ص۱۲۵ للامام محمد رحمه الله .

ابوحنیفهؒ المتوفی ۱۵۰ ه فرمائی چه دعوت ورکونکے سړے وواوګنړ محدثین حضراتؒ اوامام ابوداودؒ المتوفی ۲۷۵ ه وائی چه دایوه ښځه وه اوامام ابوجعفر الطحاویؒ المتوفی ۳۲۱ ه وائی چه دعوت کونکے یوه ښځه دقریشونه وه بیا شیخ ولی الدین التبریزی رحمه الله صاحب المشکوة چه په ۷۳۷ ه کښی ترے فارغه شویدے ذکرکوی چه دعوت کونکی امراته دهغه ښځه وه په زیادت په یو ضمیرسره بیا ملاقاری المتوفیؒ ۱۰۱۴ ه ولیکل ای امراة المیت یعنی چه دعوت کونکی دمړی ښځه وه .

یعنی داتغیر دیولسمے صدئ نه شروع شو اوبیا دخیرات خوړونکو دوستانو ته موقعه په لاس ورغله حالانکه مړے اودمړی ضمیر اصل حدیث کښی نه وو اودعوت کونکے یوسړے وو. اوقاصد دهغه ښځے چه دقریشی خاندان نه وه جناب رسول الله ﷺ ته لیږلے وو نوتطبیق اوجمع په دے ډول سره راځی څه رنګے چه زمونږه شیخ رحمه الله فرمائی :

(۶) شپږم علامه شامی رحمه الله دعاصم بن کلیبؒ والا روایت پحقله دصاحب کبیریؒ دتردید په سلسله کښی لیکی چه :

"هذه واقعة حال لاعموم لها (الردالمحتار ج۲ ص۲۶۴)"

"دایوحالی واقعه ده عموم ورله نشته "

(۷) اووم مولانا صفدر صاحب رحمه الله خپل کتاب کښی نوټ کړیدی چه (علاوه داچه کله ملاقاری رحمه الله داصل حقیقت جائز ه واخسته نوپخپل آخری تصنیف کښےددے نه رجوع وکړه چنانچه)هغوی په شرح نقایه ج ۱ ص ۱۴۰ کښی صفا لیکلی دی چه دمړی دکورنه

کھانا تناول کرنا مکروہ اور بدعت مستقبحہ ہے۔(راہ سنت ص۲۵۰/۲۵۱)

"خوراك كول مكروه اوناكاره بدعت دے"
كومو كتابونو كښ چه دمړى دكور والو له طرفه دطعام وركول اجازت معلوميږى دهغوى هم صرف دغه يوروايت دے چه مشكوة شريف كښ ذكر دے ليكن دغه دليل هم دهغو دپاره نه صحيح كيږى ځكه چه دغه زيادت اصلى حديث كښ نشته .

دضيافت معنى اود يوے شبهے ازاله

بعض حضرات چه مُلزَم شى نودځان دخلاصيدو اودشومے دجواز دپاره داحيله راوباسى چه منع دضيافت ميلمستيا نه راغلے ده نه دتَصَدُق خيرات نه نوحديث پاك اودهغه په تائيد كښ ټول كتابونه په ضيافت حمل كوى وليكن خپل عرف ته هم نه گورى چه دغه ډوډئ خومره دتكلف وى اوراغلى كسانو ته ميلمانه وائى اودميلمانو غوندے احترام ئے كيديشى بلكه دمړى دكيدو سره سم انتظام شروع كړى اووائى چه ميلمانه رانه هسے لاړنشى اوځنے وائى چه ميلمنو ته خيرجه نشم .

علاوه داچه دعلمآء كرامو فقهآء عظامو ټول لفظونو دضيافت هم ندى ځنگه چه مخكښ ذكر شو چه (۱) ضيافت (۲) صنعة الطعام (۳) اتخاذ الطعام ،(۴) طعام الميت (۵) اصلاح اهل الميت للطعام (۶) طعام اهل الميت (۷) اصطناع اهل الميت وغيره وغيره الفاظ راغى چه حاصل ئے دادے چه دمړى دخپلوانوله طرفه خوراك سكاك تياره ول نورورا جمع شوو كسانو له مكروه بدعت حرام ناجائز دى .

بل داچه طعام هغه دے چه میلمه خوری اوغواړی اوضیافت هغه دے چه کوروالہ ئے ورکوی نومطلب داشو چه بیرونی خلق به ئے هم ترینه نه غواړی اودمړی دکور باشندګان به هم څه انتظام نه کوی .

علامه سیوطی رحمه الله متوفی سنه ۹۱۱ھ اوعلامه الوسی رحمه الله دواړه خپلو کتابونو کښ لیکی په واقعے دحضرت موسی اوخضر علیهما السلام کښ چه الله تعالی فرمائی چه دوئ په یوکلی راغله نودهغو نه طعام اوغوښتلو اوهغه کلی والو د دوئ ضیافت میلمستیا نه انکار وکړو .

فَانْطَلَقَا حَتّٰۤى اِذَاۤ اَتَيَاۤ اَهْلَ قَرْيَةِ ٍۨاسْتَطْعَمَاۤ اَهْلَهَا فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا .

(سورة الكهف آيت ۷۷)

"پس دواړه روان وو تردے چه راغله یوکلی والو ته نو طعام ئے وغوښتلو د اوسیدونکو دهغه نه پس انکار وکړو هغوی دمیلمستیا ددوئ نه"

نو دغه دواړه حضرات ددے سوال (چه استطعام اوضیافت مینځ کښ څه فرق دے ؟) په جوابکښ فرمائی :

قال زين الدين الموصلى رحمه الله انما خص سبحنه الاستطعام بموسى وخضر عليهما السلام والضيافة بالاهل لان الاستطعام وضيفة السآئل والضيافة وضيفة المسئول لان العرف يقضى بذالك فيدعوا المقيم القادم الى منزله يساله ويحمله اليه انتهى [1]

"چه زین الدین موصلی رحمه الله وائی چه یقینا خاص کړه الله تعالی طعام غوختل په موسی علیه السلام اوخضر علیه السلام پورے اوضیافت په کلی

[1] الاشباه والنظائر ج۲ص۱۸للسیوطی الفن السابع -روح المعانی ج۱۶ص۶ او کذالک نشر المرجان ص۲۰۷للحضرة مولانا خان افضل صاحب (شاهپور رحمه الله)

والو پورے ځکه چه طعام غوختل دغوختونکی وظيفه اوعمل دے اوضيافت ميلمستيا دغوختلي شوي عمل دے ځکه چه عرف پدے فيصله کوي پس دکور خاوندميلمه رابلي خپل منزل ته مطا لبه ترينه کوي اوطعام ورله وروړي نوحا صل داشوچه طعام اوضيافت يوشے دے ليکن فرق په اعتبار دميلمه اوميزبان سره دے۔

د مړیؒ په پاتے شوی مال پورے پیوسته شوی حقوق

کله چه يوانسان ددارفنآء نه سفروکړی نوددغه دميراث مال متعلق څلور حقونه بالترتيب راځی اول تکفين اوتجهيز دويم دقرضونو خلاصول دريم دوصيت پوره کول ددريمے حصے دمال نه څلورم باقی مال دميراث خورو په مابين کښ تقسيم کول .دميراث مشهور کتاب سراجی وائی :

قال علمآءنا رحمهم الله تعالیٰ تتعلق بترکة الميت حقوق اربعة مرتبة الاول يبدا بتکفينه وتجهيزه من غير تبذير ولاتقتير ثم تقضی ديونه من جميع مابقی من ماله ثم تنفذوصاياه من ثلث مابقی من الدين ثم يقسم الباقی بين ورثته بالکتاب والسنة واجماع الامة .اه[1]

"وائی زمونږه علماء رحمهم الله تعالیٰ چه دمړی په مال پورے څلور حقونه"ترتيب وار متعلق کيږی اول به شروع کولے شی په کفن ورکولواوسمبالولو دهغه بغير دزياتی اوکمی نه بيا به يے قرضونه

[1] السراجی للشيخ سراج الدين محمدبن عبدالرشيدالسجاوندی الحنفی من ص۲الی۴

خلاصولے شی دټول باقی مانده مال دده نه بیا به پوره کولے شی وصیتونه دهغه دپاتے مال دقرض دریمے حصے نه بیا به تقسیمیږی باقی مال دمیراث خورو په مابین کښ دکتاب اوسنت اواجماع امت مطابق باندے"

سید شریف صاحب رحمه الله دسراجی په شرحه کښ ددغه ترتیب متعلق داسے فرمائی :

وانما کان قضآء الدین مؤخرا عن الکفن لانه لباسه بعد وفاته فیعتبر بلباسه فی حیاته الاتریٰ انه یقدم علی دینه اذلایباع ماعلی المدیون من ثیابه مع قدرته علی الکسب ومقدما علی الوصیة وان قدم ذکرها علیه فی نظم الایة لما روی عن علی انه قال رایت رسول الله ﷺ بدأ بالدین قبل الوصیة"[1]

"اویقینا ادا کول دقرض روستو شو دکفن ورکولو نه ځکه چه کفن جامے دمړی دی پس دمرګ نه پس قیاسولے شی په جامو دده په ژوند کښ آیا نه ګورے چه جامے دده مخکښ شویدی په قرض دده ځکه چه نشی خرڅیدلے دقرضدارو په تن جامے سره دقدرت دهغه نه په کسب باندے اوقرض مخکښ شوے په وصیت باندے اګرچه په لفظ دآیت کښ دوصیت ذکر مخکښ شویدے دوجے دهغه حدیث چه حضرت علی رضی الله عنه نه نقل شویدے فرمائی چه مالیدلے وورسول الله ﷺ چه شروع یے کړے وه په قرض مخکښ دوصیت پوره کولو نه "

[1] الشریفیة للسید علی الجرجانی رح ص ه

په ذکرشو مضمون دغور کولو نه پس افسوس په دے دے چه سادګان مسلمانان دقرض غم نه کوی اودخیرات په کوشش کښې دی اودکور دمشترکه مال نه قبل ازتقسیم خیرات کیدے شی . جناب مفتی محمدشفیع صاحب رحمہ اللہ دمسئلے په عنوان سره لیکی :

ترکہ کی تقسیم سے پہلے اس میں مہمانوں کی خاطر تواضع اور صدقہ خیرات کچھ جائز نہیں اس طرح کے صدقے کرنے سے مردے کو کوئی ثواب نہیں پہنچتا بلکہ ثواب سمجھ کر دینا اور بھی سخت گناہ ہے اس لئے کہ مورث کے بعد اب یہ سب مال وارثوں کا حق ہے اور ان میں یتیم بھی ہوتے ہیں اس مشترکہ مال سے دینا ایسا ہی ہے جیسا کہ کسی کا مال چرا کر میت کے حق میں کردیا جائے اس کو بعد اگر وہ وارث اپنے مال میں سے اپنی مرضی سے میت کے حق میں صدقہ خیرات کریں توان کو اختیار ہے۔ تقسیم سے پہلے بھی وارثوں سے اجازت لیکر مشترک ترکہ میں سے صدقہ خیرات نہ کریں الخ۔۔۔ [1]

مسئله: دمیراث دتقسیم نه مخکښې ددغه نه دمیلمانو دزړه راماتولو اوصدقه خیرات هیڅ جائزنه دی په داسې طریقه صدقه اوخیرات کولو نه مړی ته هیڅ ثواب نه رسیږی بلکه دثواب په خیال ورکول نوره هم سخته ګناه ده ددے وجے نه دمړی دمرګ نه پس داټول مال دوارثانو حق دے او په دے کښې یتیم هم وی ددے شریك مال نه اوس ورکول داسې دی لکه چه مال غلاکړی اودمړی پحق کښې ئے صدقه کړے شی اول به مال تقسیم شی ددغه نه پس کچرے هغه وارث دخپل مال نه پخپله مرضی سره مړی په حق کښې صدقه خیرات کړی نوده لره

[1] معارف القرآن ج۲ص۳۷۔

اختیار دے دتقسیم نه مخکښ هم دوارثانو په اجازه دشریکے میراثے نه په صدقه خیرات نه کوی .

د مړی د خپلوا نو د خیرات رسمی یوڅو اهم نقصانات اومفاسد

دملك په رسمی رواجی غیرشرعیورسمی خیراتونوکښ ګنړ امورخلاف شرع دی دیوڅو نشاندهی داصلاح په نیت کوم.

۱.پـه دغـه کـښ دغیـر قومونـو سـره لکـه هنـدوان شـو مشـابهت دے اومونږه ماموره شوی یو دهغو ی په مخالفت باندے په خلاف شرع رسمونو کښ .

۲.فقهاء فرمائی:چه ضیافت دخوشحالئ په موقعه دے نه دغمونو په موسم کښ .

۳چه د یتیم مال پکښ وی نوقطعی حرام به وخوړل شی .

۴دمال دغائب نه بغیر اجازت صدقه ورکول دی اودامنع دی .

۵.اکثر دریا اودسمعت دپاره وی اودغسے عمل قابل قبول نه دے .

۶.په دے رسمی خیرات کښ دفقیر دحالت لحاظ نه کیږی حالانکه هغه کله پیسوته محتاج وی اوکله جاموته .

۷.بسااوقات مړی ته ویرګرے راجمع شوی وی اوپه ویرکونکی خوراك څکاك کول په ګناه باندے تعاون کول دی چه خدائی پاك ترینه بندیز کړے دے .

۸. په دے کښ تاخیر دے په تکفین اوتجهیز دمړی کښ اوحضرت ﷺ په جلدی عدم تراخی امرکړے دے .

۹. خلقوخیرات داعمالو دتکفین نه ګرځولے دے اوحال دادے چه وصیت پوره کول دشرعے موافقه په دریمه مرتبه کښ دی .

۱۰. ډیر کرتے وارث محتاجه وی نو په غیر دضرورت نه په قرض اخستل اوځان مدیونه کول ممنوع دی چه بیا دمیرےکډه کوی اووائی (نیستی ورك کړو)

۱۱. دمال مشترکه نه مخکښ دتقسیم نه څه لګول نه دی صحیح.

۱۲. دمړی دکور طعام به صحابه کرامو ﷺ دویر غونډے حرام ګڼړلو.

۱۳. دغه خلاف دمسنونے طریقے نه دے ځکه چه سنت عمل دادےچه په غمزده طعام وخوری نه داچه

دهغو ی مړی دځان اختر کړی.

۱۴. صحابه کرام ﷺ احرص الناس بالخیر وو دهغوی دمبارکه هستو نه دداسے عمل ثبوت چرته ندے شوے.

۱۵. جناب رسول الله ﷺ چه الله تعالی دامت دهدایت دپاره راستولے وو دهغوی نه دداسے رسمی خیراتونو نقل چرته نشته اوحالانکه دهغوی په ژوند دهغوی خپلوان وفات شوی هم وو اوشهیدان شوی هم وو اونه ئے چرته خپلوصحابوته ددے تلقین کړے دے.

لهذا :مونږه لره دهغوی اتباع پکارده نه دځان نه رسمونه بدعتونه.

پندار سعدی که راه صفا   توان رفتنت جز پے مصطفیٰ
خلاف پیغمبر کسی ره گزید   که هرگز بمنزل نخواهد رسید

=دَ خیرات نه منولو دشبهے ازاله اوجواب=

بعض ملایان صاحبان دعلمآء حق په مقابله کښ عوامو ته دااشتباه راولی چه دانوی ملایان خیرات ،اوصدقات نه منی اودقرآن مجید

اودرسول اکرم ﷺ هغه ایاتونه اوحدیثونه پیش کوی دکومونه چه دصدقے کول بهتری معلومیږی لیکن دے ته نه گوری چه حق پرست علماء دشریعت تابعدار اودعوامو خیرخواه دی دشریعت دهدایت په طریقے باندے هغوی کله دخیرات نه مخالفت کړیدے.

دوئ خوداسے عمل کوی چه (نه سیخ وسوزی اونه کباب) چه هسے مال هم بربادنشی اوگنه گار هم نشی.

آیا دخدائی تعالی دوعید نه نه ویریږی چه خلق دهوکه کوی.

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَ تَكْتُمُوا الْحَقَّ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ[1]

"اومه گډوډ کوئ حق دباطل سره اومه پټوئ حق اوتاسو ښه پوهیږی"

مونږه الحمدلله اهل السنت والجماعت یو دنیکو اعمالو دثواب رسیدلو مړوته قائل یو لکه دامسئله ابن ابی العز الحنفی رحمه الله مفصله لیکلے ده دهغوی دبحث خلاصه داده چه داهل سنت اوجماعت اتفاق دے په دے باندے چه مړو ته عمل دژوندونه نفع رسیږی په دو امرونو سره یوهغه چه مړےئے سبب جوړشوی وی په ژوند خپل کښ اودوئیم دعاءدمسلمانانو اواستغفار ددوئ دهغه دپاره اوپه صدقے اوحج کښ نزاع ده دمحمد رحمه الله نه نقل دےچه مړی ته ثواب دنفقے رسیږی او حج دحج کونکے دے اوعام علماء وائی چه ثواب دحج دهغه چاپاره دے چه حج ترینه شویدے اواصحی ده اوپه عباداتو بدنی ؤ کښ لکه روژه اومونځ اولوستل دقرآن اوذکر شو پدے کښ اختلاف

[1] سورة البقرة ایت ٤٢- وفی العمران ایت ٧١- یاهل الکتاب لم تلبسون الحق بالباطل وتکتمون الحق وانتم تعلمون:

دے امام ابوحنیفه اوامام محمد رحمهماالله اوجمهورسلف" تلل کړے دی دے ته چه ثواب نے رسیږی اومشهور مذهب دامام شافعی اوامام مالك رحمهما الله دادے چه نه رسیږی اواهل بدع (معتزله)ذهاب کړے چه دهیڅ شئ ثواب ورته نشی رسیدلے . لیکن چه دسنت مطابق نوی نوهغه نه قبلیږی اونه رسیږی .[1]

حافظ عمادالدّین ابن کثیر رحمه الله ځائے په ځائے دعمل دقبلیدو دپاره دوه شرطونه ذکر کوی یوچه دخدائی درضا دپاره وی اودوئیم دحضرت ﷺ دسنت طریقے مطابقت لری اوچه نو ی نو باطل دے.

فان للعمل المتقبل شرطين احدهما آن یکون خالصا لله وحده والاخر ان یکون صوابا موافقا للشريعة[2]

" پس یقینی دقبول شوی عمل دپاره دوه شرطونه دی یوداچه خالص وی دي یو الله دپاره اوبل داچه موافقه دشریعت وی .

(۴) په تلاوت د قرآن مجید اجرت اخستل یعنی په ختم شریف دخوراک شرعی حکم

تلاوت دقرآن مجید یو بهترین عبادت دے اوحدیث پاك په موجب دهر یو یو حرف په مقابله کښ لس لس نیکی میلاویږی اوددے

---

(۱) اوبیا فرمائی:قولهم مردود بالکتاب والسنة بیا روستو ددلائلو په ذکرکولو کښ پوره تفصیل کړیدے شائقین حضرات نے کتلے شی من ص۵۱۱ الی ۵۱۴ شرح العقیدة الطحاویة وکذافی شرح الفقه الاکبر للقاری رحمه الله ص۱۵۹ وص۱۶۰ مجتبائی دهلی؛

(۲) ابن کثیر ج۱ص۱۵۴-وکذافی ج۲ص۳۸ و ج۴ص۱۳۹۶ ابن کثیر وقال النسفی رحمه الله فالخالص ان یکون لوجه الله والصواب ان یکون علی السنة:مدارك ج۱ص۴۷۲.

دلوستلو ثواب مړوته هم بخښلی شي بشرطیکه دخدائی تعالی درضاء دپاره لوستل وی اواُجرت اوخوردونوش پرے ونه کړی .
علامه ابن عابدین الشامی رحمه الله دعلامه حافظ ابن القیم رحمه الله په نقل لیکی :
افضل مایهدیٰ الی المیت العتق والصدقة والاستغفار والدعآء والحج عنه واما قرآءة القرآن واهدآئها له تطوعا بغیر اُجرة فهذا یصل الیه کما یصل ثواب الصوم والحج[1]
" بهتر دهغه نه چه هدیه کولے شی مړی ته ازاده ول دمرئی اوصدقه کول اوبخښنه ئے غوښتل اودعا ورته کول اوحج ترینه کول دی او هر چه لوستل دقرآن اوهغه ته بخښل دی خیراتی بغیر داُجرت نه پس دارسیږی هغه ته څرنګے چه ثواب دروژے اوحج ورته رسیږی .
ملاعلی قاری مکی رحمه الله هم په دغه شان لیکل کوی :
ثم قرآءة القرآن واهدآءها له تطوعا بغیر اجرة یصل الیه[2]
"بیا لوستل دقرآن اوهدیه کول ئے مړی ته خیراتی بغیر دعوض نه رسیږی هغه ته "
اوکچرے دتلاوت اوختم مقصد خوراك اوڅکاك وی نودغه ختم کونکےګنه ګار شواومړی ته ئےهیڅ فائده ونه رسیده .
الله جلّ مجده وعمّ نواله خپل مقدس کتاب کښ خپل بندګانو ته خپله فیصله په داسے طور سره اوره وی :
(۱) وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰیٰتِیْ ثَمَنًا قَلِیْلًا ؗ وَ اِیَّایَ فَاتَّقُوْنِ ۝ (البقرة آیت ۴۱)

---

[1] کتاب الروح ص۱۷۵بحوالہ راہ سنت ص۲۳۶\و۱۷۵ج۱رسائل ابن عابدین رحمه الله
[2] شرح فقه اکبر لمولانا القاری رحمه الله ص۱۶۰طبع کانپور بحوالہ راہ سنت ص۲۳۶-

"اومه اخلئ ځما دآيتونو په بدله كښې دنيا لره اوخاص ځما نه ويريږئ"
دايات كريمه څو مطلبونه حضرات مفسرين رحمهم الله ذكر كوى هغه ټول پخپل ځائى صحيح اودرست دى ليكن دلته يوه معنى دابوالعاليه رحمه الله په نقل ذكركيږى

(۲) لاتاخذوا عليه اجرا[1]

"مه اخلئ په قرآن پاك باندے اجر (مزدورى) دعلمآء كرامو دمشهورے قاعدے مطابق په آيت كريمه تلاوت دپاره دمال خوراك څكاك هم داخليږى قاعده داده .
كښې

الاعتبار لعموم الالفاظ لالخصوص السبب والمورد[2]

" چه اعتبار دعاموالى دلفظ لره دے نه خاصوالى دسبب اودشان نزول دپاره.

(۳) وعن بريدة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قرأ القرآن يتاكل به الناس جآء يوم القيمة ووجهه عظم ليس عليه لحم[3]

"اوحضرت بريده رضي الله عنه نه روايت دے وائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد كړے دے چاچه قرآن ولوستل چه خوراك پرے وكړى دخلقو نه به راشى په ورځ دقيامت اومخ به ئے هډوكے وى اوغوښه به پرے نه وى "

---

[1] ج۱ابن كثير ج۱ص۱۲۴التسهيل ج۱ص۱۳۰ابن جرير ج۱ص۱٦٤الدر المنثور ج۱ص۱۳۲۵القرطبى و كذافى قرة العيون ص۷۱-

[2] مولوى ص۷۲وفى نور الانوار مع قمر الاقمار اختلف اهل الاصول هل العبرة بعموم اللفظ او بخصوص السبب فالاصح عندنا الاول ج۱ص۱۳۹الاتقان للسيوطى رحمه الله فجمهور العلمآء يذهبون الى ان العبرة بعموم اللفظ لابخصوص السبب وهذاهو الصحيح ج۱۲ص۱۱۷التبيان فى علوم القران للصابونى رحمه الله

[3] رواه البيهقى رحمه الله ج۱ص۱۹۳مشكوة فضائل القران وكذافى ماة مسائل ص۸٦وفضائل القران لمولانا محمد ذكريا رحمه الله ص۱۹٤ج۱وفضائل الاعمال ص۳٦فيضى كتب خانه

(۴) وعن عبدالرحمن بن شبل رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ اقرؤوا القرآن ولاتاكلوا به[۱]

"اودعبدالرحمن ځوی دشبل رضي الله عنه نه روایت دے درسول الله ﷺ نه چه قرآن وائی اوخوراك پرے مه کوئ "

اوابوجعفر الطحاوی رحمه الله دغه حدیث تفصیلا ذکر کړے دے لکه چه په خپل سند سره دحضرت عبدالرحمن بن شبل انصاری رضي الله عنه په نقل :

(۵) قال سمعتُ رسول الله ﷺ یقول اقرؤوا القرآن ولاتغلوا فیه ولاتجفوا عنه ولاتاكلوا به. [۲]

"وائی چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیل قرآن لولوئ اوتجاوزمه کوئ پدےکښ اولرے والے دقرآن نه........یعنی(دعمل نه)مه کوئ اوخوراك مه کوئ په دے باندے"

ولاتکثروابه") "اومه ډیره وئ مالونه خپل په قرآن باندے "

(۶) وعن عمران الحصین رضي الله عنه انه ..مرعلی قاص یقرأ ثم یسال فاسترجع ثم قال سمعت رسول الله ﷺ یقول من قرا القرآن فلیسال الله به فانه سیجئ اقوام یقرؤن القرآن یسالون به الناس[۳]

---

(۱) ص ۳۰۳ ج ۳ هدایه و کذافی رسائل ابن عابدین ص ۱۸۲ وفی الدرایه (رواه) احمد و اسحاق و ابن ابی شیبة ج ۳ ص ۳۰۲ هامش الهدایه

(۲) ج ۲ ص ۱۱۲ الطحاوی باب التزویج علی القران وقال مولانا خان بادشاه فی قرة العیون ص ۷۳ کذافی ج ۹ ص ۱۰۱ الفتح الباری ج ۱۶ ص ۳۷ المبسوط ج ۱ ص ۱۴۱ المغنی مع الشرح الکبیر ج ۳ ص ۴۲۸ مسند احمد ج ۱ ص ۱۴۲ طبرانی اوسط ج ۹ ص ۱۴۸۶ ابن عساکر رحمه الله

(۳) رواه احمد والترمذی ج ۲ ص ۱۳۵ \ ۱۹۲ \ ۱۹۳ مشکوة المصابیح-

"او حضرت عمران ځوی دحصین رضی الله عنه نه روایت دے چه دا راغله په یو قصه گو باندے چه قرات ئے وکړه بیا یے سوال وکړه نو عمران صاحب رضی الله عنه انا لله وانا الیه راجعون ووئیل بیا ئے ووئیل چه اوریدلی م دی دجناب رسول الله ﷺ چه فرمائیل ئے چاچه قرآن پاك ولوستل نو دالله تعالیٰ نه دے سوال وکړی پس یقینا شان دادے چه زر دے چه رابشی ځه قومونه چه لولوی به قرآن لره او دخلقو نه به پرے سوال کوی "

او امام المحدثین محمد بن اسمعیل بخاریؒ خپل کتاب کښ یو باب په دے عنوان سره تړی اوو ائی :

(۷) باب من رایا بقراۃ القرآن او تاکل به او فجر به (ن) (فخر به

(بخاری شریف ج۲ ص ۷۵۶)

باب دے دهغه چا پحقله چه ریا کوی په لوستلو دقرآن او یا پرے خوراك کوی او یا پرے دنیا گټی (او یوه نسخه کښ دی) یا پرے فخر کوی "

بیا روستو امام بخاری رحمه الله دخوارجو په حقله ذکر کوی چه قرآن پاك به ئے دمرونه تجاوز نه کوی (دوجه دعدم نیت صحیحه نه) او دمنافق دقرات په باره کښ هم ذکر کوی لیکن دلته یو سوال راځی چه دباب دویمه خبره ترینه نه ثابتیږی نو علامه کرمانی رحمه الله جواب کوی .

۸. فان قلت من این دل الحدیث علی الجزء الثانی وهو التاکل قلت لاشك ان القرآءۃ اذا لم تکن لله فهی للمرایاۃ والتاکل ونحوهما (۱)

---

(۱) (ج۷ ص ۴۸۶ ارشاد الساری بحواله قرۃ العیون ص ۷۵)

"که چرے ته په سوال کښې ووائے دکوم ځائے نه داحدیث په دویم جزء دلالت کوی چه هغه خوراك حاصلول دی په قرآن پاك باندے څه په جواب کښې وایم چه دے کښې شك نشته چه لوستل کله دالله تعالی دپاره نوی نودغه ریاء ښودلو اوخوراك کولواوددے په مثل باندے وی "

۹. علامّه ابن عابدین الشامی رحمه الله بهترین لیك په دے مسئله باندے کړے دے اوداخبره ئے ثابته کړیده چه په ختم شریف دپاره دایصال ثواب اجرت اخستل منع دی اوپه دے کښې ئے مستقله رساله (شفاء العلیل وبلّ الغلیل فی حکم الوصیة بالختمات والتهالیل)لیکلے ده چه اومه (۷) رساله دمجموعة الرسائل نه ده اوپه صفحه ۱۵۱ کښې لیکلی دی چه ددے رسالے حوالے دپنځوسونه زیاتے دی . څه هم دویرے داوګدوالی دکتاب نه په یوځو حوالجاتو دتائید دپاره اکتفاء کوم اګرچه دقرآن مجید آیت مبارکه اودغه یو څو احادیث کریمه کافی شافی دی .

علامه شامی رحمه الله لیکی :

۱۰.وقال تاج الشریعة فی شرح الهدایة ان القرآن بالاجرة لایستحق الثواب لاللمیت ولا للقاری وقال العینیؒ فی شرح الهدایه ویمنع القاری للدنیا والآخذ والمعطی اثمان..............وقال ایضا(والحاصل)ان ماشاع من قراة الاجزآء بالاجرة لایجوز لان فیه الامر بالقرآة واعطآء الثواب للآمر والقرآة لاجل المال فاذالم یکن للقاری ثواب لعدم النیة الصحیحة فانی یصل

الثواب الى المستاجر ولولا الاجرة ماقرأ احد لاحد فى هذاالزمان بل جعلواالقرآن العظيم مكسبا ووسيلة الى جمع الدنيا انا لله وانا اليه راجعون[1]

"اووائی تاج الشریعه رحمه الله په شرح دهدائے کښی چه لوستل دقرآن په مزدوریٔ سره استحقاق دثواب نه لری نه دمړی دپاره اونه دلوستونکے دپاره اوعینی رحمه الله په شرح دهدائے کښی وئیلی دی چه منع کولے به شی لوستونکے ددنیا دپاره اواخستونکے اوورکونکے دواړه ګناه ګاردی اوداهم شامی رحمه الله فرمائیلی دی (چه حاصل دادے) چه یقینا هغه چه لوستل دپارو دقرآن په اجرت سره شائع دی روانه دی ځکه چه په دے کښی امردے په لوستلو اوپه ورکولو دثواب امرکونکی ته اوقراءة دپاره دمال دے پس هرکله چه لوستونکے ثواب ونه شو دوجے دنشت والی دصحیح نیت نه نوځرنګه به ثواب ورسیږی مزدور نیونکی ته اوکچرے مزدوریٔ نوے نو لوستل به نوی کړے چا دچا دپاره په دے زمانه کښی بلکه قرآن ئے ذریعه دکسب اووسیله دجمع کولوددنیا ګرځولے ده. انا لله وانا الیه راجعون .

(۱۱) وقال الشامیؒ ایضاوقد رایتُ فی حاشیة المنتهی للعلامة الشیخ محمد الخلوتی رحمه الله نقلامن خاتمة المجتهدین شیخ الاسلام تقی الدین رحمه الله مانصه ولایصح الاستئجار علی القراة واهدائها الی المیت لانه لم ینقل عن احدمن الائمة الاذن فی ذالك وقد قال العلماء رحمهم الله ان القارئ اذا قرأ لاجل المال فلاثواب له فای شئ یهدیه الی المیت وانما یصل الی

---

(1) ج۱ص۱۸۰رسائل ابن عابدین و کذافی الفتاوی الشامیة ج۵ص۳۹طبع کوئته او ج۵ص۴۴۹)طبع مصر)

الميت العمل الصالح والاستئجار على مجرد التلاوة لم يقل به احد من الائمة وانما تنازعوا في الاستئجار على التعليم انتهى بحروفه"(۱)

"او علامه شامي رحمه الله داهم وئيلي دي چه په حاشيه دمنتهى (كتاب) چه دعلامه شيخ محمد خلوتي رحمه الله دے ليدلي م دي چه نقل ئے کړے داخرى دمجتهدينو شيخ الاسلام تقى الدين (ابن تيميه) رحمه الله نه چه الفاظ ئے دادى :اونه صحيح كيږى طلب دمزدورئ په لوستلو دقرآن اوبخل ئے مړى ته ځکه چه ندى نقل شوى اجازه پدے کښں ديوتن داماماًنو نه اوبے شكه علماؤ فرمائيلى دى چه لوستونكے چه دمال دپاره لوستل وكړى نو ثواب ورله نشته نوڅه شئ به دوبخى مړى ته اوبےشكه رسيږى مړى ته نيك عمل اواجرت اخستل په خالى مالى تلاوت باندے هيچا قول ندے کړے داماماًنو نه اويقينى چه خلاف كړيدے هغوى په اجرت اخستلو كښں په تعليم باندے ختم شو عبارت دشيخ په ټكو دهغه باندے"

۱۲. وقال ايضا نقلا عن التارتار خانية لامعنى لهذه الوصية ولصلة القارى بقراته لان هذا بمنزلة الاجرة والاجارة في ذالك باطل وهى بدعة ولم يفعلها احد من الخلفاء(۲)

"اوشامى دفتاوى تارتارخانيه په نقل وائى :چه څه معنى ددے وصيت دپاره نشته (چه په قبر تلاوت وكړى په مال باندے) اودخيراتى ويلو دقارى لره ځکه دغه په منزله دمزدورئ دے اواجاره په (قبرلوستلو

۵۹
۵۰ صـ
رسائل ابن عابدين ج كذا في الشامية ۲ صـ

(۱)رسائل ابن عابدين ج۱ص۱۷۵و كذا في الشامية ج۵ص۳۹:

دقرآن)باطله ده اودابدعت دے اوهیڅ دخلفاء (راشدین ﷺ) نه نه دے کړے "

دغه یوڅو اقتباسات دعلامه شامیؒ دکتابونو اوحوالو نه وو چه پیش خدمت شو چه په اجرت باندے تلاوت نه دمړی دپاره پکښ ثواب شته اونه دقاری اودواړه ګنه ګار دی اوددے دجواز ثبوت نه دخلفاؤ نه اونه داماماونه راغلےدے بلکه ختمیانو صاحبانو ددنیا دجمع کیدو دپاره یو ذریعه ګرځولے ده اودغه حضراتو دغم اوصدمے کلمے هم ویلے دی بلکه دجناب رسول الله ﷺ صحابی حضرت عمرآن بن حصین ﷺ هم هغه کلمه وئیلے ده اوهغه داده.

(انا لله وانا الیه راجعون)

حضرت مولانا محمد اعزازعلی ﷫ هم دغه اجرت ته مکروهه وئیلی دی .

۱۲. واما ما شاع فی بلادنا الهندیة من الاستئجار لقراءة القرآن مع محدثات اخر فمکروه قطعا خلافا لمن جعل البدعات رزقه. (۲)

"او هغه چه شائع شوے زمونږه هندو ستانی ښارونو کښ داجرت اخستلو نه په تلاوت دقرآن باندے سره دنورو بدعاتو نه مکروهه دی قطعا خلاف پکښ هغه چاله دے چه بدعتونو نه ئے خپل رزق ګرځولے دی "

بهترین لیك علامه ابن ابی العز حنفی ﷫ هم کړیدے ناظرین دپه حقیقی سترګو وګوری اوعمل دپرے وکړی هغوی فرمائی :

ګه حواشی نور الایضاح ص۱۲ مص۱۳۱

۱۴. واما استجار قوم يقرأون القرآن ويهدونه للميت فهذا لم يفعله احد من السلف ولا امر به احد من ائمة الدين ولا رخص فيه والاستئجار على نفس التلاوة غير جائز بلاخلاف وانما اختلفوا في جواز الاستئجار على التعليم ونحوه مما فيه منفعة تصل الى الغير والثواب لايصل الى الميت الاآذا كان العمل لله وهذا لم يقع عبادة خالصة فلا يكون له من ثوابه مايهدیٰ الى الموتى الخ........(۱)

"اوهرچه طلب داجرت ديوقوم چه قرآن لولوی اوهديه كوی ئےمړی ته پس داندی كړی يوكس دسلفو نه اونه پرے إمر كړيدے يوتن داماماڼو ددين نه اونه ئے پكښې اجازه وركړيده اومزدوری طلبول په نفس تلاوت نده روابغير دخلاف نه اويقينی اختلاف كړے علماؤ په جواز داجرت اخستلو په تعليم اومثل ددے چه په هغه كښې نفع رسيږی بل ته اوثواب نه رسيږی مړی ته مگر هله چه عمل دخدائی درضاء دپاره وی اوداخو عبادت خالصه نه شو پس نه كيږی دثواب ددنه هغه چه مړو ته ئے وبخښی"

حضرت شاه محمد اسحاق رحمه الله دحضرت بريدة رضي الله عنه دحديث نقل كولو نه بعد ليكی:

۱۵. واز وعيد كه در حديث شريف است معلوم مى شود كه اجرت گرفتن بر قرآن وخوردن عوض ان گناه كبيره است۔ والله واعلم (۲)

۱(شرح العقيدة الطحاويه ص۵۱۷)

۲.(ماة مسائل ص۸۲)

"اودوعیدنه چه په حدیث شریف کښ دے معلومیږی چه اجرت اخستل په قرآن اوخوراك په عوض دهغه کښ لویه گناه ده والله اعلم.

۱۶. خطیب عراقی صاحب رحمه الله په روح المعانی کښ په تفسیر دسورة کهف کښ دغم نه ډك کلمات ذکر کړیدی اوتلاوت په اجرت باندے یے شرك اصغر یعنی ډریاء په حکم کښ داخل کړیدی آیت کریمه دادے.

قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴿۱۱۰﴾ (۱)

" ووایه (ای رسوله) یقینا څه بشریم ستاسو غوندے وحی کیږی ماته چه بیشکه مدذگار ستاسو یومددگار دے پس څوك چه امید دپیشی درب خپل لری نوعمل دوکړی نیك اونه دے شریکه وی په عبادت درب خپل کښ څوك "

نوعراقی صاحب رحمه الله پس دبسط اوتفصیل نه وائی چه:

ویدخل حینئذ فی العموم قراءة القرآن للموتی باالاجرة فلاثواب فیها للمیت ولاللقاری وقد عمّت البلوی بذالك والناس عنه غافلون واذا نبهوالاینتبهون فاناالله تعالی وانا الیه راجعون (۱)

"اواخلیږی په دے وخت په عام والی (دشرك) کښ لوستل دقرآن دپاره دمړو په اجرت باندے پس ثواب په دے کښ نشته دمړی دپاره اونه دلوستونکی دپاره اوپه تحقیق سره عامه شویده گرفتاری په دے

۱- (سورة الکهف ایت ۱۱۰)

(۱) روح المعانی ج۱۶ص ۵۰ کذافی رد البدعات ص ۱۱۵ للسید انوار الحق رحمه الله

باندے اوخلق ترینه ناخبره دی پس مونږه الله تعالی لره یو اومونږه به هغه ته واپس کیږو "

۱۷. مولانا انوارالحق صاحب کاکاخیلی رحمه الله هم په خپل کتاب کښں دخطیب عراقی رحمه الله فتوی رانقل کړیده .

۱۸. مفتی محمد شفیع دیوبندی رحمه الله چه منلے شوے مفتی دے هغوی خپل تفسیر کښں یومستقل عنوان کښں داسے لیکی:

ایصال ثواب کے لئے ختم قرآن پر اُجرت لینا باتفاق جائز نہیں۔ (معارف القرآن ج۱ص۲۰۸)

"دثواب رسولو دپاره دقرآن په ختم باندے اجرت اخستل په اتفاق سره جایزنه دی "

۱۹. مفتی الهند حضرت محمد کفایت الله رحمه الله اوشاه عبدالعزیز رحمه الله دعلامه شامی رحمه الله تحقیقی فتوی پخپلوخپلو فتاووکښں رانقل کوی :وان القراة لشئ من الدنیا لاتجوز وان الاخذ والمعطی اثمان[1]

"اولوستل دخه شی ددنیا دپاره روانه دی اواخستونکے اورکونکے (دواړه)گناه گار دی "

۲۰. شاه انورشاه کشمیری رحمه الله هم فرمائی :چه تلاوت علی الاجرة کښں ثواب نشته.

لاالختم لامور الدین من ایصال الثواب للمیت وغیره فلاتجوز.

(العرف الشذی ص۱۱۳ص۳۵۵)

"نه اجرت اخستل په ختم ددین په کارونو چه هغه رسول دثواب دی مړی ته پس دغه روانه دی "

---

[1]- دلیل الخیرات فی ترک المنکرات ص۳۶ و ص۵۸ فتاوی عزیزیه اردو طبع سعید کمپنی:

۲۱. جناب مولانا گنگوهي رحمه الله فرمائي :چه اګرچه اجرت ئې ورسره هم نوی مقرر کړے خوبيا هم ورله اخستل جائزنه دي ځکه چه په عرف کښې داده چه اجرت ورکوي .

عرف میں یہ بات قرار پاچکی ہے کہ قرآن پڑھنے والے کو ضرور دیتے ہے تو اگرچہ پہلے سے باہمی اُجرت پڑھنے کلام مجید کی طے نہ ہوئی تو لینا جائز نہیں اور نہ ایسے پڑھنے کا ثواب میت کو پہنچے۔ [1]

"په عرف کښې داخبره مقررشوے ده چه دقرآن لوستونکے ته ضرور څه ورکوي اګرچه دمخکښې داجرت اخستلو په مابين کښې فيصله نشي په لوستلو دقرآن مجيد خواخستل ئې روانه دي اونه دداسې لوستلو نه ثواب مړي ته رسيږي "

۲۲. شاه محمد اسحق رحمه الله په خپل بل كتاب كښې دختم په باره كښې فرمائي :اودنصاب الاحتساب نه نقل كوي :

ان ختم القرآن جهرا بالجماعة ويسمّٰى بالفارسية سپاره خواندن مكروه.

(مسائل اربعين ص۳۸)

"بے شكه ختم دقرآن په زوره په جمعے سره چه په فارسي كښې سپاره ويل وائي مكروه دے "

۲۳. اوعلامه بشير الدين قنوجي رحمه الله دختم شريف دتخصيص هئيت په حقله ليكي :دشيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په حواله اونقل بانډے .

---

[1] فتاوی رشیدیہ ص۲۲۸ و فی ۴۴۴ ایضاً اور مردہ پر پڑھنے کی اُجرت کو حرام لکھا ہے (کتب فقہ میں)

الاجتماع للقراءة بالقرآن على الميت بالتخصيص فى المقبرة اوالمسجد اوالبيت بدعة مذمومة لانه لم ينقل فيه من الصحابة رضی اللہ عنہم شئ.

(تفهيم المسائل ص ۱۷۲)"

راجمع كيدل دپاره دقرات دقرآن په مړی باندے په خصوصی طور سره په اديره كښې اويا په جماعت كښې او يا په كور كښې ناكاره بدعت دے ځكه چه ددے په باره كښې دصحابه كرامو رضی اللہ عنہم نه هيڅ شئ ندے نقل شوے"

خلاصه دبحث داده چه هركله تلاوت دخوراك څكاك اجرت دپاره كوى نودلوستونكى نيت خالص نه شو بلكه ددنياوى اغراضو دپاره شو نوثواب ئے پخپله ونشو نويل ته به څه بخښى ځكه چه دعمل دقبليدو دارومدار په صحيح نيت سره دے لكه چه مشهور حديث دے.

انما الاعمال بالنيات وانما لامرئ مانوى[1]"

"يقينا دعملونو (دقبليدو) دارومدار په نيتونو باندے دے اوپےشكه دهر انسان دپاره هغه دى چه نيت ئے كړيدى.

اوعلماء كرامو اتفاقى طور په منع داجرت حكم كړے دے اودهغوخلقو خلاف لره څه اعتبار نشته كومو چه قرآن پاك ذريعه دمعاش گرځولے ده اوپه بدعاتو كښې خپله روزى مقرر كړيده.

زیان می کند مرد قرآن خوان

که خواندن فروشد به پیسه ونان

[1] مشكوة عن عمر بن الخطاب رضی اللہ عنہ واخره فمن كانت هجرته الى الله ورسوله فهجرته الى الله ورسوله ومن كانت هجرته الى دنيا يصيبها او امراة يتزوجها فهجرته الى ماهاجر اليه:

د تراویحو په ختم باندے داجرت اخستلو حکم

دمړی دثواب رسیدو نه رسیدو په ختم کلام مجید حکم زیر تحریر شو اوس مناسبه معلومیږی چه ماه رمضان مبارك کښې په تراویحو کښې په تلاوت باندے دپیسو ټکو ،جامو ،اجرت ،مزدوری،اخستلو حکم هم په مختصره توګه ذکرشی ځکه چه ډیرو حضراتو درمضان مبارك میاشته دباقی کال دپاره دکمائی،مزدوری ،یو سیزن ،ګرځولے دے . دجناب مفتی عزیزالرحمن صاحب رحمه الله نه دداسے ختم پحقله سوال شویدے نوهغوی جواب لیکی :

(ا)۔ اُجرت دینا اور لینا قرآن شریف کے سننے اور پڑھنے کے لئے جائز نہیں ہے اور اس میں کسی کو ثواب نہیں ہوتا نہ پڑھنے والے کو اور نہ سننے والے کو اور سنت ختم قرآن اس طرح پر اداء نہیں ہوتی۔ (عزیزالفتاوی ص ۲۶۳ طبع دارالاشاعت کراچی)

"اجرت ورکول اواخستل دقرآن شریف اوریدو اولوستلو دپاره جائز نه دی اوپه دے کښې چاته ثواب نه کیږی نه لوستلو والاته اونه اوریدلو والاته اومسنونه ختم قرآن په دے طریقه سره نه اداکیږی .

اوبیادشامیؒ په نقل دتاج الشریعهؒ اوعینیؒ عبارتونه ذکرکوی :

(۲)جناب مفتی محمد شفیع رحمه الله په دے مسئله کښې تفصیلی کلام کړے او دا ئے ثابته کړیده چه متاخرینو علماءؤ چه کومه استثناء دضرورت په بناء کړیده لکه اجرت په امامت اوتعلیم وغیره باندے دتراویحو ختم په هغے کښې نه دے ذکر ځکه چه دا نه فرض دے اونه واجب اوبیائے دفقهاؤ کراموعبارات ذکر کړیدی اوفرمائی :

عبارت مذکورہ سے معلوم ہوا کہ اُجرت لیکر قرآن پڑھنا اور پڑھوانا گناہ ہے اس لئے تراویح میں چند مختصر سورتوں سے بیس رکعات پڑھ لینا بلاشبہ اس سے بہتر ہے کہ اُجرت دیکر پورا قرآن پڑھوائیں کیونکہ پورا قرآن تراویح میں پڑھنا مستحب ہے اور اُجرت دے کر قرآن پڑھوانا اور پڑھنا گناہ ہے اور گناہ سے بچنا بہ نسبت مستحب پر عمل کرنے سے زیادہ ضروری ہے۔(امداد المفتین ص ۶۴۹ الی ۶۵۴)

دعباراتو مذکوره نه معلومه شوه چه په اجرت اخستلو باندے قرآن لوستل اولولول گناه ده ددے وجه نه په تراویحو کښ څو کوتاه سورتونو سره شل رکعته تراویح کول بلاشبه ددغه نه بهتر دی چه اجرت پرے واخلی اوپورا قرآن شریف ولولوی ځکه چه پورا قرآن په تراویحو کښ لوستل مستحب وی اواجرت اخستلو باندے قرآن لوستل اولولول گناه ده اودگناه نه بچ کیدل په مستحبو باندے دعمل کولوپه نسبت ډیر ضروری دی .

(۳) علامه گنگوهی رحمه الله اومولانا تهانوی رحمه الله هم فرمائی چه :

تراویح میں جو کلام اللہ پڑھے یا سنے اسکی اُجرت دینا حرام ہے جب اُجرت کا دینا حرام ہے توالم ترکیف سے ہی پڑھنا چاہئے۔(فتاوی رشیدیه ۳۲۳\۳۲۴ اصلاح الرسوم ۲۱۳)

"په تراویحو کښ کوم حصه کلام الله ووائی یائے واوری ددغه اجرت ورکول حرام دی هرکله چه اجرت حرام دی نوپه الَم ترَکیفَ سره کول ئے پکاردی .

سوالات اوجوابات

بعض دوستان په ختم قرآن داجرت اخستلودپاره داحیلے بهانے کوی چه قرآن پاک کښ راځی چه ثمن قلیل لږ څه پرے مه اخلی نوکه چرے ډیر رقم



پرے حاصلیږی نو خیردے حتی داچه څنو وئیلی دی چه چه دپنځه څلویښت روپونه پرے کمے نه دی اخستل پکار .

الجواب: الله رب العزت فرمائی :چه تولہ دنیا هم لږه ده

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ ۚ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ۝ (سورة النساء ۷۷)

" ووایه چه سامان ددنیا لږدے اواخرت غوره دے دهغه چا دپاره چه ویریږی دالله تعالی نه اوپه تاسو به ظلم ونشی په اندازه دباتی دکجورے "

اوصاحب شامیؒ د۲۵ روپو دجواب په باره کښ فرمائی (دکوموپه حقله چه حاوی زاهدی لیکلی دی)

چه لایحتاج الی الجواب بعدماسمعناك من کلام ائمتنا متوناوشروحا وفتاوی من ان الجائز اخذ الاجرة علی التعلیم بعد تصریحهم بعدم جوازه علی سائر الطاعات (رسائل ابن عابدین ص۱۷۶)

"حاجت نشته دے جواب ته د(قول دزاهدی نه) پس دهغه نه چه مونږه تاته واورول دکلام دامامانو زمونږه نه دجهت دمتونو،شروحو اوفتاوونه چه جائزدے اجرت اخستل په تعلیم باندے پس دتصریح ددوی نه په عدم جوازداجرت په باقی طاعاتو باندے "

بیاروستو دعلامه ابن الشحنه رحمه الله اووغیره نه نقل کوی چه دزاهدی نقل لره هیڅ اعتبارنشته چه مخالف دقواعدونه وی .

(۲)څنے وائی چه مونږه ورله خیراتی تلاوت کړے اوهغوی مونږه لره هم خدائی راکړه کړیده اوداڅکه چه دمخکښ نه ورسره مونږه دڅه خیز فیصله نده کړے نوکچرے هغوی دخدائی په رضاء څه راکړی نوپه دے کښ څه حرج دے ؟

الجواب :دزړه دنیت نه خو یوالله خبر دے ځکه چه هغه علیم بذات الصدور دے لیکن عام عرف کښ داده چه ختمی صاحب څوك تش لاس نه چائے اوبے ډوډئ نه پریږدی نوداداسے ده چه ګویا دمخکښ نه ئے ورسره فیصله کړے وی څه رنګے چه دجناب مولانا ګنګوهی رحمه الله دعبارت نه معلومیږی اودفقهآء کرامو رحمهم الله مشهوره قاعده ده چه المعروف کاالمشروط چه په عرف کښ څه وی هغه په شان دشرط شوی وی .

استاذ محترم حضرت شیخ القرآن صاحب رحمه الله په خپل تالیف اصول السنه کښ په دے ګنړلے حوالے پیش کړیدی [١]

ده ابن عابدین صاحب رحمه الله عبارت مخکښ ذکر شوے دے.

ولولا الاجرة ما قرأ احد لاحد فی هذا الزمان بل جعلوا القرآن العظیم مِکْسَبًا ووسیلة الی جمع الدنیا.

یعنی که چرے اجرت نوے نوچا به دچا دپاره څه لوستلے نوے په دے زمانه کښ بلکه قرآن عظیم ئے ذریعه دګټے (کسب) اووسیله ګرځولے ده دپاره دراجمع کولو ددنیا (اوبیا دغم دلرے کولو کلمات وائی)

إِنَّا لِلّٰهِ وَ إِنَّآ إِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ٥

په تعلیم باندے د اُجرت اخیستلو حکم

(٣)اصل مذهب داحنافو دادے چه هر هغه طاعت چه ددین دمختصاتونه وی نوپه هغه اجرت ممنوع دی لیکن متاخرینو حضراتو

كذا فى اصول السنة ص١١٤ وص٣٥١ ج١ سطر اول مستخلص
(١) ج١٢ص٥٤ مبسوط - ج٤ ص ٢٣ شرح سير كبير - ج٥ص٥٨ شامي - كوئته المعروف عرفا كالمشروط شرطا ولى الحقائق وفتاوى رشيديه ص٢٢٨ - وشرح المجلة لسليم رستم الباز ص٣٧ مكتبه حبيبيه كوئته المعروف عرفا كالمشروط شرطا ولى العينى شرح الكنز لان المعروف بالعرف كالمعروف بالنص ص٨ ج١ كتاب البيوع طبع نولكشور لاهور

دضرورت په بنا اجازت ذکرکړے دے .په تعليم وغيره باندے اوداېصال ثواب په تلاوت باندے داجرت اخستلودجواز استثنآء هيچا نه ده ذکر کړے دبحث په مناسبت ديوځوکتابونو حوالے دذکرقابلے ګڼړم .شمس الائمه سرخسی رحمه الله فرمائي: ولايجوزان يستاجررجلا ليعلم ولده القرآن اوالفقه"رواه نه دی چه په اجاره ونيسي يوسړی لره چه ولدته ئے قرآن اويا فقه وښائي "

اوبيا ئے دلائل ذکرکړے دی ددلائلو نه بعدفرمائي :

وبعض ائمة بلخ اختاروا قول اهل المدينة وقالوآ ان المتقدمين من اصحابنا بنوا هذا الجواب على ماشاهدوا فى عصرهم من رغبة الناس فى التعليم ومروة المعلمين فى مجازات الاحسان بالاحسان فامافى زماننافقد انعدم المعنيان جميعا فنقول بجواز الاستئجار لئلايتعطل هذا الباب.

(المبسوط ج۱۶ ص۳۷. کذافى قرة عيون الموحدين ص۸۶)

"اوبعض امامانو دبلخ غوره کړيدے قول دمدينے والواووائی چه متقدمين دعلمآوزمونږه بناکړے ده دامسئله په هغه باندے چه دوی په خپله زمانه کښې مينه دخلقو ليدلے وه په تعليم کښې اومروّت ذکړ تعليم کونکوکښې په بدلے دنيکئ په نيکئ سره اوهر چه زمونږه زمانه کښې دی پس ورکے دی دغه دواړه معناګانے .پس مونږه قول کووپه جوازداجرت اخستلو چه معطل نشی دغه باب (دتعليم).

(۲)فخرالدين جناب قاضي خان رحمه الله هم دمتقدمينو حضراتو نه منع ذکرکوی اودبلخ دعلمآءکرامو نه جواز.اودشيخ ابوبکر محمدخوی

دفضل رحمه الله نه ددے وجه داسے ذکرکوی چه متقدمینو اجرت په تعلیم
ځکه مکروهه گنړلے وو. چه دغه زمانه کښې به دمعلمینو دپاره په بیت
المال کښے عطیات وو اود دوی به هم ډیره مینه وه ددین پکارکښې.

وفی زماننا انقطعت رغائب الناس فی امرالاخرۃ فلواشتغلوا بالتعلیم مع
الحاجة الی مصالح المعاش لاختل معاشهم فقلنا بصحة الاجارة للمعلم.

(قاضی خان طبع نولکشور ج۳ص۱۹. وهکذا علی هامش الهندیة ج۲ص۳۳۵)

"زمونږه په زمانه کښې قطع شوی دی مینې دخلقو په باره داخرت کښې
پس کچرے مشغوله شی خلق په تعلیم باندے سره دحاجت نه مصالحو
دژوند تیرولو ته نو خوامخا به خلل ناك شی معاش ددوی نو قول مو
وکړه په صحت داجارے باندے تعلیم کونکی ته". بیاروستو دعلامه
سرخسی رحمه الله عبارت هم ذکرکړے دے (۳)صاحبِ دهدائے لیکی:

ولاالاستجار علی الاذان والحج وکذا الامامة وتعلیم القرآن والفقه والاصل
ان کل طاعة یختص بها المسلم لایجوز الاستجار علیه عندنا[1]

"اونه دی روا طلب داجرت په اذان اوحج اوهمدغه رنگے په امامتی
اوتعلیم دقرآن باندے اوفقه باندے اوقاعده داده چه هر طاعت چه
خاص دی په مسلمان پورے روانه دی اجاره طلب کول په هغه باندے
زمونږه په مذهب.

---

[1] هدایه ج۳ص۳۰۳ کتاب الاجارة:

وبعض مشائخنا استحسنو الاستجار على تعليم القرآن اليوم لانه ظهر التواني في الامور الدينية ففي الامتناع يضيع حفظ القرآن وعليه الفتوى.

(هدایه کتاب الاجارة ج۳ص ۳۰۳)

اوبعض مشائخو زمونږه رواکنړلے دی طلب داجرت په ښودلودقرآن نن ورځے ځکه شان دادے چه سستی ښکاره شویده په دینی کارونوکښ پس په منع داجرت کښ بربادبه شی ایزده کول دقرآن اوپه دے باندے فتوی شوے ده .

(۴)علامه شامی رحمه الله دتعلیم په مسئله تفصیلی لیك کړیدے اواصل مذهب اودمتاخرینو نظریه لیکلے ده اودتعلیم نه علاوه ئے هم ځنے استثنائی امور ذکر کړیدی دعبارت حاصل ئے دادے چه فرمائی اواقتصارشویدے په استثنا دتعلیم دقرآن په متن دکنز اودمتن دمواهب الرحمن اوډیرو کتابونو کښ اوزیات کړیدی په مختصر الوقایة اومتن الاصلاح کښ تعلیم دفقهے لره اوزیات کړی دی په متن دمجمع کښ امامت لره اومثل دده په متن دمنتقی اودررالبحار کښ دی اوداهم ئے فرمائیلی دی :

وقد اتفقت كلمتهم جميعا في الشروح والفتاوى على التعليل بالضرورة وهي خشية ضياع القرآن كما في الهداية. (شامی ج۵ص ۳۸ کتاب الاجارة)

" اویقینی متفقه شویده فیصله دټولومتاخرینو په شرحو اوفتاووکښ په دلیل نیولو سره په ضرورت باندے اوهغه ویره دضائع کیدو دقرآن پاك ده ځنگه چه په هدایه کښ راغلی دی .

اودائے هم تحریر کړی دی :

وقد اتفقت كلمتهم جميعا على التصريح باصل المذهب من عدم الجواز ثم استثنوا بعده ما علمته فهذا دليل قاطع وبرهان ساطع على ان المفتیٰ به ليس هو جواز الاستجار على كل طاعة (شامی صفحه مذكوره)

"اوپے شکه دټولو اتفاقی فیصله پدے شویده چه اصل مذهب (داحنافو) نه رواوالے دے په تعلیم باندے داجرت اخستلو بیائے استثناء کړیده دهغو چه تامعلومه کړه پس دغه دلیل قاطع اوبرهان خلیدونکے دے په دے خبره چه مفتی به روا والے داجرت اخستلو په هر طاعت نه دے.

بهرحال درسالے موضوع جواز اجرت په تعلیم یا عدم جواز په تعلیم نه ده دتفصیل دپاره پرځے کتابونه کتلے شی [1]

دلته مقصد دادے چه دایصال ثواب ختم باندے اجرت ممنوع دے هم دمتقدمینو په نزد اوهم دمتاخرینو په نزد اوددا استثناء نده شوے بلکه مولانا شامی رحمه الله دیارلس کتابونه پنځم جلد کښ ددغه په حرمت ذکر کړیدی اوآخر کښ دخپل بل کتاب شفآء العلیل حواله ورکوی اووائی:

وقد جمعتُ فيها رسالةً سميتها شفاءَ العليل وبلّ الغليل فی حكم الوصية بالختمات والتهاليل واتيت فيها بالعجب العجاب لذوی الالباب وما ذكرته ههنا بالنسبة اليها كقطرة من بحر او شذرة من عقد نحر.

(شامی ج۵ ص۳۰)

" اویقینی ماجمع کړیده پدے کښ رساله چه نوم م و رله کیخودے دے (شفآء العلیل وبل الغلیل) شفاء دمریض اوخړوبه ول دتږی په باره

---

(1) ج۱ ص۱۵۸ رسائل ابن عابدین ص۳۸ ج۵ بزازیه. برہامش ہندیه ص۳۴۱ فتاوی رشیدیه ص۱۶۴۹ امداد المفتین ص۸۴۳ ج۱ معارف القرآن ص۹۵ ج۱۲ عینی شرح بخاری ج۱ ص۳۰۴ ہامش بخاری نمبر۴

دوصیت کولو کښې په ختمونو اوکلمے طیبے ویلو کښې اوراتلهٔ م کړې دی په دغه کښې په ډیر ناشنابحث سره دپاره دخاوندانو دعقلونو اوکوم م چه دلته ذکرکړیدی دهغے په نسبت لکه چه څاڅکے وی ددریاب نه اویا یو حصه وی دهار دسینے نه "

دجوازاجرت په تعلیم بانده به هم تمول نوی بلکه کفاف به وی اومقصد به ئے دتعلیم نه هم دالله تعالی رضاء وی. صاحب دمدخل رحمه الله لیکی :

وعلامة صدقة فیما وصف من تعلیمه لله تعالیٰ انه اذا قطع عنه المعلوم لایترك التعلیم ولاماکان علیه من الاجتهاد ولایتبرم ولایتضجر بل یکون فی وقت قطع المعلوم اکثر تعلیماً واشد حرصاً علیه لانه قد تمحض لله تعالی.

(المدخل ج۲ص ۱۰۵)

"اوعلامه درشتونوالی دمعلم په هغه کښې چه دے تعلیم دالله تعالی درضاء دپاره کوی داده چه کله ترے نه معلومه وظیفه قطع شی نوتعلیم نه پریږدی اونه هغه کوشش چه په ده وو اونه ستړے کیږی اونه تنګیږی (په وخت دبندوالی دوظیفے کښې)بلکه په وخت دبندوالے دمعلوم (تنخواه)کښې دډیر تعلیم اوډیر حرص خاوند وی په تعلیم بانده خکه چه دغه خالص شوے وی دخدائی درضاء دپاره "

په دم بانده د اُجرت اخستلو حکم

(۴)بعض حضرات په ختم شریف بانده داجرت اخستلودپاره دلیل دهغه حدیث نه نیسی چه یوه ډله داصحابو درسول الله ﷺ په یوګودر راغله په هغه ځائے کښې یوتن لړم چیچلے یامار چیچلے وونو دوي ته یو کس دګودروالونه راوړانده شو اووئیل چه ایا په تاسو کښې څوك

دم کونکی شته ځکه چه په ګودر کښی لړم چیچلے یا مار چیچلے دی نو ورغلے یو کس ددوی نه پس فاتحه د کتاب ئے پړے ولوستله په څه چیلوپس جوړشو نو راتله ئے وکړه په هغوسره ملګرو خپلو ته پس هغوی بدوګنړل دغه لره اوویل چه د الله په کتاب د مزدوری واخسته ترد ے چه مدینے ته راغله (نو رپورټ ئے پیش کړو)

فقالوا یا رسول الله اخذ علی کتاب الله اجراً فقال رسول الله ﷺ ان احق ما اخذتُم علیه اجراً کتاب الله[۲]

"پس عرض ئے وکړه چه اے د الله رسوله ! دے سړی دخدائی په کتاب مزدوری اخستے ده پس جناب رسول الله ﷺ وفرمائیل یقینی ډیر لائق دهغه نه چه تاسے پړے اجر اخستے دے د الله کتاب دے"

علامه بدرالدین عینی رحمه الله د ابن الجوزی رحمه الله نه ددے حدیث پحقله درے جوابات ذکرکوی:

احدها ان القوم کانوا کفارا فجاز اخذ اموالهم والثانی ان حق الضیف واجب ولم یضیفوهم والثالث ان الرقیة لیست بقربة محضة فجاز اخذ الاجرة علیها[۱]

"یو وجه داده چه دغه قوم کفارو نو روادی اخستل د مال ددوی او دویمه وجه داده چه حق د میلمه واجب دے او دغو ئے میلمستوب نو کړے او دریمه وجه داده چه دم کول عبادت خالصه نه دے پس روادی اجرت اخستل په دے باندے.

او دعلامه طحاوی رحمه الله په حواله هم لیکی :چه په دم باندے اجرت

---

[۲] بخاری ج۲ص ۸۵۴باب الرقی و کذا فی ج۱ص ۳۰۴ کتاب الاجارة من الصحیح للبخاری ۹/۲

[۱] عینی ج۱۲ ص ۹۷۰- اودغه درے جوابات هم په صاعقة الرحمن ص۷۲ کښی دی

اخستل جائزدی دغه رنګې عینی رحمه الله لیکی :چه دحدیث مطلب اجرت علی التعلیم نه دے بلکه :

وانمامعناه اخذالاجرة علی الرقیة بالفاتحة اوغیرها من القرآن فالامام لایمنع هذا.[1] الخ

اوبے شکه معنی دحدیث په اخستلوداجرت کښ ده په دم باندے په فاتحه اویا غیر دفاتحه نه په قرآن باندے پس امام ابوحنیفه رحمه الله نه منع کوی دے لره "

علامه شامی رحمه الله هم دمتقدمینو حضراتو نه جوازداجرت په دم باندے ذکرکړیدے .

لان المتقدمین المانعین الاستجار مطلقا جوزوالرقیة باالاجرة ولوبالقرآن کماذکر الطحاوی رحمه الله لانها لیست بعبادة محضة بل من التداوی.

(شامی ج۵ص۳۹)

"ځکه چه متقدمین حضرات چه اجرت اخستل مطلقامنع کوی هغوی جائزګنړلے دے دم په اجرت باندے څنګه چه ذکر کړیدی طحاوی رحمه الله ځکه دم خالص عبادت نه دےبلکه دقبیلےدعلاج کولو نه دے "

پس خلاصه دبحث دا رووتله چه دمړودثواب دپاره ختم کول په اجرت خوراك څکاك باندے داناجائزاوحرام دی اوهیڅ یوته ئے ثواب نه رسیږی بلکه اجرت ورکونکے اواخستونکے دواړه ګنه ګار دی څنګه چه باربارذکرشواوداپه تعلیم یا رقیے باندے هیڅاقیاس کړی ندی خدائي پاك دزمونږه صحیح پوهه نصیب کړی .

[1] عینی ج۲۱ص۲۲۴ وهکذا علی هامش البخاری ص۸۵۴

(۵) د جهري ذکر بيان

بعض علاقو کښې دا طريقه ده چه د جنازے دوړلو په موقعه په زوره ذکر کوي او کله پکښې بعض نوروته هم ددے ترغيب ورکوي نو دد غه طريقے په باره کښې بلکه په عامو وختونو کښې په زوره زوره ذکر ،تلاوت ،دعا ٓ په حقله هم څوګذارشات درسالے مطالعه کونکي ورونړو په حضور کښې پيش کوم وبالله التوفيق ..

جناب مفتي محمد شفيع صاحب ديوبندي رحمه الله د جنازے سره په زوره ذکر کولو په باره کښې دا سے نوټ کړے دے .

الجواب: نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم اور صحابہ اور تابعین اور آئمہ دین میں کسی سے ضعیف روایت میں بھی قولاً یا عملاً منقول نہیں اس لئے بدعت شنیعہ اور ایسا کرنا گناہ ہے اور اس کو ثواب باعث برکت سمجھنادوسرا گناہ ہے۔

لحديث عائشه رضي الله عنها من احدثنا في آمرنا هٰذا ماليس منه فهو رد وقدوردت الاحاديث الكثيرة في النهي عن الابتداع في الدين وسؤ منقلب اهلها اعاذنا الله تعالى (امداد المفتين ص ۹۳)

ترجمه :دنبي کريم ﷺ او اصحابؤاوتابعينو امامانو په دين کښې د کوم يونه هم په کوم ضعيف روايت کښې قولا يا فعلا نقل شوي نه دي ددے وجهے نه ناکاره بدعت اوداسے کول ګناه دي اودغه لره ثواب اوسبب برکت ګنړل بله ګناه ده ددے حديث ده وجهے نه چه په نقل دعائشے رضي الله عنها دے چاچه پيدا کړه په امر (دين) ځمونږه کښې چه دادے هغه څيزلره چه د دين نه نه وي پس هغه رد دے اويقيني ګنړ احاديث راغلي دي په منع کښې دبدعت راويستلو نه په دين کښې اوپه ناکاره انجام

داهل بدعت کښې الله تعالی دے ترے مونږه لره پنائی راکړی.

(امداد المفتین ص ۹۳).

(۲) حضرت مفتی رشید احمد لدهیانوی رحمه الله هم لیکی چه دغه عمل بدعت دے:

جنازہ کے ساتھ جہراً کلمہ پڑھنا بدعت ہے۔ (احسن الفتاوی ص ۱۱۹)

"دجنازے سره په زوره کلمه وئیل بدعت دے"

بیاروستوده شامی رحمه الله په حواله دځنو کتابونو نقل کوی اوشامی رحمه الله دبحر په حواله لیکی زه دهغوی عبارت سره دترجمے نه ذکر کوم:

(۳) علامه ابن نجیم رحمه الله په شرح دکنزالدقائق کښې لیکی:

وینبغی لمن تبع الجنازة ان یطیل الصمت ویکره رفع الصوت بالذکر وقراة القرآن وغیرهما فی الجنازة والکراهة کراهة تحریم.

"اومناسب دی هغه چاد پاره چه جنازے پسے ځی چه پوره چپ والے کوی اومکروه دی پورته کول داواز په ذکر اولوستل دقرآن سره اوپه غیر ددے دواړو نه په جنازه کښې اوکراهت په دے کښې تحریمی دے.

وقال العلاء الدین الناصری رحمه الله ترك الاولی اه وفی الظهیریة فان اراد ان یذکر الله یذکره فی نفسه لقوله تعالی ان الله لایحب المعتدین ای الجاهرین بالدعاء الخ[1]

"اوعلاؤالدین ناصری وائی چه کراهت ترك اولی (تنزیهی) دے اوفتاوٰی ظهیریه کښې دی کچرے اراده ئے دذکر الله وه نوذکر دے کوی

(۱) البحر الرائق ص ۱۹۲- وکذافی الشامی ج۱ص ۸۶۱ والکبیری ص ۴۹۸-

په زړه خپل کښې دوجهې ددے قول دالله تعالی چه بے شکه الله مینه نه ساتی دزیاتی کونکو یعنی چغے کونکو سره په دعاء باندے"

(۵)فتاوی عالمگیری کښې هم راغی دشرح الطحاوی بحواله:

وعلی متبعی الجنازة الصمت ویکره لهم الصوت بالذکر وقراءة القرآن.

(فتاوی هندیه ج۱ص ۱۶۳)

"اولازم دی په هغه کسانو چه جنا زه پسے ځی چپ والے اومکروه دی ددوی دپاره پورته کول داوازپه ذکر اوتلاوت دقرآن باندے"

(۶) اوبیا فتاوی قاضی خان په نقل لیکی:

فان اراد ان یذکر الله یذکره فی نفسه"[1]

"پس که چرے اراده دذکر ئے دالله تعالی لره نوپه زړه خپل کښې دے یاده وی"

خلاصه دبحث داده چه دجنازے سره په زوره زوره ذکر مکروه اوبدعت دے اوثبوت ئے دجناب رسول الله ﷺ اوحضراتو اصحابو کرامو رضی الله عنهم نه نه دے شوے بلکه فقهاء کرامو ورته بدعت اومکروه وئیلے دے که چرے څوک څه ذکرکول غواړی نوخپل زړه کښې دے کوی څنګه چه مخکښې عرض اوشو.

اوس په عامو حالاتو کښې دذکر جهری حکم واورئ الله جل جلاله وعم نواله خپل کتاب کښې ارشادکوی.

---

[1] فتاوی عالمگیری صفحه مذکوره وبحواله فی نماز حنفی ص ۹۱ للمولانا خیر محمد صاحب جالندهری نقلا عن الفتاوی الهندیه ۹۰

(۷) وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّ خِيْفَةً وَّ دُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَ الْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿۲۰۵﴾ (سورة الاعراف ۲۰۵)

"اويادوه رب خپل په زړه خپل کښې په عاجزئ سره اوبغير دزوره وينا نه په سحر او مازيګر کښې اومه کيږه دغفلت کونکونه" .

په دغه آيت مقدسه باندے حضرات مفسرين رحمهم الله ليکی :چه داعام دے په هر قسم ذکر خداوندی کښې .

(۸) هوعام فی الاذکار من قراءة القرآن والتسبيح والتهليل وغيرها[1]

"چه داحکم عام دے په ذکر ونو کښې که لوستل دقرآن دی که تسبيح وی اولا آله الا الله وی اوکه نور ددے نه وی

بل آيت شريفه کښې دی .

(۹) اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّ خُفْيَةً ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۵۵﴾ (الاعراف ۵۵)

"بلئ رب خپل په عاجزی اوپټه سره يقينی الله تعالی مينه نه ساتی دزياتی کونکو سره "

په آيت شريفه مفسرين رحمهم الله ليکی :چه چغې کول په دعاء اوذکر سره مکروه اوبدعت دے "

(۱۰) ويکره رفع الصوت والنداء والصياح فی الدعاء ويومر بالتضرع والاستکانة

(تفسير مدارک ص ۲/۵۷ وتفسير ابن کثير ص ۲/۲۲۱)

"مکروه دی پورته کول داوازاونداء کول اوچغې وهل په دعاء کښې اوامر کړے شوے دے په عاجزئ کول اوذليل کيدو سره" .

---

[1] تفسير مدارک ج۲ص ۹۲- هوعام لکل ذکر روح المعانی ج۹ص ۱۵۷-

دحسن بصری رحمه الله نه نقل دے فرمائی :چه

(۱۱) ولقدادركنا اقواما كانو ايبالغون فى اخفآء الاعمال ولقدكان المسلمون يجتهدون فى الدعآء ومايسمع صوتهم الاهمسا.

(تفسير كبير ج۱۴ ص ۱۳۱ . تفسيرابن كثيرج۲ ص ۲۲۱)

"اويقينا موندلی دی مونږه قومونه (پخوانے نیکان) ډیر کوشش به ئے کولو په پټوالی داعمالو کښ اوبے شکه وو مسلمانان چه کوشش به ئے کولو په دعاء کښ اونه به شو اوریدلے دوی لره مگر دسینے خشارے"

(۱۲) دحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دے چه یو ځل دحضور ﷺ اصحابو کرامو رضی الله عنهم په تکبیر لآ آله الا الله ذکر باندے اوازپورته کړو نوهغوی ورته اوفرمائیل :

اربعواعلى انفسكم فانكم لاتدعون اصم ولاغائبا انكم تدعون سميعا قريبا وهو معكم[1]

"دمه راولئ په ځنونو خپلو باندے پس یقینی تاسونه بلی کانړه اوغائب لره بے شك تاسو بلی اوریدونکے نزدے ،باچا لره اوهغه له تاسو سره دے . (الحديث)

په دے حدیث باندے محدثین کرام رحمهم الله لیکی :

(۱۳) ففيه الندب الى خفض الصوت بالذكر اذالم تدع حاجة الى رفعه[2]

"چه په دے حدیث کښ ترغیب دے ښکته والی داواز ته په ذکر سره کله چه حاجت پیښ نشی پورته والی ته"

---

[1] ص۲۰ ۱۱ ج۲ ص ۶۰۵ بخاری - ج۲ ص ۳۴۶ مسلم ص ۲۰۱ مشکوة ج۲ ص ۲۲۱ ص ۲۸۱ تفسیر ابن کثیر ج۸ ص ۱۳۹ روح المعانی ج۲ ص ۵۶ مدارك ج۱۴ ص ۱۳۱ کبیر -

[2] نووی علی المسلم ج۲ ص ۳۴۲ -

بلکه دڅلورو واړو مذاهبو فیصله په دے ده چه په زوره ذکر مستحب نه دے پخلاف دابن حزم ظاهری رحمه الله نه .اوغالبه داده چه داحقه هم ده چه څلورمذاهب په دے متفقه دی .

وقال ابن بطال رحمه الله المذاهب الاربعة علی عدم استحبابه(۳)

"اوابن بطال رحمه الله فرمائی : چه مذاهب اربعه په عدم استحباب په پورته والی داواز په ذکر باندے دی "

استثنائی مواضع

دَذکر شو ی بیان نه واضحه شوه چه په زوره ذکر کول اوخاص کر چغے سورے وهل چه علماء ورته جهر مُفرط وائی بدعت دے . البته ځنے ځایونه مستثنی دی چه هغه ځایونو کښ به جهر کولے شی لکه اذان ،اقامت ،تکبیرات تشریق ،تکبیرات انتقال ،په مانځه کښ دفتحے دپاره تسبیح دمقتدی تلبیه دحج وغیره چه په هغو دلائل موجود دی .قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله فرمائی:

(۱۴)ثم اجمع العلماءٓ علی ان الذکر سرا هوالافضل والجهربالذکر بدعة الافی مواضع مخصوصة مسّت الحاجة فیها الی الجهربه الخ..(مظهری ج۳ص۳۶۱)

بیا اجماع کړے علماؤ په دے چه وروذکر بهتر دے اوجهر په ذکر باندے بدعت دے مګر په خاصو خاصو ځائنو کښ چه حاجت ورته پښیږی په جهر سره په ذکر باندے "

(۱) هامش البخاری ج۱ص۱۱۲باب الذکر بعد الصلوة وهذه الالفاظ فی ج۱۰ص۲۷۰البدایه والنهایه طبع دارالفکر بیروت ج۲ص۲۱۷ننوی مع المسلم وقال القاری وقد نص بعض علمائنا ان رفع الصوت فی المسجد ولوبالذکر حرام :مرقاة ج۱۰ص۱۷۶-

(۱۵) شاه محمد اسحاق رحمه الله دتکبیرات تشریق په حقله دګنړو کتابونو پحواله لکه غاية البيان، کفایه، بحر، قاضی خان، مصفی، برهان، وغیره لیکی چه دخاصوورځونه علاوه په زوره تکبیرونه وئیل مکروه دی.

ذکر جهر در مذهب حنفیّه بدعت است مگر جائیکه دران ذکر جهر آمده مثل اذان وغیره دران بدعت نیست وماسوآئے ان بدعت است۔

قال فی فتح القدیر والاصل فی الاذکار الاخفآء والجهر بها بدعة[1]

"په زوره ذکر په مذهب حنفی کښې بدعت دے مګر په هغه ځایونو کښې چه جهر پکښې راغلے وی لکه اذان وغیره په دغو کښې بدعت نه دے اوماسوائے ددغو نه بدعت دے په فتح القدیر کښې وائی چه قانون په ذکرونو کښې پټوالے دے اوجهر پدے بدعت دے.

هم دغه شان دامین په حقله فقهاء کرام ځمونږه لیکی چه په ورو وئیل بهتر دی اګر چه په دواړو طرفونو حدیثونه شته دے ځکه چه امین دعاء ده او اصل په دعاء کښې اخفاء ده.

(۱۶) ولانه دعاء فیکون مبناه علی الاخفاء[2]

اودے وجه نه چه امین دعاء ده پس کیږی بناء ددے په پټ والی سره البته بعض مواضعو کښې چه ذکر جهری دذکر شووځایونو نه علاوه راغلی دی نوهغه دتعلیم دپاره دی لکه علمآء کرام فرمائی:

وآنچه در بعض احادیث ذکر جهر ثابت است بغیر مواضع مقرر پس بنابر تعلیم است۔

صد ۸۰

[1] ماقمسائل ج۱ص ۴۳۰- فتح القدیر طبع محمدعلی مصر و ص ۱۳۰۲ المستخلص

[2] ص ۲۵ هدایه ص ۱۲۶۸ المستخلص ص ۱۲۶۷ عمدة الرعایه علی شرح الوقایه ج۱ص ۱۳۷ العنایه علی فتح القدیر و ص ۱۲۷۵ الکبیری-

(ماۃ مسائل ص ۸۱)

"اوهغه چه په بعض احاديثو کښې په زوره ذکر ثابت شوے دے په غير دمقررځايونو نه پس بنا په تعليم باندے ده .

(۱۷) دغه رنګے امام نووی رحمه الله هم دامام شافعی رحمه الله په نقل ليکلی دی (نووی علی المسلم ج ۱ ص ۲۱۷ نمبر ۳)

(۱۸) اوجناب ابن حاجؒ هم جهر کله کله په تعليم باندے حمل کړے دے

انما جهرقليلا لتعلم الناس منه. (المدخل لابن الحاج ص ۱۰۳)

"يقينی جهر کړے وو نبی ﷺ کله کله چه خلق زده کړه وکړی د هغوی نه "

(۲) وجد او جذبے په ځان راوستل ده بدعتيانو عمل دے

ددے خبرے نه انکار نشی کيدے چه ذکر يوبهترين عمل دے قرآن عظيم الشان کښې دبل هيڅ يوعمل په باره کښې دکثرت يعنی ډيروالی حکم ندے راغلے سوائے دذکر نه لکه چه ارشاددے :

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ۝ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ۝ (سورة الاحزاب ۴۱،۴۲)

"اے دايمان خاوندانو يادوی الله لره په يادوه ولو ډيروسره اوپاکی بيانه وئ دهغه سحر ،اومازيګر .

هم دغه شانے نورو اياتونو کښې هم دذکر دَ کثرت [1] ذکر دے اوذکر په فضيلت اومنقبت اواهميت داحاديثو ذخيره په دے مختصره رساله کښې قابل برداشت نه ده لهذا په يوحديث پاك اکتفآء کوم .شوق مند حضرات دے داحاديثو کتابونو ته رجوع وکړی .

[1] سورة الاحزاب ۲۱، ۳۵، الانفال ۳۵

وعن عبدالله بن بسرؓ ان رجلاً قال یا رسول الله اِنَّ شَرَائِعَ الاسلامِ قد کثرت عَلَیَّ فَاَخْبِرْنِی بِشَیْیٍ اَتَشَبَّثُ بِهٖ قَالَ لَایَزَالُ لِسَانُکَ رَطْبًا مِنْ ذِکْرِ اللهِ (۳)

اودعبدالله خوی دبسر رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړی اووئیل اے دالله رسوله یقینا داسلام شریعتونه پما ډیر شوی دی پس خبر راکړه په یو جامع شیئ باندے چه څه پرے منګلولے ولږومه هغوئ اوفرمائیل چه همیشه دے ستا ژبه دالله تعالی دیادنه لمده وی یعنی ذکر کونکے دے وی .

لیکن ددغه ترغیباتو باوجود ذکر په خپل ځائے اومقام کول پکار دی دځان نه وجدونه بے هوشی یاچغے اوسورے په دے نه دی پکار ځکه چه الله تعالی ده نیکانو بندګانو په صفاتو کښ ذکرکړی دی چه الله تعالی دکتاب داوریدو په وخت جاړ ی زړه ئے نرمیږی غونے ئے زګیږی نه داچه وجدونه پرے راځی .لکه چه ارشاد خداوندی دے :

اَللهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِیْثِ کِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِیَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِیْنُ جُلُوْدُهُمْ وَ قُلُوْبُهُمْ اِلٰی ذِکْرِ اللهِ (الزمر ۲۳)

"الله تعالی رالیګلی دی ښائسته خبرے داسے کتاب چه یو بل سره ئے مضامین متشابه اومکرر ذکر دی زګیږی ددے نه څرمنے دهغوکسانو چه ویریږی درب خپل نه بیانرمیږی څرمنے اوزړونه ددوی یاددالله ته"

وقال تعالی ایضاً: اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِیْنَ اِذَا ذُکِرَ اللهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ (الانفال آیت ۲)

وَقَالَ تَعَالٰی: وَ اِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَی الرَّسُوْلِ تَرٰٓی اَعْیُنَهُمْ تَفِیْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاکْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِیْنَ (المائدہ: ۸۳)

(۳) رواه الترمذیؒ ج۲ ص۲۵ وابن ماجهؒ ج۱ ص۱۹۸ مشکوة المصابیح

"یقینا کامل ایماندار هغه کسان دی چه کله یادکړے شی الله تعالی نونرم شی زړونه ددوی . اوداهم فرمائی: اوکله چه واور ی‌ددوی هغه کتاب چه نازل شوے د ے رسولؐ ته وینے به سترګے ددوی چه دارے به وهی داوښکونه دوجهے دهغه چه پیژندلے ئے دے حق (او)وائی دوی اے ربه !ایمان راوړے دے مونږه پس ومو لیکه دګواه کونکونه "

دذکر شوو ایتونو نه دنیکانو بندګانو صفتونه واضحه شو اوس یوحدیث هم پیش خدمت کوم .جناب عبدالله دخپل پلار حضرت شخیر رضی الله عنه نه روایت کوی چه څه ورسیدم جناب رسول الله ﷺ ته .

وهويصلى ولجوفه ازيزكازيزالمرجل [1]

اوهغوی مونځ کولو اودهغو ی دګیډے (سینے)څپاره آواز وو پشان دآواز ددیګ یعنی ژړل ئے . حضرت قتادة رحمه الله یوځل دسورة زمر والا آیت تلاوت کړو اوبیا ئے اووئیل:

هذانعت اولياء الله عزوجل بان تقشعر جلودهم وتبكى اعينهم وتطمئن قلوبهم الى ذكر الله ولم ينعتهم بذهاب عقولهم والغشيان عليهم انما هذا فى اهل البدع وهٰذا من الشيطان [2]

"چه داصفت دخدائی ددوستانودے چه الله عزوجل ئے صفت کړے پدے چه څرمنے به ئے زګیږی اوسترګے به یے ژاړی اوزړونه به ئے مطمئن کیږی ذکر دالله تعالی ته اوداصفت ئے ورله نه دے کړے چه عقلونه به ئے ځی اوبے

[1] مشکوٰة ج ا ص ۹۱ و هكذا الى ج ۳ ص ۱۷۳ حیاة الصحابه لمولانا یوسف رح وج ا ص ۱۱۷۵ الاعتصام؛

[2] ابن کثیر ج ۴ ص ۱ و روح المعانی ج ۲۳ ص ۲۶۰ و نشر المرجان ص ۴۳۰:

هوشي به پرے راځي يقينا داعمل په بدعتيانو کښې دے اوداعمل له طرفه دشيطان نه دے"

علامه شاطبي رحمه الله خپل کتاب کښې په دے مسئله مفصل ذکر کړيدے څه دلته ترے نه صرف نشان دهي کول غواړم .

وعن انس بن مالك رضي الله عنه انه سئل عن القوم يقرا عليهم القرآن فيصعقون فقال ذالك فعل الخوارج (ج١ص٢٧٢)

"اوانس بن مالك رضي الله عنه نه ديوقوم په باره کښې تپوس اوشو چه قرآن پرے اولوستلے شي نو بے خوده شي پس وئے وئيل دغه عمل دخوارجو دے"

وسُئِل محمدُ بن سيرين عن الرجل يقرا عليه فيصعق فقال ميعادما بيننا وبينه ان يجلس على حائط ثم يقرأ عليه القرآن من اوله الى اخره فان وقع فهو كما قال وهٰذا احسن فى المحق والمبطل (الاعتصام ج١ص٢٧٢ وكذا فى روح المعانى)

"اومحمدبن سيرين نه سوال اوکړے شو ديوسړی په حقله چه لوستل پرے اوشي نو بے هوشه شي پس وے فرمائيل ميعاد ددغه اوخمونږه مابين کښې دادے چه په ديوال به کينولے شي بيا به پرے قرآن داول نه تراخره ولوستلے شي که چرے اوغورزيدو نودغه پشان دقول دهغه دی (يعنی واقعی بے اختياره جذبه راتلونکے دے)او داخبره ښه ده دحق پرست اوباطل پرست په باره کښې

"وقال بعد بسط وتفصيل وهذا اكله من الشيطان يلعب بهم وهٰذا اكله بدعة وضلالة (الاعتصام ج١ص٢٧٩)

اوشاطبي رحمه الله پس دپوره تفصيل نه وئيلے دی اودا(يعنی بے هوشی وجد تول دشيطان له طرفه دی اوداتول بدعت اوګمراهی ده"

اخون درويزه صاحب رحمه الله دپيربابا رحمه الله مريد هم ليکلی دی:

"ومايفعله الذين يدعون الوجد والمحبة لاأصل له ويمنع الصوفية من رفع الصوت وتخريق الثياب"[1]

"اوهغه عمل چه مدعيان دوجد اومحبت ئې کوی هيڅ اصل هغه لره نشته اومنع کولې به شی صوفيان دپورته کولو دآواز اوشلولو دجامونه"

علامه شامی رحمه الله فرمائی چه مختار اوملتقی کښې دنبی ﷺ نه نقل کوی چه هغوی بدګڼړلې پورته والې دآواز په وخت دلوستلو دقرآن اوجنازې اومقابلې دکفاراودوعظ په وخت کښې "

فَمَا ظَنُّكَ عِنْدَ الغناءِ الذی يسمُّونَه وجداً ومحبة فانه مكروهٌ لااصلَ لهُ فِي الدين (شامی ج۵ص۲۸۱)

"پس څه ګمان دې ستاپه نزد دهغه غناء(سرود)چه ورته وجداومحبت نوم ګدی پس يقينا.دغه مکروه دې اصل ورله دين کښې نشته "

خلاصه دکلام داده چه دجنازه سره ذکرکول په زوره ثبوت شريعت کښې نه دې راغلې بلکه اصل په دعآء تلاوت ذکر واذکار تسبيحاتو وغيره ؤکښې اخفآء ده .حتی داچه دحسن بصری رحمه الله نه منقول دی چه په ورو اوزوره ذکر په مابين کښې اويا (٧٠) درجې فرق دې[1].

اوچغې سورې ،نارې،وهل اوخصوصا وجد ،جذبې ،بې‌هوشی ،پخان راوستل ممنوعه اوبدعت اوګمراهی ده .اوځنې ځائنو کښې لکه اذان اقامت وغيره په جهر دضرورت په اساس دې ددغونه علاوه دتعليم په وجه بعض ځايونو کښې جهر راغلې دې .

---

[1] تذکرة الابرار والاشرار ص۱۳۹و کذافی ص۸۱ماةمسائل نقلاعن الفتاوی العلامية:

[1] روح المعانی ج۸ص۱۳۹مظهری ج۳ص۱۳۶۱المرقات ج۵ص۸۹:

البته په کومو ځایونو کښې (١) چه دریا خطره نوی (٢) مونځ ګزار دمونځ نه نه وځی (٣) او خلقوته تکلیف نه رسی (۴) اواوریدونکو ته نفع رَسَوَل (۵) یادخپل زړه رابیدارول (٦) یافکر برابره ول (٧) یاخوب دځان نه شړل وغیره مقصدوی نوبیا جهر کول شته دے یعني جوازلری لکه چه علماء کرامو لیکلی دی[٢].

خوزمانه حال کښې دریانه بچ کیدل ګرانه خبره ده.

(٧) دَ جنازے د وړلو طریقه

موجوده دور کښې دایوه طریقه هم رائجه شوے ده چه کله جنازه مقبرے ته روانه کړی نوملاصاحب ته غږ اوکړی چه راشه اوقدمونه ورله کیده نو ملاصاحب کله یوے پخے دکټ له ځی اوکله بلے پښې لره لاس په کټ ګدی اوورورو ځی اوزورنه کوی داطریقه خلقو مشهوره کړے ده اوپه خپل عرف کښې ورته قدمونه کیښودل وائی حالانکه شرع کښې ددے دپاره څه ثبوت نشته اصل کښې دایوه اختلافی مسئله ده چه دمړی په وړو کښې سنت څو کسان دی زمونږه داحنافو مذهب خودادے چه عذر نوی نوڅلورکسان به ئے وړی اوبیا داهم لیکی چه وړونکی لره پکار دی چه اول ئے پخپله ښی اوګه اولنے طرف اوبیاروستنی طرف یوسی اوبیا په ګسه اوګه مخکښنی طرف اوبیا روستنی طرف یوسی .

ابن الهمام حنفی رحمه الله دابن ابی شیبه رحمه الله اوعبدالرزاق رحمه الله په حواله لیکی .علی الازدی رحمه الله وائی چه:

---

[٢] امدادالمفتین ص٢٠٨الفتاوی خیریه ج١ص١٨١شامی ج١ص٤٨٨:

رائیتُ ابن عمر رضی الله عنه فی جنازة فحمل بجوانب السریر الاربع (فتح القدیرج۱ص۴۶۸)

"عبد الله بن عمر رضی الله عنه م اولیده په جنازه کښې پس ورله ئې په څلوروطرفونو دکټ بانده. دغه رنګې ملك العلماء کاسانی رحمه الله فرمائیلی دی:

ومن اراد کمال السنة فی حمل الجنازة ینبغی له ان یحمل لها من الجوانب الاربع لما روینا عن ابن عمر رضی الله عنه انه کان یدور علی الجنازة علی جوانبها الاربع فیضع مقدم الجنازة علی یمینه ثم مئوخرها ثم مقدمها علی یساره کما بین فی الجامع الصغیر[1].

"اوڅوك چه اراده دپوروالی دسنت طریقې لری په ورلودجنازه کښې مناسب دغه لره چه یوسی ئې دڅلوروطرفونو نه له وجه دهغه حدیث نه چه مونږه یې روایت کړی دے دابن عمر رضی الله عنه نه چه دے به ګرزیده په جنازه بانده په څلوروطرفونو دهغې بانده پس کیخوده به ئې مخکښې طرف د جنازه په ښی طرف خپل اوبیاروستوطرف دجنازے په خپل ښی طرف بانده اوبیا ئې مخکښې طرف په ګس طرف خپل اوبیا روستو طرف ئې په ګس طرف خپل لکه چه ددے بیان په جامع الصغیر کښې شوے دے دغه طور نورو فقهاء کرامو هم لیکی دی اوځنو دڅلویښتو قدمونو ذکرهم کړے دے[2].

نوحاصل داشو چه په فقهاء کرام دهر ورونکی دپاره دغه طریقه ښودلے ده اوداندہ چه صرف دمکر لاس په کټ کیدی اونه زور ورکوی اونه ئې

---

(۱) بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع لملك العلماء الکاسانی المتوفی ۵۸۷ھ: ج۱ص۳۰۹

(۲) نور الایضاح ص۱۳۰ الشامی ج۱ص۷۵۰ فتاوی عالمګیری ج۱ص۱۶۲:

وړی اوهسے دناز قدمونه اخلی اوبیا تخصیص دامام استاذ صاحب دکوم ځائےنه راغلے دے دځان نه یوعمل رائج کول اوتخصیصات راپیدا کول بدعت دے څرنګے چه مخکښ وضاحت شوے دے :

(٨) دسپارلو طریقه

یو بله طریقه هم ډیره مشهوره شوے ده چه کله مړے قبر کښ کیدی نو مولاصاحب ته غږکړی چه راشه وئے سپاره .نو مولاصاحب قبر کښ کوزشی اومړی ته په غوږکښ دسپارلو کلمات وائی اګرچه مړے پردی اجنبی ښځه هم وی اوداعمل ئے په مولا صاحب پسے ضروری ګرځولے دے اوخلق ورته عرف کښ سپارل وائی حالانکه ایخودونکی دمړی به هغه کلمات وائی کوم چه حدیث مبارکه کښ راغلی دی نه داچه هغه به هیځ نه وائی اومړی دایخودونه پس (بعد)به صاحب ته آواز کوی چه راشهِ وئے سپاره.

وعن ابن عمر رضی الله عنه ان النبی ﷺ کان اذا ادخل المیت القبر قال بسم الله وبالله وعلی ملة رسول الله وفی روایة وعلی سنة رسول الله---[1]

"دابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ ووچه کله به ئے مړے قبرته داخلولونووئیل به ئے چه ده خدائی په نوم اودالله په حکم دے (ګدم)اوپه دین درسول الله دے (سپارم)اوپه یوروایت کښ دی چه اوپه سنت درسول الله ﷺ (دے سپارم)

دحدیث پاك نه بعد دحضراتو فقهاء کرامو رحمهم الله متفقه فیصله هم واوری فقهاؤ وئیلی دی چه ایښودونکے دمړی به داکلمه وائی چه:

---

(١) رواه احمد والترمذی وابن ماجة وروااه ابوداؤد الفانیه ج١ص١٤٨ الترمذی ج١ص١٥٧ ابن ماجة ص١١١٢ ابوداود ص١٤٥٨ - مشکوة

بسم الله وبالله وعلى ملةِ رسول الله ويقول واضعه بسم الله وبالله وعلى ملة رسول الله الخ[۲]

"او ايښودونکے دمړی به داکلمه وائی: بسم الله وبالله وعلى ملة رسول اللهِ .ځنے فقهاؤ ورسره داهم زيات ليکلی دی: وفی سبيل الله اويو روايت کښ دوه کلمے فرمائيلی دی: بسم الله وعلى ملة رسول الله خوبهرحال دادا ايښودونکی دمړی کلمات دی نه داچه په امام پسے خاص دی .فقهاء داهم ليکی:

وذوالرحم المحرم اولى بادخال المراة القبر من غيره لانه يجوز له مسها حالة الحياة فكذا بعد الموت[۱]

"اوخاوند دخپلولی چه محرم وی بهتر اولائق دی په داخلول دښځے سره قبرته دغيرنه ځکه چه مسه کول دزنانه ورله په ژوند کښ روادی دغه رنګے حکم پس دمرګه هم دے البته کچرے ذورحم محرم نوی نوبيائے اجانب خلق قبرته ښکته کولے شی .

(۹) د ښځو تلل قبرونو ته

داهم يوه بله طريقه مقرره اومشهوره ده چه دمړی ددفن کولو نه بعد په دويمه دريمه ورځ خواه مخواه دمړی خپلوانے زنانه اودهغوی سره درفاقت ښکاره کيدو دپاره دکلی چم زنانه مقبرے اديرے ته ځی اوکله دومره زنانه جمع شی چه ډيرے زياتے شی اوداعمل ئے بيخی ضروری ګرځولے دے نومناسبه معلوميږی چه دخپلے ذمهٔ پوره کولو دپاره هم په دادی ددے مسئله څه اوليکم .(والله المستعان)

---

[۲] بدائع الصنائع ج۱ص۳۱۹ الدر المختار مع الشامی ج۱ص۶۶۰ هدايه ج۱ص۱۸۲ فتح القدير ج۱ص۴۷۱ شرح الوقايه ص۲۴۰-

[۱] ج۱ص۳۲۰ بدائع الصنائع ج۲ص۱۹۲ البحر الرائق

کله چه مسلمانان دنوی عهدؤ اسلام ته نودزیارة القبور نه منع کړې شوی وو بیاروستو اجازت اوکړے شو اوده زیارة القبورحکمت بے رغبتی ددنیانه اویادوه ول داخرت ئے اوښودلے شو لکه چه جناب رسول الله ﷺ فرمائی :

(۱)وعن ابن مسعود رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال كنت نهيتكم عن زيارة القبور فزوروها فانها تزهد فى الدنيا وتذكر الاخرة[1]

"دابن مسعود رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه مامنع کړې وی تاسو لره د کتلو دقبرونو نه پس ملاقات ئے کوی پس دغه بےرغبتی راولی په دنیاکښ اویادوه وی اخرت لره ".

(۲)امام ترمذی رحمه الله لیکلی دی چه بعض اهل علمو رخصت او اجازت کښ دښځو داخله هم وئیلےده اوبعض حضراتو وئیلے دی چه زیارةالقبورښځولره منع دے .

لقلة صبرهن وكثرة جزعهن (ترمذی ج۱ص۱۵۳)

"دوجهے دکم والی دصبرددوی نه اوډیروالی دفریادددوی نه "

مولاناعلی قاری رحمه الله دنووی رحمه الله په حواله لیکی چه زیارة القبور دښځو کښ دوه قوله دی خو........

۳.قطع الاكثرون بالكراهة ومنهم من قال لايكره اذا امنت الفتنة[2]

"فیصله کړې اکثروعلماء په مکروهوالی سره اوبعض دعلماء نه وائی چه مکروه نه دی کله چه په امن کښ وی دفتنے نه .

---

(۱)ابن ماجه ص۱۱۴ وفی روایة مسلم فزوروا القبور فانها تذكر الموت ص۵۶ مشکوة:

(۲)المرقات ج۴ص۱۱۲ وکذاعلی هامش المشکوة ج۱ص۱۵۴ ونقل الاختلاف ایضا ابن حجر فی ج۳ص ۱۴۸ و ص۱۴۹ فتح الباری طبع دارالنشر الکتب الاسلامیه بلاهور:

لیکن نن صبا چه دپوزیشنونو سیالی ده اودبے حیائی بازار ګرم روان دے دفتنے نه بچاؤ مشکل دے لهذا دغه وجه نادره ده نو داکثرو علماء فیصله صحیح ده .

۴. علّامه قنوجی رحمه الله دامسئله په تفصیل سره ذکر کړے ده اوپه اخر کښې داسے لیکی :

الحاصل ازقول ابن عبدالبر رحمه الله واز کلام عینی رحمه الله شارح بخاری رحمه الله وامام نووی رحمه الله شارح صحیح مسلم رحمه الله وعبدالرحیم طاهری رحمه الله شارح ترمذی رحمه الله وصاحب شرح برزخ رحمه الله ومصنف حجة العلماء رحمه الله وصاحب درالبحار رحمه الله وشارح نورالایضاح رحمه الله وصاحب درالبحور رحمه الله وفتاوی رحمانی رحمه الله وتحفة الفقهاء وکنزالعباد وحجة الاسلام وخلاصة الفقهآء ومسائل الاموات وکفایه شعبی رحمه الله وتاتارخوانی وابراهیم شاهی رحمه الله ومجالس الابرار ونصاب الاحتساب ومالابد منه. بخوبی واضح گشت که زیارة قبور زنان را حرام ومکروه است بقول اصح. (تفهیم المسائل ص۱۲۰ طبع محمدی لاهور)

چه حاصل دقول ابن عبدالبر رحمه الله اودکلام دعینی شارح بخاری اوامام نووی رحمه الله شارح دصحیح مسلمؒ اودعبدالرحیم طاهری رحمه الله شارح دترمذیؒ اوصاحب دشرح برزخ رحمه الله اومصنف دحجة العلمآء رحمه الله اوصاحب درر البحار رحمه الله اوشارح دنورالایضاح رحمه الله اودصاحب درالبحور رحمه الله اودفتاوی رحمانی اوتحفة الفقهآء کنزالعباداودحجة الاسلام اودخلاصة الفقهآء اودمسائل الاموات اودکفایه دشعبی رحمه الله

او د تار تار خواني او د ابراهيم شاهي رحمه الله او د مجالس الابرار او د نصاب الاحتساب او د مالابد منه (يعني دَدې ټولو داقوالونه) ښه واضحه شوه چه ښځو لره د قبرونو ملاقات حرام او مکروه دے په اصح قول سره"۔

يعني ديوويشت (۲۱) کتابونو په حواله سره صاحب موصوف دا واضحه کړه چه زنانا و لره تګ مقبرے اديرے ته ممنوع او حرام دے

بوځو عبارات نورهم تائيداً پيش خدمت دی ابن الحاج الحنبلی المالکی رحمه الله اولاً احتلاف دعلماؤ رانقل کړيدے چه يو قول د منع دے او دوئم قول دجواز دے چه په ستر او حفاظت سره وی او دريم قول دزړے او ځوانے ښځے فرق دے :۔

واعلم ان الخلاف المذكور بين العلماء انما هو فى نساء ذلك الزمان على مايعلم من عادتهن فى الاتباع كما تقدم واما خروجهن فى هذاالزمان فمعاذالله ان يقول احد من العلماء اومن له مروة اوغيرة فى الدين بجواز ذالك فان وقعت ضرورة للخروج فليكن ذالك على ما يعلم فى الشرع من الستر كما تقدم لاعلى مايعلم من عادتهن الذميمة فى هذا.

(المدخل ج۱ ص ۲۲۵ طبع مصطفى الحلبى بمصر)

"او پوهه شه چه خلاف ذکر شوے په مابين دعلماؤ کښې يقينا دا په ښځو دهغه زمانے کښې وولکه چه معلوم وو عادت دهغوی په تابعداری دشرع کښې څنګه چه مخکښې ذکرشوی دی او هرچه وتل ئے دی په دے زمانه کښې نو معاذالله چه قول اوکړی يو کس دعالمانو نه او يا دهغه کسانو نه چه هغوی لره مروت ياغيرت په دين کښې وی په جواز ددے باندے پس کچرے ضرورت وتلو ته پيښ شی نو وی دے په معلومه

طريقه د شرعې چه ستر دے څنګه چه مخکښ ذکر دے نه په هغه طريقه چه معلومه ده د ناکاره عادت د ښځونه په وتلو کښ.

:۶: جناب ابراهيم حلبي رحمه الله کراهت ليکلے دے او جناب علامه عيني رحمه الله مکروه بلکه حرام د پاره د خپلے زمانے د زنانو او خاصکر د مصر د ښځو د پاره [1].

:۷: جناب شيخ الحديث مولانا عبدالخالق کتهکوتي رحمه الله ليکلي دي:
لاکن لفساد الزمان وكثرة الفتن زيارة القبور لهن مكروهة بل هي حرام لنسآء زماننا [2]

"ليکن د وجهے د فساد د اهل زمانے نه او د ډيروالي د فتنونه زيارة القبور د ښځو د پاره مکروه دے بلکه حرام دي د زنانه ؤ د زمانے خمونږه لره "

:۸: الشهير في الآفاق شاه محمد اسحاق رحمه الله هم مکروه تحريمي ورته وائي:

زنان را زيارت قبور بقول اصح مکروه تحريمي است چنانچه در مستملي مرقوم است۔
ويستحب زيارة القبور للرجل وتكره للنساء (مسائل اربعين ص ۵۳)

"او ښځو لره زيارت د قبرونو په اصح قول سره مکروه تحريمي دي څرنګے چه مستملي کښ ليک شوي دي او مستحب دے زيارة د قبرونو د سړو د پاره او مکروه دے د ښځو د پاره"

:۹: جناب شيخ القرآن صاحب رحمه الله هم د ډيرو کتابونو په حواله لکه عيني حاشيه نسائي مدخل شامي کبيري طحطاوي نصاب

---

[1] کبيري ج ۸ ص ۴۹۸، عيني شرح البخاري:

[2] فيض القاري شرح البخاري للمحقق الکتکوتي المتوفي ۱۴۰۲ھ ص ۳۷۹ ج ۱:

الاحتساب ،مجالس الابرار ،مواهب لدنيه ،زرقاني ،نووي شرح سير كبير دامسئله واضحه كړے ده چه زنانه ؤ لره قبرونو ته تګ منع دے اودزيارت كولو په بهانه فحش اوبے حيائي كيږي ....(الانتصار ۶۸) تر ۷۱ اوس هغه حديثونه مطالعه كړی دكومو په موجب چه حضرات خادمان دين زنانه ؤ لره دممانعت حكم كړے دے مقبرو دزيارت په حقله .

(۱۰) وعن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ لعن زورات القبور [1]

اودابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ لعنت وئيلے دے په هغه ښځو چه زيارت دقبرونو كوی

(۱۱) وعن ابن عباس رضي الله عنه قال لعن رسول ﷺ زائراتِ القبور والمتخذين عليها المساجد والسرج [2]

اودابن عباس رضي الله عنه نه نقل دے وائي چه لعنت وئيلے دے جناب رسول الله ﷺ په هغه زنانه ؤ چه زيارت دقبرونو كوی اوپه هغه كسانو چه جماتونه په قبرونوجوړه وی اوډيوے پرے بلوی دعاقلانو دپاره مذكوره بحث كافي دے اميد دے چه نارينه به خپلے زنانه پوهه كړی اودستر پردے ،حيا ،خيال ئے اوساتی اومقبروته وتل ئے دمرګ په وخت كښې خصوصا اودسيروسياحت په وخت كښې عموما بند كړی ځكه چه زمانه حال كښې دښځو ازادے ګرځيدل اومقبروته اديرو،درګاهونو كښې تفريح كول دفساد ا وفتنے نه خالي نه وي : تـه تلل

(۱۱) بقول ملا عبدالمؤمن صاحب رحمه الله هغه ليكی:

---

[1] رواه احمد ص ۱۸۰ وترمذی ج ۱ ص ۱۱۴ وابن ماجه ج ۱ ص ۱۱۴ مشكوة ولعن زورات القبور ج ۲ ص ۳۰۳ زاد المعاد لابن القيم رح:

[2] ابوداؤد ص ۴۶۱ ترمذی ۱۵۸ مشكوة ۷۱ نسائی ج ۱ ص ۲۲۲-



الزیارة بهانه گاه فسق [۲]

"چه زیارت معنی نن صبا داده چه ګناه دبهانو مقام "خوذکر شوے بحث په دے دے چه صرف هلته دمړو ددعاء دپاره ورځی اونورناجائز کارونه نه کوی اوکچرے دقبرونو نه(۱)حاجتونه سرکول غواړی یا(۲)هلته نذر اونیازپیش کوی (۳)یاطواف(۴) سجده ورته کوی یائے (۵)کتے په خان مړی یائے(۶) خاورے خوری یائے(۷)درشلے غلاف ښکلوی(۸) یائے دربوته غوټے اچوی نودغه ټول ناجائزحرام ګناه کبیره بلکه قبرواله نه غوښتل اوذمه دار کارساز دمرضونو جوړه ونکے ئے ګنړل شرك دے چه بخښل ئے بغیر صحیح توبے نه په دنیا کښ نشته .

اوداذکرشوی عملونه نر اوښځوټولو لره منع دی الله تعالی دے مسلمانان دقبر پرستی دمُهلِك مرض نه بچ اوساتی امین اومقبرو دمسنون دعاء ګانونه یوه داده .

السلام علیکم اهل الدیا رمن المؤمنین والمسلمین وانا ان شآء الله بکم لاحقون اسئال الله لنا ولکم العافیه[۱].

(۱۰) مقبرو ته د سفر کولو حکم

کله چه نارینه ؤ دپاره ادیروته وتل ددنیانه بے رغبتی کیدواوداخرت دیادیدو په وجه وتل اوزیارت القبور رواجائزدی لیکن داهم هله چه

---

[۲] ملاعبدالمؤمن حنفی دهلوی رحمه الله چه مشهوردے په مولاۀ پیازه خپل کتاب کښ چه النامه ئے نوم دے دبعض الفاظو عجیبه معنی لیکی :لکه البادشاه :کاهل زمان الوزیر:هدف تیر بے چاره گان النواب:مجموعه تغافل البیگم:فساد درپرده الکوتوال :نمونه ملك الموت القاضی:میخ درگل المفتی :نوشت هرچه گفتی الزیارة:بهانه گاه فسق المنجور:مکس بےحیاء وغیره وغیره کذافی نزهة الخواطرج۲ص۱۷۹الفخرالدین الکهنوی رحمه الله

[۱] ریاض الصالحین للنووی رحمه الله ص۲٦۰باب زیارة القبور :

نږدے مقبرے ته ورځی اودسفر په اندازه یعنی اته څلویښت (۴۸) میلوپه مقدارتلل نوی ورنه سفر اديروته دثواب په نيت ممنوعه دے.

حضرت ابوموسی اشعری ﷛ دحضرت ﷺ نه نقل کوی .

قال رسول الله ﷺ لاتشدالرحال الاالیٰ ثلاثة مساجدَمسجدِالحرام ومسجدِالاقصیٰ ومسجدی هذا (متفق علیه)[1]

چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه نه به شی تړلے بارونه (یعنی سفر به دثواب په نیت نشی کولے)مگر دريو جماتونوته مسجدحرام ته اومسجداقصیٰ ته اوزما دے جمات ته "

په حدیث پاك کښې مُستثنی مُفَرغ لَهُ ده یعنی مستثنیٰ منه ئے محذوفه ده .

مطلب ئے دادے چه سفر به نه شی کیدی دثواب د حاصلولو په نیت یوځائی دځاینوته (الی بُقعَةٍ مِنَ البِقَاعِ)مگردرے ۳ مساجدوته نوبناءپدے اديرو مقبروته سفركول ممنوعه شو اوکچرے مستثنی منه خاصه وی (یعنی الی مَسجدٍمِنَ المسَاجِدِ)چه سفر به دتبر ك اوثواب حاصليدو دپاره ديوجمات دجماتونوته نشی کیدے مگردرے جماتونوته نوبیاهم مقبروزیارتونوته سفرپه دَلاَلَةُ النَّص سره منع شو ځکه چه بهترینه حصه په حصو دځمکوکښې جمات وی لکه چه په حدیث پاك کښې دی:

شَرُّالبقاع اسواقها وخَیرُالبقاع مساجدها[2]

---

(۱) مشکوة المصابیح ج۱ص۶۸ بخاری ج۱ص۱۵۸مسلم ص۴۳۲ج۱ابن ماجة ج۱ص۱۰۳وفی ص۱۲۷۸بوداود وص۱۸۱النسائی عن ابی هریرة ﷛:

(۲) رواه ابن حبان فی صحیحه عن ابن عمر ﷛ مشکوة ج۱ص۷۱-

"چه ناکاره دحصود زمکے نه بازارونه ددے دی اوغوره دحصے دزمکے نه جماتونه دی نوهرکله چه نوروساجدوته سفرمنع شو نوادیرومقبروته په طریقه اولی منع شو .جناب محمدبن عبدالهادی رحمه الله فرمائیلی دی: چه ابوهریره رضی الله عنه هغه کوه طورته سفر کړے ووپه کوم چه دحضرت موسی علیه السلام سره الله تعالیٰ خبرے کړے وے:

فقال له بصرة بن ابی بصرة الغفاری رضی الله عنه لوادرکتك قبل ان تخرج لما خرجت سمعت رسول الله ﷺ یقول لاتعمل المطی الا الی ثلاثة مساجد[۲]

"پس وئیلی وودته بصرة بن ابی بصرة غفاری رضی الله عنه که چرے ماموندلے وے تالره مخکښ دوتلوستانه نونه به وے وتلے ته .ماوریدلی دی دجناب رسول الله ﷺ نه چه فرمائیل ئے نه بشی تیاره ولے بارگیر مگر درے جماتونه ته (څنګه چه مخکښ حدیث کښ دی) حضرت شاه ولی الله صاحب رحمه الله دشدالرحال دحدیث نقل کولونه بعد لیکی:

کان اهل الجاهلیة یقصدون مواضع معظمة فی زعمهم یزورونها ویتبرکون بها وفیه من التحریف والفساد مالایخفی فسدّ النبی ﷺ الفساد لئلا یلتحق غیر الشعآئر بالشعآئر ولئلا یصیر ذریعة لعبادة غیر الله والحق عندی ان القبر ومحل عبادة ولی من اولیآء الله والطور کل ذالك سواء فی النهی[۱]

"چه اهل جاهلیت به قصدکول دعزتمندځائنو په خیال خپل چه زیارت به ئے کولو اوبرکت به ئے په لتولو اوپه دے کښ تحریف اوفساد دے چه پټ نه دے پس بند کړلو رسول الله ﷺ ددے دپاره چه غیر شعائر په

---

[۲] الصارم المنکی فی الرد علی السبکی ص ۲۱ وهکذا فی هامش البخاری ج۱ ص ۱۵۸-
[۱] حجة الله البالغه ج۱ ص ۱۹۲ طبع المکتبة السلفیه لاهور و کذا فی تفهیم المسائل ص ۷۴

شعائرو (دین) پورے پویسته نشی اوددے دپاره چه ذریعه دغیر الله عبادت ته جوړه نشی اوحق زما په نزد دادے چه قبر اومحل دعبادت دولی داولیآء الله اوکوه طور برابر دے په منع کښ (دسفر کولونه دغه نه) البته که چرے دچاپه ذهن کښ دجناب سرور کائنات افضل المخلوقات محمد مصطفیٰ مجتبیٰ ﷺ دروضے مبارکے په حقله اشکال راځی نو شبه دے دذهن نه اوباسی ځکه چه دحضرت ﷺ مسجد ته یوانسان لاړشی نودروضے مبارکے زیارت ورسره هم کیږی ځکه چه ده هغوی روضه هم دغلته ده .

(۱۱) د یو ورځونه پس تعزیه کول منع دی

یوبل ناکاره عمل په عواموکښ دارائج دے چه یوانسان وفات شی چه دغه کسان چه تعزیه ئے کړی وی بلکه جنازه کښ هم شریك شوی وی بیا بیا دغمزده ګانو خواله ځی اوخصوصا په مرګ پسے متصل اختر کښ وائی چه دائے رومبے اختر دے اوبیابیا غم تازه کوی اودمړی خپلوانو ته تکلیف رسوی اوسړی خو درکنار زنانه هم ددے طریقے پوره پابندی کوی اودیته نه ګوری چه بیا بیا دغم تازه کول دشیعه ګانو مشابهت دیوسنی مسلمان سره څه مناسبت لری .

عن ام عطیهؓ رضی الله عنها قالت کنا ننهی ان نحدّ علی میت فوق ثلاثة الا علی زوج اربعة اشهر وعشرا (الصحیح للبخاری ص ۱۳۵، ج ۱،۳۰۸)

"دام عطیه رضی الله عنها نه روایت دے وائی چه موږه منع شوے یاستو چه غم کینی اوکړو په مړی باندے زیات ددرے شپونه مګر په خاوند ... دزینب بنت سلمه نه نقل دے چه کله خبر خلورمیاشتے اولس ورځے . دزینب بنت سلمه نه نقل دے چه کله خبر دمرګ دابوسفیان رضی الله عنه حضرت ام المؤمنین ام حبیبه رضی الله عنها ته راغے

نوپه دریمه ورځ ئې رنګ راوغوښتلو اومخ اولاس ئې پرې مسحه کړه اوبیا ئې اوفرمائیل :

ان کنت عن هذا لغنية لولآ انی سمعت رسول الله ﷺ یقول لایحل لامراة تومن بالله والیوم الاخر ان تحد علی میت فوق ثلث الا علی زوج فانها تحد علیها اربعة اشهر وعشرا (بخاری ج۱ ص۱۷۱)

"یقینا ځه د رنګ لګولو نه بې پرواه یم (محتاجه نه یم) کچرې ما د رسول الله ﷺ نه نوې اوریدلې چه فرمائیل ئې حلال نه دی دیوې ښځې دپاره چه ایمان راوړی په الله او په ورځ داخرت باندې چه غم کینی کوی په مړی باندې اوچت د دریو شپو نه مګر په خاوند باندې پس دغه زنانه به پرې اظهار غم (ترک زینت) کوی څلور میاشتې اولس ورځې "

هم دغه شانې واقعه دحضرت ام المئومنین زینب بنت جحش رضی الله عنها نه هم دهغې دورور وفات نه بعد امام بخاری رحمه الله رانقل کړې ده .

(بخاری ج۱ ص۱۷۱)

علماء کرامو هم دتعزیت موده درې وخته ذکر کړی دی

جواب: تعزیت نمودن از وقت موت تا سه روز جائز است وبعد سه روز تعزیت کردن مکروه است مگر تعزیت کننده یا کسیکه نزد وے برائے تعزیت برود غائب باشد پس درین صورت بعد سه روز هم اگر تعزیت کند جائز است وباید که برائے تعزیت یکبار بروند چون یکبار از تعزیت فارغ شده باشند بار دیگر برای تعزیت نمی شاید۔ (مسائل اربعین ص۷۲)

جواب :تعزیه کول دوخته دمرګه نه تر درې ورځو پورې جائز ده او پس د دریو ورځو نه تعزیه کول مکروه دی مګر چه تعزیه کونکې یا هغه

څوك چه دتعزئې دپاره ورله تلل كيږي غائب وي نوپه دے صورت كښې پس ددريو ورځونه هم كچرے تعزيه اوكړي نوجائزه ده اوبايد چه دتعزئې دپاره يوځلې لاړشي اوكله چه دتعزئې نه يوځلې فارغه شي نوبل كرتې تلل دتعزئيے دپاره نه دي مناسب .

هم دغه رنګے فتاوی عالمګیري اوبحر كښې راغلي دي (عالمګیري ج۱ص۱۷٦\البحرالرائق ج۲ص۱۹۲). اودرمختار كښې دتعزئې ورځے درے ښودلے دي لكه چه ليكي چه:

وفي غير مسجد ثلاثة ايام واولها افضل وتكره بعدها الالغائب وتكره التعزية ثانيا (الدر المختار ص۲۲۴\۲۲۵ وكذافي دليل الخيرات ص۳۳)

تعزيےدپاره به كيني درے ورځے په غير دجماعت (مسجن) نه اومكروه دي تعزيه پس ددغه نه مګر دغائب دپاره اومكروهه ده تعزيه په دويم ځل باندے مسلمانانو لره پكار دي چه په هركار اوعمل كښې داتباع خيال اولرى .

رہو تم مسلمانو! رسوم بد مٹانے میں : نہ کوتاہی کرو حق کی طرف سب کو بلانے میں
کسی کی موت پر ناجائز نہیں ہے گریہ وزاری: عبث ہے نوحہ وماتم کسیکے غم منانے میں۔ [1]

(۱۲)

په قبرونو آبادي كول او دهغوى پخول وغيره

داديرومقبرو په حقله دجناب رسول اكرم ﷺ داحاديثو په رڼړاكښې دهغو عزت كول اوتوهين نه كول ثابت دي حتّی داچه هلته بول اوبراز كول په قبرونو كيناستل لارے پرے جوړه ول غرض داچه هره بےعزتي كول ممنوع دي دغه رنګے په قبرونو آبادي كول اودحدنه زيات ئے

(۱) تعزیہ لواز قوم صغیر خطاب - مصنفہ ابوالخیر اسدی رح

لوئیول یا ئے پخول ممنوع اوناجایز دی هیڅ فائده دمړی اوعزت دهغه اوحکمت، شرعی پکښې نشته زه مختصراً چنداحادیث اودهغو په تائید کښې ځوحوالے ذکرکوم ځکه چه دمتلاشی حق دپاره اشاره هم کافی وی : (بیت)

— نگویند از سر بازیچه حرفے : کزان پندے نگیرد صاحب ہوش ۔
— وگر صد باب حکمت پیش نادان بگویند آیدش بازیچه درگوش ۔

عن جابر قال نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبور وان یبنی علیه وان یقعد علیه[1]

"دحضرت جابر رضی الله عنه نه نقل دے چه منع کړے ده جناب رسول الله ﷺ دپخولو دقبرونو اوآبادی کولونه په قبر باندے اوکیناستلو نه په هغه باندے."

(۲)وعنه قال نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبور وان تکتب علیهاوان توطا. (ترمذی ص۱۵۷\ مشکوٰة ۱۵۹).

"اوددغه جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه منع کړے ده رسول اکرم ﷺ دپخولو دقبرونو نه اولیک کولونه په دغو باندے اودپائمال کولو دهغه نه"

۳.وعن ابی الهیاج الاسدی رحمه الله قال قال علی رضی الله عنه الاابعثك علی مابعثنی علیه رسول الله ﷺ الاتدع تمثالا الاطمسته ولاقبرامشرفا الاسویته[2].

[1] ۳۱۲مسلم ص۱۸۴مشکوٰة ص۱۲۷۷اثار السنن۱۲۵۶الطحاوی۶۱۶ریاض الصالحین:
(۲) مسلم ص۳۱۲مشکوة ۱۴۸باب دفن المیت ص۱۵۷ترمذی ۲۲۱نسائی ص۱۱۱۳ابن ماجة ۱۴۵۹ابوداود ص۱۳۲البلاغ المبین ج۱۵ص۲۲۸روح المعانی:

"اودابی الهیاج اسدیؒ نه نقل دے وائی چه ماته حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل ایاتا نه مقرره ووم په هغه کار چه څه پرے رسول الله ﷺ مقررے کړے ووم چه مه پریږده بت (صورت پتو) مگر چه متاؤئے کړے اونه لوړ قبر مگر چه همواره ئے کړے"

۴. وعن ابن عباس رضي الله عنه قال لعن رسول الله ﷺ زائرات القبور والمتخذين عليها المساجد والسرج (ص۷۱ مشکوة ص۵۸ ترمذی ص۴۴۱ ابوداود ونسائی):

"اوداین عباس رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه لعنت وئیلے دے رسول الله ﷺ په هغو ښځو چه دقبرونو زیارت کوی اوپه هغه کسانو چه پرے جماتونه جوړوی اوډیوے پرے بلوی. داحدیث پاك مخکښ هم ذکر شوے دے.

داحادیثو ذکرشوونه صفا معلومه شوه چه دقبرونو پخول اوزیات لوړول اودپاسه پرے کیناستل اوآبادی، قبے، منارے، کوټے، منډهونه، وغیره پرے منع دی اوجناب رسول الله ﷺ ترے نه منع کړے ده.

⑤ناقل دمذهب حنفی امام محمد شیبانی رحمه الله دخپل استاذ حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نه دجناب رسول الله ﷺ نه یو مرفوع حدیث رانقل کوی.

انه نهی عن تربیع القبور وتجصیصها.

"چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دځلوروګوټو کولو دقبرونو نه اودپخولو دهغونه"

⑥امام شافعی رحمه الله دعدم آبادی اونه پخولو داسے وجه لیکلے ده.

فان ذالك يشبه الزينة والخيلاء وليس الموت موضع واحد ولم ارقبور المهاجرين والانصار مجصصة اه (كتاب الام ج۱ ص۲۷۷ بحواله قرة العيون ص۵۱)

"پس دغه يقيني مشابهت لري د ښائست اوتکبرسره اومرګ خائی ديو ددغونه نه دے اومانه ليدلی قبرونه دمهاجرينو اوانصارو لره چونه ګشت (پاخه)

۷. امام نووی رحمه الله فرمائی چه دقبرونو پخول اوپه قبرونو آبادی کول اوپه قبرونو باندے ليکل په دغو کښ امام مالك رحمه الله امام احمد رحمه الله اوداود رحمه الله اوجمهور علماء رحمهم الله متفقه دی چه دامکروه دی (المجموع شرح المهذب ج۵ ص۲۹۸ بحواله قرة العيون ص۵۱)

۸. ناقدرجال جناب مولانا خان بادشاه صاحب مدظله سکنه کرم ايجنسی دامسئله ښه تفصيلی ليکلے ده اودمذاهبو اربعو بلکه دجمهورو علماء کرامونه ئے نقلونه ذکرکړی دی اوتقريبا اته پنځوس ۵۸ کتابونو نومونه ئے اخر کښ شميرلی دی شائقين حضرات دے دهغوی تصنيف قرة العيون کتلے شی .

۹. دقبرونو لوړوالی په حقله جناب قاری رحمه الله ليکی چه ديوے ليشتے نه زيات اوچتول مکروه دی اوهم دغه رنګه دپخولو په حقله وائی اودقبردابادنی په باره کښ ليکی:

ويجب الهدم وان کان مسجدا (المرقات ج۴ ص۶۹)

اوورانول ئے واجب دی اګرچه دغه ابادی جمات وی .

۱۰. جناب مولانا علامه ګوهاتی کتکوتی رحمه الله ليکلی دی:

اقول بارتفاعه شبرا اوشبرين يعلم انه قبرفلاحاجة الی ارتفاع ازيد منه خصوصا اذاکان للمباهاة فهومکروه اشد الکراهة. (غنية القاری شرح صحيح البخاری ج۱ ص۴۹۳)

ځه وایمه چه دیوے لیشتے یاددواوؤلیشتو پورته والی نه معلومیږی چه داقبر دے .پس حاجت نشته زیات پورته والی ته ددغه خاص کر چه دفخر کولو دپاره وی نودغه مکروه دی په سخت مکروه والی سره"

(۱۱)شاه محمد اسحاق رحمه الله فرمائیلی دی چه غلاف اغوستل قبرته درست نه دی اوهم دغه رنګ دګلونو غورزه ول دمړی دتقرب دپاره جائز نه دی ځکه چه تقرب غیرالله ته حرام اوممنوع دے .اودګلونو څادر په جنازه باندے غوړول بدعت دے اومکروه تحریمی دی.

(مسائل اربعین ص ۱۳۸ ۲۹م)

ونیز استاده کردن خیمه وشامیانه بر قبر مکروه است چنانچه در شرعة الاسلام وغیره مرقوم است .ویکره ان یبنی علی القبر مسجد یصلی فیه وان یضرب علیه فسطاط اوقبة تقام فیه ویستظل القبور فانما یظل المیت عمله انتهی (مسائل اربعین ص ۳۹)

"اودغه رنګے اودره ول دخیمے اوشامیانے په قبر باندے مکروهه دی ځنګه چه په شرعة الاسلام (کتاب)وغیره کښ لیك دی .

اومکروه دی چه آبادشی جمات په قبر باندے چه مونځ پکښ کولے شی اوچه خیمهٔ پرے ناله شی اویاقبه پرے جوړه شی اوسورے اوشی په قبرونو پس یقینا په مړی باندے سورے دده عمل کوی .

(۱۲)هم دغه طور شاه صاحب رحمه الله په مأة مسائل کښ په ادیرو کښ دجماتونودجوړولو په حقله لیکلی دی چه سبب دلعنت اوحرام دی اوبیا ئے حدیثونه ذکر کړی دی , ص ۳۸) .

بهر حال دامسئله علماء دین ،خدام شرع متین په خپلو تصانیفو کښ په بسط سره نوټ کړے ده .اوتقریبا ټول دقبرونو ،په چونه ګشت کولو ، پخولو ،لوړه ولو ،اودپاسه پرے قبو ،منارے ،آبادی جوړه ولو په بندیز

متفقه دی .شائقین دې په حاشیه باندې لیکلی شوکتابونو ته رجوع وکړی [1].

(۱۳)جناب مفتی محمدشفیع رحمه الله صاحب لیکلی دی چه مزاراتو باندې قبې وغیره جوړه ول څرنګې چه ابتداء ناجائزدی دغه رنګې ئې ابقاء (پاتې کول)هم ناجائزدی .

البتہ اگر ہدم قبہ جات کی قدرت ہو تو ہدم کر دیا جائے اور قدرت نہ تو ہدم کر کے فتنہ برپا کرنا مناسب نہیں اور ظاہر ہے کہ قدرت کے یہی معنی ہے کہ اس فعل کے کرنے سے کوئی شدید فتنہ مسلمانوں میں برپا نہ ہو جائے الخ۔۔۔

"یعنی که چرې دقبورو ورانولو قدرت ئې وونوورانې دې کړې شی اوکچرې قدرت ئې نه وونودورانولو په وجه فتنه پیداکول مناسب نه دی اوظاهره ده چه دقدرت معنی داده چه ددغه فعل کولونه سخته فتنه په مسلمانانو کښې پیدانکړې شی [2] .

د یواستدلال جواب

بعض خلق داکارونه دمړوسره دمحبت نښه ګرځوی.حالانکه دادمحبت علامه نه ده بلکه دشریعت مقدسه نه مخالفت دې .پخپله دغه نیکانو وفات شووحضراتو ددغه اعمالو تردید پخپل ژوند کښې په خپلو تالیفاتو کښې اوتصنیفاتو کښې کړې دې څنګه چه باحواله ئې

---

(۱) روح المعانی ج۵ص۲۳۸تفهیم المسائل ۲۳تا۱۹مسائل اربعین ص۴۸\۴۹کبیری ص۲۹مرقات ج۴ص۶۹عالمګیری ج۱ص۱۶۶البحر الرائق ج۲ص۱۹۶شامی ص۶۱۱امداد المفتین ج۱ص۲۹۹فتاوی رشیدیه ص۱۲۱فتح القدیر ج۱ص۴۹۲حسن الفتاوی ص۱۳۵بلاغ المبین ص۱۴الصراط المستقیم للامام الشهید ص۱۴بدائع الصنائع ج۱ص۳۲۰عزیز الفتاوی ص۹۲المدخل ۶۷۶\۶۷۷المستخلص ۲۵۲نور الایضاح ۱۲۱قضاء الصراط المستقیم لابن تیمیه ۳۶۹عینی ج۴ص۱۷۴تعلیق ترمذی ۱۶۳العرف الشذی ۱۶۳امداد المفتین ۲۶۲

(۲)امداد المفتین ۳۶۹وینبغی لکل احدهدم ذالک مالم یخش منه مفسدة فتعین الدفع علی الامام الخ تفهیم المسائل ص۱۱:

ذکروشو .اوبعض کسان استدلال د سورة کهف نه نیسی چه په اصحاب کهفو آبادی شوے ده . حالانکه دغه استدلال غلط دے ځکه چه دغه خوپخوانے شریعت دے اوځمونږه شریعت کښې ترے نه منع شوے ده اوبل داچه قرآن پاك کښې صرف دادی چه :

قَالَ الَّذِيْنَ غَلَبُوْا عَلٰٓى اَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِمْ مَّسْجِدًا ﴿۲۱﴾ (الکهف ۲۱)

اوونیل هغه کسانو چه غالب ووپه امر خپل باندے چه خواه مخا یقینی به جوړ کړوپه دے باندے جمات .

نوآیت کریمه کښې کله مدحه دهغوی شوے ده بلکه صرف دهغو نه یواخبارذکر شوے دے حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی :

(۱۵) والظاهران الذین قالوا ذالك هم اصحب الکلمة والنفوذ ولکن هل هم محمودون ام لا فیه نظرلان النبی ﷺ قال لعن الله الیهود والنصریٰ اتخذوا قبورانبیاءهم وصالحیهم مساجد یحذرمافعلوا[1]

"اوظاهره داده چه داخبره کړے ده دغه خاوندانو دحکم اوفیصلے وولیکن آیا دوئ ستائیلے شوی دی په دیکښې او که نه ؟بس دے کښې نظر دے ځکه چه نبی ﷺ فرمائیلی دی (لعنت لیږ لے الله تعالی په یهودو اونصارؤ چه په قبرونو دانبیاء اونیکانو ئے جماتونه جوړ کړی وو یره ورکوی حضرت ﷺ دهغو ی دعمل نه "

۱۶. علامه الوسی رحمه الله فرمائی چه داخبره دهغه شریعت ده چه ځمونږه نه مخکښې وو اورسول الله ﷺ ترے نه منع کړے ده اودرسول الله ﷺ منع پشان دمنع دالله تعالی ده

[1] ابن کثیرج ۳ص ۷۸ وهکذافی القضاء الصراط المستقیم ص ۳۲۹ \ ۳۳۰ \ ۳۳۱ مشکوة ص ۶۹ وکذافی نشرالمرجان ص ۳۰۵

وبالجملة لاينبغي لمن له ادنى رشد ان يذهب الى خلاف مانطقتهٔ به الاخبارُ الصحيحة والاثارُ الصريحة معولاً على الاستدلال بهذه الاية فان ذالك فى الغواية غاية وفى قلة النُهى نهاية (تفسير روح المعانى ج۱۵ ص۲۳۹)

"اوحاصل دادے چه نه دى مناسب دهغه چا دپاره چه هغه لره معمولى هدايت وى چه ذهاب اوکړى خلاف دهغے نه چه فيصلے پرے کړے صحيح حديثونو اواثرونو چه اعتماد کونکے وى په دليل نيولو سره په دے آيت باندے پس يقينا دغه به گمراهى کښې انتها ء ده اوپه کم والى دعقل کښې انتهاء ده :

۱۳ دسوره ملک، عنکبوت، روم وئيلو تخصيص دځانه بدعت دے

بعض ځايونو کلو ،باندو ،کښې داطريقه مروجه ده چه دجمعے په شپه ملا صاحب دمانځه نه بعد سورة الملك (تبارك الذى)وائى اودغه شانے په مياشت درمضان المبارك کښې د درويشتم تاريخ په شپه سورة العنکبوت اوسورة الرّوم وائى اوځنو مواضعو کښې دخورد ونوش ځيزونه ميوه جات هم جمات ته راوړى اوملاصاحب ته نقد رقم هم ورکو ي،اوخوک چه دغه تخصيص بغير داذن شريعت ته بدعت وائى نوهغه مُلزم کوى اوفتوى پرے لگوى مناسبه گنړم چه دکتاب دتکميل دپاره هم په دغه موضوع څه وليکم .

مخکښې ذکرشوے ده چه دقرآن لوستل يوبهترين عبادت دے اوديو يو حرف په لوستلو ئے لس لس نيکى ملاويږى اوده تبارك الذى سورة

فضائل هم احاديثو مبارکو کښې راغلي دي منجمله دهغونه يوحديث پاك دا هم دے ....دحضور اقدس ﷺ ارشادگرامي دے فرمائي چه :

ان سورة في القرآن ثلثون اية شفعت لرجل حتى غفرله وهي تبارك الذي بيده الملك. (رواه احمد والترمذي وابوداود والنسائي ج۱ ص۱۸۷ مشكوة)

"يقينا يو سورة په قرآن کښې ديرش آياته دے چه ديوسړي دپاره ئے شفاعت اوکړه حتی داچه بخښنه ورته اوکړے شوه اوهغه تبارك الذي دے "ليکن دځان نه تخصيص ورکول په يووخت پورے بدعت دے ځکه چه حضرت جابر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په باره کښې روايت کړے دے :

ان النبي ﷺ كان لاينام حتى يقرء الٓمٓ تنزيل وتبارك الذي بيده الملك [1]

"چه نبي اکرم ﷺ به نه اوده کيدو تر هغه پورے چه الٓمٓ تنزيل (سورة) اوتبارک الذي بيده الملک (سورت) به ئے نه وولوستلے .

نوبناء په دے (۱) ددواؤ سورتونو نه يوکول (۲) اودعامو خلقو نه فقط امام استاذ صاحب خاص کول (۳) اودنورو شپونه يواځے دجمعے شپه مقرره ول دکوم ځائے نه ثابت شو اودرمضان مياشته خو تولـه دقرآن مياشت ده . الله ربّ العزت ارشادکوي په خپل مقدس کتاب کښې :

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ (سورة البقره ۱۸۵)

"چه مياشت درمضان هغه ده چه نازل شوے دے قرآن په دیکښې (يعنی شروع په دے کښې شوے ده يادعالَمْ غيب نه عالَم مشاهدے ته راغلے) اويوبل سورة کښې دابتداء نزول وخت ښائي .

[1] رواه احمد والترمذي والدارمي ص۱۸۸ مشكوة باب فضائل القران ج۱ ص۳۹۵ ابن كثير وكذا في سمط الدرر لشيخنا شيخ القرآن رحمه الله ص۱۹۰

إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ ﴿١﴾ (سورة القدر)

"یقینی مونږه رالیږلے دے قرآن په شپه دقدر باندے"

لیکن داحادیثو دمطالعے او دمحدثینو اومفسرینو دتحقیق په بناء باندے لیلة القدر درمضان آخری عشره په طاقو شپو کښ ده اومعینه شپه قطعا پکښ نه ده معلومه نویوازے درویشتمه خاص کول اودقرآن شپه ورته وئیل دکوم دلیل نه ثابتیږی .اوخاص کر دقرآن عظیم الشان دیوسلو څوارلسو سورتونو نه فقط سورة عنکبوت اوسورة روم .ازکجاآمد .

از برائے خدا دقرآن تلاوت خدمت درس ،اوتدریس ،هر وختے کول پکار دی دخپلے وسعے مطابق اوددنیا فانی غیرباقی څیزونو دپاره دخپل تخرګ نه تخصیصات کول ممنوعه دی .

دحیلے اسقاط دمسئلے په تحقیق کښ داخبره مدلّله ذکرشوے ده .چه تخصیص په اوقاتو ،مکاناتو ،پورے حق دشارع دے. (انظرفتح الباری ص۱۱/۲۵۵) .دلته هم تائیداً نشاندهی کول مناسب ګنړم.

جناب محمد بن وضاح رحمه الله خپل مشهور مایه ناز تصنیف کښ بابونه اینښودے دی . فرمائی :باب کل مااحدث من الهیئات فهی بدعة یجب ازالتها(ص۱۰) "باب دے په بیان ددے کښ چه کوم هیئات په عبادت کښ دخپل ځان طرفه پیداشی هغه بدعت دے ازاله ئے واجبه ده.

باب تخصیص الایام للاجتماع "باب دے په منع والی دتخصیص دورځو کښ دپاره دراجمع والی .

باب احداث الهیئة للاذکار بدعة (کتاب البدع والنهی عنهاص۳۰)

"باب دے په باره کښې چه هيئت دخان نه ذکرونو لره ورکول بدعت دے اودهر باب نه ئې روستو حديث ذکر کړے دے.

دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه واقعه قابل عبرت ده چه دکوفې په مسجد کښې يوډلے دګيتو ډيرئ مخے ته جوړے کړے وے اوتسبيحات ئې پرے وئيل نودوئ ورته راغله اوپه ګيتو ئې ويشتل تردے چه دجمات نه ئې ويستل اواوئې فرمائيل :

لَقَدْ اَحْدَثْتُمْ بِدْعَةً ظَلْمَاءَ اَوَقَدْ فُضِّلْتُمْ اَصْحٰبَ محمد ﷺ علماً

(کتاب البدع والنهى عنها ص۱۰)

"يقينا راپيدا موکړو تور بدعت لره اويازيات شوی ياستی په اصحابو دمحمد ﷺ باندے دجهة دعلم نه"

علامه شامی رحمه الله دبحرالرائق په حواله ذکرکړيدی.

وبان تخصيص الذكر بوقت لم يرد به الشرع غير مشروع[1]

"اوبيشکه خاص کول دذکر په يووخت پورے چه شرع پرے نه وی راغلے ناجائزدی. اودابنکاره خبره ده چه دقرآن شريف تلاوت په ذکرونو کښې اهم ذکر دے. افسوس چه مسلمانان دقران او احاديثو نه څان نه خبروی او داغيارو نقالی کوئ عباس القمّی شيعه کتاب مفاتيح الجنان چه په ۲۷۰ صفحاتو مشتمل دے او ټول دخرافاتو، شرکياتو بدعاتونه ډک دے د هغه په ص ۱۹ کښې دی ورروي ابوبصير عن ابی عبد الله قال من قرأ سورة العنكبوت والروم فی شهر رمضان فی ليلة ثلث وعشرين فهو والله يا ابا محمد من اهل الجنة لا استثنی منه ابدا ولا اخاف ان يكتب الله

[1] شامی ج۶ص۶۱۳ کتاب العيدين البحر الرائق ج۲ص۱۵۹ او كذافی صلاح الرسوم لمولانا جوره رح

علیٌّ فی یمینی اثما الخ. دغه ئې سند دے مجهول او نه پکښې څه صحیح حواله شته بلکه ده شیعه ګانو مذهب دے لکه حضرت مولانا خان بادشاه حفظه الله په قرة العیون ص۱۱ کښې د شیعه ګانو د کتابونو مفاتیح الجنان ،تحفة العوام. تفسیر انوار النجف نه حوالے ذکر کړے دی. (وګورئ فتح الرحمن ص۲۸۶ د احقر تصنیف)

(۱۳) دقضاء عمری بیان

یوبل بدعت بعضے قنجونو کښې داهم دے چه د رمضان المبارك په آخری جمعه باندے پنځه مونځونه په جمعے سره اداکوی اوخپل عرف کښې ورته ((قضاء عمری)) یعنی دعُمر قضاء وائی :حالانکه دپنځه مونځونـه دټـول عمـر دمونځونـو پځـائی اودروه ول عقـلاً اوشـرعاً ناجائزدی .ځکه چه دمونځونو په مقابله کښې هغه هومره مونځونه لازم وی چه څومره ترینه قضاء شوی وی .اودے ته قضاء په مثل معقول وائی نو یوځو مونځونه دعمر دقضاء پځائی څرنګے اودریږی .
جناب رسول مقبول صلوت الله علیه وتسلمیاته فرمائی :

من نسی صلوة اونام عنها فکفارتُهَا ان یصلیها اذا ذکرها.

(متفق علیه مشکوة ج۱ ص۶۱)

"چاچه هیر کړو مانځه لره اویا اوده پاتے شه دهغه نه پس کفاره ئے داده چه اوئے کړه کله چه ئے یادشی .

اویو بل روایت کښې دحصر الفاظ ذکر کوی .

فلا کفارة لها الا ذالك (مشکوة ص۶۱ باب تعجیل الصلوة)

"پس کفاره ئے نشته مګر دغه کول ئے .بل داچه علماء اصول چه دقضاء کوم تعریف کوی نو هغه په دے نه صادقیږی.صاحب دحسامی لیکی:

چه قضاء اسقاط د واجبي حکم دے په مثل دهغه باندے دخپل حق نه اودغسے مولوی شارح حسامی وائی :چه قضآء به په مثل داداآء وی په هیئاتو اوذکرونو کښ "

وهواسقاط الواجب بمثل من عندہ ھوحقه.

(حسامی ص۵ ۱۳ اصول الشاشی ص۶۱ نور الانوار ص۳۳)

"اوقضاء ساقطول دواجب دی دخپلے ذمے نه په مثل دهغه باندے دخپل طرف نه په داسے مثل سره چه دمکلف حق وی .

فیطلب بالخروج عن العھدۃ بان یصرف الیه ماھو مشروع له فی وقت اخر ویماثله فی الھیئات والاذکار حسا وعقلا وفی ازالة الاثم شرعا وان لم یماثله فی

احراز الفضیلة (مولوی ص۱۴۰)

"پس مطالبه به کولے شی دبنده نه په وتلو سره دذمه واری په دے شان سره چه صرف کړی الله تعالی ته هغه حق چه ده لره مشروع وی په بل وخت کښ اوبرابرو ی دآداء سره په هیئاتو اوذکرونوکښ ظاهراً اوعقلاً اوپه ازاله دګناه کښ شرعا اواګر چه برابرنوی د آداء سره په جمع والی دبهتری کښ . نوصافه واضحه شوه چه څومره مونځونه قضاء شوی وی دهغوی هومره قضاء راوړل پکار دی ځکه چه قضآء مثل آدآء ده .

لطیفه

بل داچه په داسے عمل سره سادګان په ګناهونو اودمونځونو په پرېښودلو دلیره کیږی . حضرت مولانا صاحب جوره رحمه الله خپل کتاب اصلاح الرسوم کښ لیکلی دی :چه مادسپه سالار صاحب بهادر نه په سیدوکښ اوریدلی ووچه یوسړے چرته دغرونو دعلاقے نه دلته

منګورے ته سره دخپلے خور نه په کډه راغلے وو. کله چه به دجمعے ورځ راتله نوشپاړس رکعته مونځ به ئے کوؤ (۱). اودوئ خو ددے عادت نه وو بلکه دلسو رکعتو دماسپخین عادت وو .نوخور ته ئے اووے چه ځه ناکاره وطن ته راغلو آسان مونځ به مو کاوو . دلته راباندے په اوومه ورځ دورځے تراویح لازمے شوے . په څه تپـل واؤختـو .ناڅاپه درمضان شریف میاشت راغله نوچه آخری جمعه شوه نوخلقو اووئیل چه نن به قضـا ءعمری کیـږی دے خبر نـه وو چـه دے بـه څـه شے وی خیـر چه ماسپخین شو . اوقضاء عمری ئے اوکړه نو دا خیـال ئے اوکړو چه تپـل تـال خوم اوکړو . ستړے خوشوم لیکن خوچه دفائـدے نه خوئے ځان خبرکړم . نودامام صاحب نه ئے تپـوس اوکړو چه امام استاذه ! ددے مانځه ماته فائده اوښایه ؟ نوهغه ورتـه اووئیـل :چه ددے فائده داده چه اووسوه کا له قضاء شوی مونځونه پرے راګرځی .

نوهغه کورته ته راغے اوخورته ئے اووئیـل چه څه دکافروپه وطن کښې اوسیدلو په یخواوبو باندے موخان سوے وو داسے وطن تـه راغلو چه داراته پکښې معلومه شوه چه نن په دے ورځ په یو مونځ اووه سوو کالو قضاء مونځونه راګرځی دکافرخوی به یمه که بیا لدینه پس مونځونه کوم اوبے هیڅه خان په تکلیف کښې غورځوم خودایو مونځ به کوم اودکـال قضـاء مونځونـه بـه پـرے راګرځـی اودیـوکم اوه سـوو کلونـو مونځونه به م خدائی پاک ته قرض کیږی (اصلاح الرسوم ص۲۶)

(۱) یعنی څلور سنت مخکښې دوه فرض څلور احتیاطی اوشپږ سنت روستو اودغه احتیاطی مونځ هم بدعت دے اوبعضو ځایونو کښې رائج دے :مصنف عفی عنه

مولانا انوارالحق رحمه الله صاحب قابل دید بحث په دے مسئله کړے دے اودائے هم لیکلی دی:چه دقضاءعمری دامونځ به دیو څلورو صورتونو نه خالي نوی :۱.امام اومقتدیان به ټول فرض کونکی وی ۲.دواړه ډلے به نفل کونکی وی ۳.امام به نفل کوی اومقتدیان به فرض کوی ۴.امام به فرض کوی اومقتدیان به وریسے نفل کوی .اودغه څلورواړه صورتونه باطل دی :اول صورت خو ځکه باطل دے چه دامام اومقتدیانو په مونځ کښ اتحاد لازم دے حتی داچه که تغائر وونو اقتداء نه صحیح کیږی اودلته داپته چاته ده چه ددغو ټولو حضراتو نه یو هم یوشانے ورځے مونځونه قضاء شوی وی .

والصلوة کلها من الاجناس المختلفة حتی الظهرین من یومین اوالعصرین من یومین[1]

"اومونځونه ټول دجنسونو مختلفو نه دی ترد ے چه دوه ماسپښینه د دواؤ ورځو نه اودوه مازیګره ددواؤ ورځونه"

والجنسان مختلفان لاتوجد الموافقة بینهما وکذالك لاتوجد التضمین.

(البحرالرائق بحوالة ردالبدعات ص۴۳)

"اونه موجودیږی موافقت په دواؤ مختلفو جنسونو کښ اونه موجودیږی پکښ ضامن والے دمانځه دامام مونځونو دمقتدیانو لره "

دویم صورت: وجهے دبطلان دادی چه:

۱.هرکله د دواړو فریقو مونځونه نفل دی نودقضاءنوم ورله ولے ګدی؟

۲.بل داچه دورځے په نفلونو کښ څنګه په زوره قرات وائی؟

۳.اوبل داچه بیا دنفلو نیت ولے نه تړی.

۴.اولوئ نقصان پکښ داهم دے چه تراویحو نه غیر دګنړو کسانو جمع کولو په نفلونو کښ منع دی فقهاء لیکی :

---

[1] شامی جلدخامس وعینی شرح کنز بحوالہ ردالبدعات ص۴۳ والنظرج۲ص۱۲۷هدایه ص۱۷۷شرح الوقایه:

ولایصلی التطوع بجماعة الافی شهر رمضان وعن شمس الائمة السرخسی ان التطوع بالجماعة انما یکره اذاکان علی سبیل التداعی اما لواقتدی واحد اواثنان بواحدفلایکره واذااقتدی ثلاثة بواحد اختلف فیه وان اقتدی اربعة بواحد کره[1]

"اونفل په جمعې سره نشي کولے مګر په میاشت درمضان کښې اوشمس الائمه سرخسي رحمه الله فرمائي: چه مکروه دی نفل په جمعې کله چه په طریقې دبلنې دیو بل وی اوکه چرې اقتدآء اوکړه یوکس یادواؤ په یو پسے نومکروه نه دی اوکه چرے اقتدآء اوکړه دریو په دریو پسے نواختلاف شوے دے پدیکښې اوکه چرے څلوراوکړو په یو پسے نومکروه دی ددریم صورت باطلې والې په دے حجت دے چه تمامو کتابونو دفقه کښې دی چه مذهب حنفي کښې دفرض کونکي اقتدآء په نفل کونکي پسے نه صحیح کیږي نودوی سره ددعوے دحنفیت سره څرنګے خلاف کوی [2].

دڅلورم صورت بطلان په دے وجه دے چه هرکله چه یوتن امام وی اوخلق پسے اقتداء کوی نو هغه څنګه جرات کو ی چه په ډاګه جمات کښې قضآء مونځ کوی حالانکه قضاء کول ئے هم ګناه ده اوډګناه اعلان هم سبب دعذاب خداوندی دے.

ینبغی ان لایطلع غیره علی قضائه لان التاخیر معصیة فلایظهر.

---

[1] خلاصة الفتاوی ج۱ص۱۲٤ البحر الرائق ج۲ص۷۰ درالاحکام ص۱۳۰ شامی ج۱ص۲٤ سراجیه ص۸۷ جامع الرموز بحواله ردالبدعات ص۱٤٦\۱٤٥

[2] شامی ج۱ص۲۹٤ بحرالرائق ج۱ص۳٦۱ شرح الوقایه ص۱۷۷ المستخلص مع الکنز ص۲۸ هدایه ۱۲۷ شرح معانی الاثار للطحاوی ص۲۸۹-

(شامی ج۱ ص ۲۸۸\۲۶۲ بحر الرائق ج۱ ص ۵۰۵ باب الاذان)

پکاردی چه بل څوك په قضآء خپله نه خبروی ځکه چه تاخیرد مونځ ګناه ده پس نه د ے ظاهره وی "

علاوه داچه داهم منقوله خبره نه ده چه دمقتدي دنفل کولو په وجه دکلونو فرضو مونځونوجبیره اوشی څنګه چه دقضاء عمری تعریف دے :

الحاصل: چه دقضآء عمری ثبوت شریعت مقدسه کښ نه دے راغلے[1] اودغه طریقه دسادګانو یوخودساخته بدعت دے البته کچرے عالمان حضرات داوائی :چه حدیث کښ دد ے فضیلت اوثبوت شته .

من قضی صلوة من الفرآئض فی اخرجمعة رمضان کان ذالك جابرالکل صلوة فائتة فی اخرعمره سبعین سنة (النهایه شرح الهدایة)

"چاچه قضآء دیومونځ دفرضو نه اوکړه په اخرے جمعے درمضان نوکیږی دغه جبیره دهرمونځ قضاء شوی په عمر دده کښ داویا کالو " نوجواب دادے چه محدثین حضرات هر رطب اویابس (اوچ اولمدو)ته حدیث نه وائی بلکه داحادیثو متعلق یولوئ فن (فن رجال) ایښودے شوے دے چه هغه کښ دحدیث په نقل کونکو (سند) باندے پوره تبصرے شوی دی نوبناء پدے ددغه اسمی حدیث حال اوګورئ .

ان شیأ من العبادات لایقوم مقام فائتة سنوات ثم لاعبرة بقول صاحب النهایة ولابقیة شراح الهدایة فانهم لیسوامن المحدثین ولا اسندوا الحدیث الی احد من المخرجین الخ[2]. قال الشوکانی رحمه الله موضوع بلاشك[3]

---

(۱) قضاء عمری پڑھنا بے اصل ہے (عزیز الفتاوی ص ۲۵۴)

(۲) ص ۱۰۵ موضوعات الکبیر للقاری ص ۱۷۸ الاثار المرفوعه لابی الحسنات مقدمة عمدة الرعایه ص ۱۳

(۳) الفوائد المجموعة فی الاحادیث الموضوعة للشوکانی طبع محمدی لاهور

"چه دا حديث باطل دے قطعا ځکه چه داخلاف دے دا اجماع نه علاوه لا دا چه يوشي دعبادا تونه نه او دريړى پځائى دفوتى عبادت دکلونو باندے اوبيا اعتبار قول دصاحب نهائے اوباقى شارحانو دهدائے لره نشته ځکه چه دوئ محدثين نه دى اونه ئے سند دحديث رسولے دے يوتن راويستونکو دحديث ته اوعلامه شوکانى رحمه الله ورته موضوع وئيلے دے دغه شانئے شاه عبدالعزيز رحمه الله په دغه جعلى ثبوت ردکړے دے (عجاله نافعه ص۳۰)

(۱۵) د اختر په ورځ دمانځه نه بعد د مصافحے بيان

کله چه يومسلمان دبل مسلمان سره ملاقى شى نويو بل لره لاس ورکول (مصافحه کول) ثابت دى اوثواب لرى اومسنونه عمل دے اما دا چه خلقو کښ دا عادت شوے ده چه دا ختر مونځ اوکړى وروکے اختر وى اوکه لوئ نويوبل لره راخلاص شى اومصافحے کوى اووائى اختر دے مبارك شه اګرچه ديو کور ديوچم ديومحلت وى غبرګ ئے مونځ کړى وى دمونځ نه مخکښ هم ملاؤشوى وى نودغه کردار بدعت ناجائز ،مکروه اودطريقو دروافضو نه دے يومتبع انسان لره لازم دى چه ځان ترے نه بچ محفوظ کړى .

عن البراء بن عازب رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ مامن مسلمين يلتقيان فيتصافحان الا غفر لهما قبل ان يتفرقا[1]

"دبراء بن عازب رضي الله عنه نه منقول دى وائى چه جناب رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه نشته د دواړ مسلمانانو نه چه يوبل سره ملاوشى

[1] مشکوة ج۲ص۴۰۱ رواه احمد والترمذي وابن ماجة

پس مصافحه اوکړی مګر بخښنه کیږی دواړوته مخکښ دجدا کیدو دواړونه "

۱. مولانا قاری شرح مشکوة کښ دهغوخلقو په باره کښ لیکلی دی چه سحر یامازیګر مونځ اوکړی اویوبل سره بیا مصافحه کوی.

بانها مکروهة وانما من البدع المذمومة (مرقات ج۹ص۷۴)

"چه یے شکه دغه مکروهه دی اوبے شکه دغه عمل دناکاره بدعتونو نه دے "

۲. دغه شانے شاه محمد اسحاق رحمه الله لیکی :

وتخصیص مصافحه بوقت فجر وعصر نزد علماء حنفیہ مکروه است۔ (ماة مسائل ص۷۲) "

اوخاص کول دمصافحے په وخت دسحر اومازیګر پورے په نزد داحنافو علماؤ رحمهم الله مکروهه دی "

۳. علامه ابن عابدین الشامی رحمه الله مصافحه کول مستحبه طریقه په وخت دملاقات کښ ښودلے ده اوداب‍ن حجر شافعی رحمه الله، ابن الحاج مالکی رحمه الله ،اوصاحب دملتقط حنفی رحمه الله په حوالو لیکی چه دمونځ نه بعد مصافحه خاص کول بدعت دے ثبوت ئے په شرع کښ نشته دملتقط (کتاب) عبارت دادے :

تکره المصافحة بعد اداء الصلوة بكل حال لان الصحابة رضي الله عنهم ماصافحوا بعد اداء الصلوة ولانها من سنن الروافض (شامی ج۵ص۲۷۰)

"مکروه دی لاس ورکول پس د اداء کولو دمانځه نه په هر حال کښ ځکه چه صحابه کرامو رضي الله عنهم مصافحے نه دی کړی پس د اداء کولو دمانځه نه اوبے شکه دادطریقه دشیعه ګانو (روافضو)نه ده "

۴. فتاوی امداد المفتیین اوعزیز الفتاوی اواحسن الفتاوی کښې دغه عبارت ذکردے اوبدعت اوشعار روافض ئے ورته وئیلے دے[1] .

۷. گنگوهي رحمه الله هم دغه تخصیص ته بدعت اومکروه تحریمي وائي: معانقه ومصافحه بوجه تخصیص کے کہ اس روز میں اس کو موجب سرور اور باعث سعادت اور ایام سے زیادہ مثل ضروری کے جانتے ہیں بدعت ہے اور مکروہ تحریمی اور علی الاطلاق ہر روز مصافحہ کرنا سنت ہے الخ۔ (فتاوی رشیدیه ص۱۰۲\۱۴۰)

غاړه ورکول اولاس میلاؤل په وجهے دتخصیص سره په دے ورځے کښې چه دنورو ورځو نه زیات ضروري گنړي چه په دے ورځے کښې سبب دخوشحالئ اود دوستئ دے بدعت دے اومکروه تحریمي دے اومطلقا (یعنی بغیر تخصیص) هره ورځ مصافحه کول سنت دی .

۸. مولانا ابوالحسنات رحمه الله دمجالس الابرار ،ملتقط ،ابن حجر رحمه الله په حواله هم دغه مذکوره لیك کړے دے اوبیا دخپل والد صاحب نه داعتراضاتو په باره کښې لیکي :

والذی اقول انهم قد اتفقوا علی ان هذه المصافحة لیس لها أصل فی الشرع ثم اختلفوا فی الکراهة والاباحة والامر اذا دار بین الکراهة والاباحة ینبغی الافتاء بالمنع الخ (السعایة ج۲ص۲۶۵ طبع سهیل اکیدمی لاهور)

"اوهغه چه څه ئے وایمه چه علماؤ اتفاق کړے چه داسے مصافحے لره څه اصل په شرع کښې نشته بیا اختلاف ئے کړے په کراهت اواباحت کښې اوکوم کار چه دکراهت اواباحت په مابین کښې راشي نو مناسب دی فتوی ورکول په منع سره الخ

[1] امداد المفتین ۹۵\۹۲ عزیز الفتاوی ص۱۲۸\۱ احسن الفتاوی ص۱۲۷\۱۲۸)۔

۹.دحضرت ابن الحاج مالکی رحمه الله عبارت داسې دې.

واما المصافحة فانها وضعت فی الشرع عند لقاء المؤمن لاخیه واما فی العیدین علی ما اعتاده بعضهم عند الفراغ من الصلوة یتصافحون فلا اعرفه

(المدخل لابن الحاج ج۲ص۲۹۶)

"او هر چه مصافحه ده پس دغه مقرره ده په شرع کښې په وخت دملاقات دمسلمان ورور د ورور خپل سره او هر چه په اخترونو کښې څنګه چه دبعضو عادت دے چه پس دفارغیدو دمانځه نه لاس یویل له ورکوی پس دغه نه پیژنم په شرع کښې"

۱۰.حضرت مولانا عبدالوهاب پیرمانکی صاحب هم په بسط سره دامسئله لیکلے ده اودے حق ئے اداء کړے دے فرمائی :پس دحدیث دعائشې رضی الله عنها او دوو آیاتونو نه چه حضور ﷺ داتباع په حقله دکتاب سر کښې ذکر دی.

علی ان الفقهاء من الحنفية والشافعية والمالكية صرحوا بكراهتهما وكونهما بدعة (هداية الابرار الباب الثالث طبع رشيديه پشاور ص۳۴\۳۵)

"چه حنفی، شافعی، مالکی فقیهانو وضاحت کړیدے په مکروهوالی اوبدعتوالی ددے اوبیاهم دهغه دریو حضراتو ذکرکړے دے کوم چه شامی ذکرکړی دی.

۱۱.دحضرت عبدالغفور سوات صاحب رحمه الله فتوی هم دبعض قدوریانو. (قدوری ص۲۰۷\۲۰۸) په اخرسر کښې چهاپ شوے اوشائع شوے ده هغوئ همدغه مصافحے ته بدعت ونیلے دے.

۱۲. حضرت شیخ القرآن صاحب رحمه الله په دغه مسئله یومستقله رساله لیکلے ده اوکشف الشبهات سره غبرګه شائع شوے ده. هغوئ

هم دګنړو کتابونو په حواله لکه شامی ،ماة مسائل ،فتاوی دیوبند ، امدادالفتاوی ، مدخل ، فتاوی رشیدیه ، سعایه ، مجالس الابرار ، الاعتصام ، وغیره لیکلی دی . چه مصافحه اومعانقه سنت دی اووخت ئے دیوبل سره ملاقات کول دی .

لهذا: په هر یوکار کښ دسنت ګرامی خیال ساتل پکار دی په سنتو عمل کولو کښ ددنیا اواخرت کامیابی ده. خداوند قدوس دے مونږه متبعین سنت جوړکړی . آمین

انما الدین اتباع لا ابتداع = :-

بُلْ علی ماکان رایا فکفا کم منه ذا :-

قاعده دمکروهو مطلقه وُ په باره کښ

درسالے په ډیروځاینو کښ دمکروهو ذکر راغلے دے کیدے شی کچرے د چا خیال ته دا راشی چه دغه نه به مراد مکروه تنزیهی وی اوځنے عوام خولاداهم وائی چه دمکروه نه څه خالی دی نوبناء په هغه مشهور متل ؛خوئ بد بهانه بسیار ؛ دبدعاتو ،محرماتو ، ارتکاب کښ به پریوځی . لهذا : دفقهاؤکرامو قاعده ذکر کولے شی . اوهغه داده چه مکروهو کله مطلق ذکر شی دتحریمی ،یاتنزیهی ،قید ورسره نه وی نومراد ترینه تحریمی وی لکه چه فرمائی:

المراد الکراهة اذا اطلقت فی کلامهم فا المراد الکراهة التحریمیة اِلّاآن ینص علی کراهة التنزیة اویدل علی ذالك کذاذکره النسفی رحمه الله فی المصفی وابن النجیم رحمه الله فی البحر الرائق.

چه کراهة کله مطلق ذکر شی په محاوره دعلماؤ کرامو کښی نومراد ترینه کراهت تحریمی وی مګر چه تصریح اوشی په کراهت تنزیهی باندے اویاکوم دلیل دلالت اوکړی په دغه باندے دارنګے نسفی رحمه الله په مصفی کتاب کښی اوابن نجیم رحمه الله په بحرالرائق کښی ذکر کړیدی [1].

۱۴ دَسنتو نه پس په جمعے سره د دُعاء کولوحکم

اکثرو علاقو کښی داعمل په شدومد سره چلیږی چه کله دفرض مانځه جمعه اوشی نوامام صاحب اومقتدیان متصل په خپل ځائے سنت اوکړی دسنت اداکولو نه بعد استاذ صاحب قوم ته رااوګرځی اوپه زوره دا آیت شریفه اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىِٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ الخ ووائی اوپه زوره درود شریف اوځنے ځایونو کښی ورو ورو درود شریف وائی بیا دغه دعاء شروع کړی اوپه مخ لاس راکاږی .بیا دوباره امام صاحب اووائی دعاخیر ،سلامت ایمان ، شفاء مریضان ،خلاصے قرض ، قرضداران وغیره اووائی اوپه مخ لاس راکاږی . بیا په دریم ځل اووائی :دحضرت امام صاحب بغداد صاحب په حق کښی دُعاء اوکړی.غرض داچه درے ځله دعاء اوپه مخ لاس راخکل لازمی ګڼړی اونه کونکی باندے دا الزام لګوی چه دعاء نه منی .افسوس اوصد افسوس چه اهل بدعاتو لره څه عقل وے نوڅه ښه به وے چه فرض په جمع نودعاء هم په جمع یعنی په اتفاقی دناخاپی توګه" یعنی که امام دعاء کوی نو په دے نیت چه د فرضونه روستو دعاء ښه قبلیږی. او مقتدی هم په دغه نیت

[1] عمدة الرعاية ص۱۸ص۱۹رد البدعات ج۳ص۱۵۹ابوالمکارم بحواله راه سنت ص۴۷التصریح حاشیه تلویح ونقل محمد ان کل مکروه حرام ص۹۳ کنز جهاب الکراهة:

خو دا لازمه نده چه کله امام شروع کړی نو مقتدی دے هم شروع کړی بلکه ده یو بل نه مخکښ روستو کیدی شی. اوسنت خان خانله نودعاء ترے نه روستو هم خان خان له .څه دخپلے کمزورے پوهے مطابق په څو وجوهاتو سره ددغه رسمی تردیدلیکمه دالله تعالی په کومك سره .

وجه اوله په دغه ذکرشوے طریقه کښې هغه مسنونه اذکار اودعاګانے پاتے کیږی کومے چه په احادیثو مبارکو کښې راغلے دی مولانا عبدالحی رحمه الله صاحب سعایه کښې تقریبا (۱۹) دهغو اومولانا مفتی کفایت الله صاحب رحمه الله نفائس مرغوبه کښې (۱۱) دهغونه اوحضرت استاذ محترم مولانا محمد طاهر رحمه الله صاحب الانتصار لسنة سید الابرار کښې (۱۷) دهغو حدیثونو نه ذکر کړی دی رغبت کونکے دے دغه کتابونوته رجوع اوکړی . دلته هم په پنځو احادیثو خپله رساله مزینه کوم .

١ .عن ابی امامة قال قیل یا رسول الله ای الدعآء اسمع قال جوف اللیل ودبر الصلوة المکتوبات[1]

"دابی امامه رضی الله عنه نه نقل دے وائی :چه عرض اوشو اے دخدائی رسوله!کومه دعاء ډیره مقبوله ده ؟ نوهغوی اوفرمائیل دآخرے شپے په مینځ کښې اودفرض مونځونو نه پس "

٢ .عن عقبة بن عامر رضی الله عنه قال امرنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان اقرا المعوذات فی دبر کل صلوة: قال الشارح ای المفروضة.[2]

(۱) الترمذی ج۲ص۱۷۹الدعوات مشکوة ص۸۹نفائس مرغوبه ص۱۸السعایة ج۲ص۲۵۸ریاض الصالحین ص ۵۲۳-
(۲) رواه احمد وابو داود ص ۲۱۳والنسائی ص۲۰۵والبیهقی فی الدعوات الکبیر کذافی المشکوة ص۸۹-

"دعقبه بن عامر رضي الله عنه نه روایت دے وائی امر کړے وو ماته رسول الله ﷺ چه معوذات (دپناه غوښتلو واله دعاګانے) وایم. شارح وائی یعنی پس دفرض مونځ نه"

۳. عن المغیرة بن شعبة أن النبی ﷺ کان یقول فی دبر کل صلوة مکتوبة لا اله الا الله وحده لاشریك له له الملك وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر اللهم لامانع لما اعطیت ولا معطی لما منعت ولا ینفع ذا الجد منك الجد"(۱)

"او مغیره ځوئ د شعبه رضي الله عنه نه منقول دی چه نبی کریم ﷺ به د فرض مانځه نه بعد داوئیل چه نشته مددګار سیوا د الله تعالی نه چه یك یو دے هیڅ شریك ورله نشته او ده لره بادشاهی ده او خاص هغه لره حمدونه دی او هغه په هر شی باندے قدرت واله دے ائے خدایه نشته څوك منع کونکے د هغه چه ته ئے ورکوے او نشته ورکونکے د هغه چه ته ئے منع کوے او نفع نه شی ورکولے مالداری واله ته ستا د عذاب نه مالداری د هغه".

۴. وعن انس رضي الله عنه ان النبی ﷺ کان اذا صلی وفرغ مسح بیمینه علی راسه وقال بسم الله الذی لا اله الا هو الرحمن الرحیم اللهم اذهب الهم والحزن.

(رواه الطبرانی والبزار ص۱۰ النفائس المرغوبه ص۵۹ ج۲ السعایة)

"او د انس رضي الله عنه نه نقل شوی دی چه وو نبی کریم ﷺ چه مونځ به ئے وکړو او فارغ به شو نو په ښی لاس خپل به ئے په سر مسح اوکړه او او به ئے وئیل په امداد د نوم د هغه الله چه د هغه نه غیر مددګار نشته چه مهربانه او بخونکے دے اے خدایه اخما نه تکلیف او غم لرے کړے.

(۱) متفق علیه مشکوة ص۸۸ نسائی ج۱ ص۱۹۷ ابو داود ج۱ ص۲۱۱ مسلم ج۱ ص۲۱۸ بخاری ج۱ ص۱۱۷ باب الذکر بعد الصلوة

۵. عن عائشةؓ انّ رسول الله ﷺ کان اذا سلم قال اللهم انت السلام ومنك السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام.

(ج۱ص۱۵۰ السنن للنسائی طبع سعید کراچی وکذا فی ص۲۱۳ سنن ابی داود)

"د عائشے رضی الله عنها نه روایت شوے دے چه وو رسول الله ﷺ چه کله به ئے سلام اوګرځولو نوفرمائیل به ئے .ائے الله ته سلامتیا ورکونکے ئے اوستاله طرفته سلامتیا ده دبرکت والائے ایے خاونده دلویٔ اوعزت.

دروایاتو ذکر شوونه معلومه شوه چه ډیره مقبوله دعآء دالله تعالی په دربار کښ دپیشمنی اودفرضی مانځه نه بعد دعآء ده اودغه رنګے مختلفے دعاګانے دفرضونه روستو ثابتے شوے خوعجیبه داده چه مقبول دعاء پریږدی اوغیر مقبولے باندے همیشګی کوی.

دویمه وجه : داده چه دفرضو اوسنتو مابین کښ فصل رانغلو اوحالانکه یواوګد حدیث کښ راځی چه یوځل رسول الله ﷺ مونځ اوکړه اوبیا راوګرځیدو اویو سړے چه تکبیر اولی ئے نیولے ووپاځیده دشفعے کولو دپاره پس عمر رضی الله عنه ورپاځیده اود اوګونه ئے اونیولو اواوئے خوزولو.

ثم قال اجلس فانه لن یهلك اهل الکتاب الا انه لم یکن بین صلوتهم فصل فرفع النبی ﷺ بصره فقال اصابك الله بك یا ابنَ الخطاب. (مشکوة ص۱۸۹ ابوداود ص۱۹)

اوبیا ئے اوفرمائیل چه کینه پس بیشکه نه دی هلاك شوی اهل کتاب مګر ددے وجهے نه چه دمونځونو مابین کښ بیل والے نه وو پس نبی کریم ﷺ نظر راوچت کړه اووے فرمائیل چه حق ته رسولے دے تاالله تعالیٰ اے ده خطاب ځویه.

محدثینؒ فرمائی :چه فصل دادے چه یامخکښ شی اویا روستو شی دمکان دمانځه نه اویا بهر اوځی یاخبرے اوکړی وغیره

(لمعات علی هامش المشکوة ص۸۸ نمبر۱۲).

درئیمه وجه داده: چه امام استاذ چه په مصلی نیغ سنتو ته اودریږی حدیث کښې ددے نه منع راغلې ده بلکه ځائې به بدلوے.

عن عطآء الخراسانیؒ عن المغیرۃؓ قال قال رسول اللہ ﷺ لا یصلی الامام فی الموضع الذی صلی فیه حتی یتحول قال ابوداود عطاء الخراسانی لم یدرك مغیرة بن شعبة رضی اللہ عنہ[1]

"عطآء خراسانی دحضرت مغیره بن شعبه رضی اللہ عنہ نه نقل کوی وائی چه رسول اللہ ﷺ فرمائیلی دی چه امام دے مونځ نه کوی په هغه ځائے کښې چه فرض ئے پکښې کړیدی تردے چه ترینه ورګرځی."

ابوداود چه کوم اعتراض کوی چه عطاء خراسانی مغیره نه دے موندلے نودااعتراض اثرانداز نشی کیدے ځکه چه دحضرت ﷺ اواصحابو رضی اللہ عنہم عمل ددے خبرے تائید کوی چه دفرضو په ځائی کښې هغوی سنت نه دی کړی.

څلورمه وجه داده: چه درسول اللہ ﷺ عادت مبارکه داوو چه سنت به ئے بغیر دعذرنه خپل دولت کده کښې کول اوخپلو ملګرو ته به ئے هم ددے ترغیب ورکولو لکه چه ګڼړو روایاتو کښې راځی دهغونه بعض روایات مندرجه ذیل دی

دحضرت اُم المؤمنین عایشة رضی اللہ عنہا نه نقل دے کله چه عبداللہ بن شقیق ترے نه دحضرت ﷺ دنفلونو په باره کښې تپوس کړے وو.

آ. فقالت کان یصلی فی بیتی قبل الظهر اربعا ثم یخرج فیصلی بالناس ثم یدخل فیصلی رکعتین وکان یصلی بالناس المغرب ثم یدخل فیصلی رکعتین ثم یصلی بالناس العشآء ویدخل بیتی فیصلی رکعتین وکان لیصلی من اللیل

[1] رواه ابوداود ص۹۱مشکوۃ ص۸۸و۱۶۰ج۱بدائع الصنائع ج۱ص۲۶۲شامی:

تسع ركعات فيهن الوتر وكان يصلى ليلا طويلا قائما وليلا طويلا قاعدا وكان اذا قرأ وهو قائم ركع وسجد وهو قائم وكان اذا قرا قاعدا ركع وسجد وهو قاعد وكان اذا طلع الفجر صلى ركعتين (رواه مسلم ج۱ ص ۲۵۲ و مشكوة ج۱ ص ۱۰۴)

"پس وئے فرمائیل چه وو حضرت ﷺ ځما په کور کښ به ئے څلور رکعته مخکښ دماسپښین نه کول بیا به اووتلو پس خلقو ته به ئے مونځ اوکړه بیا به کورته راغلو پس دوه رکعته به ئے اوکړل اووو چه خلقو ته به ئے دماښام مونځ اوکړو نوراغلو به اودوه رکعته به ئے اوکړل بیا به ئے خلقو ته دماخوستن مونځ اوکړواوځما کورته به داخل شو پس دوه رکعته به ئے اوکړل اودشپے به ئے نهه رکعته مونځ کولو چه وتر به پکښ هم وواومونځ به ئے کولوپه ډیره حصه دشپے کښ په ولاړے اوپه ډیره حصه دشپے کښ په ناستے اوکله چه به ئے قرات کولو اوهغه به ولاړ وو نورکوع اوسجده به ئے دولاړے نه کوله اوکله به ئے چه قرات کولو په ناستے نورکوع اوسجده به ئے دناستے نه کوله اوکله به چه صبا اوختو نو دوه رکعته به ئے کول .

وعن كعب بن عجرة رضي الله عنه قال ان النبى ﷺ اتى مسجد بنى عبدالاشهل فيصلى فيه المغرب فلما قضوا صلوتهم وراهم يسبحون بعدها فقال هذه صلوة البيوت[1]

"اوحضرت کعب ځوی دعجره رضي الله عنه نه نقل دے وائی چه نبی کریم ﷺ دبنی اشهل مسجدته راغلو پس ماښام مونځ ئے پکښ اوکړو کله چه پوره کړه فرضونه خپل نوونے لیدل چه سنت کول پس دهغے نه نو

(۱) ابوداود ج۱ص۱۸۴باب ركعتى المغرب اين تصليان، مشكوة ص۱۰۵، طحاوى ص۱۳۴ وفى البخارى فعليكم بالصلوة فى بيوتكم فان خير صلو ة المرأ فى بيته الاالصلوة المكتوبة ج۲ص۹۰۳ورياض الصالحين ص۴۰۸باب الافضل فى عامة السنن والنوافل المنزل الخ ج۱ص۲۱۷هدايه ص۱۳۵طحاوى ج۱ ص۳۹۲ شامى:

وئے فرمائیل چه داد کورونو مونځ دے"

دذکرشوو دواړو حدیثونو نه معلومیږی چه سنت کور بهتر دی اوحضرت ﷺ معمول هم داوو البته دضرورت په اساس لکه سفر ،اعتکاف ،یا دبیان جوازدپاره حضور ﷺ سنت جمات کښ هم کړیدی نوهرکله چه دهغوی عادت سنت کول کورکښ وو. نودعاء بعدالسنن په جمعے سره څنګ ثابتیږی اوبیا همیشه دپاره ولے غوره طریقه پریښودے کیږی .

اوبنځمه وجه داده: چه رسول الله ﷺ سنت جمات کښ کړیدی نوده دغه دعاء ثبوت ترینه نه دے شوے .

حدیث کښ دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه نقل دے .

کان رسول الله ﷺ یطیل القراة فی الرکعتین بعدالمغرب حتی یتفرق اهل المسجد(ابوداودص ۱۸۳ مشکوة ۱۰۵)

"چه حضور ﷺ به قرات اوګده ولو په هغه دوو رکعتونو کښ چه پس دماښام نه دی تردے چه جمات واله به خواره واره شو.

مطلب داچه کله ئے سنت جمات کښ کولو نو دبیان جوازدپاره ئے سنت دماښام دومره اوګده ول چه خلق به خواره شو مسجدنه . اودفقهآء کرامومشهوره قاعده ده چه عدم النقل یدل علی الکراهة"(۱)

نودسنتو دعاء په جمع دکوم ځائے نه راغله .

شپږمه وجه داده :چه ان الله وملئکته اودرودشریف ضروری دسنتونه روستو شریعت مقدسه کښ ندی راغلی اګرچه تلاوت اودرودشریف لوستل پخپل ځائے ده ډیرثواب موجب دی اوددعاء دپاره درودشریف

(۱) ص ۹۰ الفتح القدیر ص ۱۳۲ شامی ص ۱۱۳۹ الانتصار و ص ۱۷۰ الهدایه و ماقسائل ص ۷۵ ض ۱۴۱ کذافی رسالة البیضاء فی مسئلة الدعاء

دقبلولو ذريعه ده ليکن دے مقام کښې ضروري ګڼړل بدعت ګرځي

مفتی رشيد احمد لدهيانوی رحمه الله فرمائي : مگر اسے ضروری سمجھنا ناجائز ہے کسی مباح یا مستحب کام کو ضروری اور واجب قرار دینا گناہ ہے۔

مګر دغه ضروري ګڼړل ناجائز دی کوم مباح يامستحب کار ضروري اوواجب کول ګناه ده "

وکل مباح يودی اليه (الى الواجب) فمکروه (در مختار اخر باب سجود التلاوة)

"هر مباح چه واجبو ته رسيږي نومکروه دی "

قال الطيبي من اصر على امر مندوب وجعله عزما ولم يعمل باالرخصة فقد اصاب منه الشيطان من الاضلال فکيف من اصر على بدعة او منکر الخ.

(المرقات ج۲ص۵۲ ۱۳ احسن الفتاوی ص۱۱۹)

علامه طيبي رحمه الله فرمائي :(ديوحديث په فائده کښې)چا چه تنګوالے اوکړو په يو مستحب کار اوواجب کار ئے اوګرځولو اوعمل ئے په رخصت (اجازت) اونکړو پس يقيني دده ګمراه کولو ته شيطان ورسيده پس څه حال به وی دهغه کس چه بدعت اوناروا باندے ټينګيږي .

نوهرکله چه ثبوت ئے دحضرت ﷺ نه نشته نوبدعت دے اوپه بدعت کليکدل دابله ګناه هم شوه.

اوومه وجه داده :چه دعه عمل دموجوده حال خلقو کښې جهر په ذکر اودعاء سره دے اوداهم مکروه اوبدعت دےځکه چه مخکښې مفصل ذکرشوی دی چه کوم ځائی کښې جهر راغلے دے نودضرورت په اساس دپاره يا دتعليم دپاره.(المرقات ص۲۹۷ج۲ والسعايه ص۲۶۳ کذافی ص۱۳۱ الرسالة البيضاء فی اخر کشف الشبهات).

اتمه وجه داده :چه پدغه طريقه کښې يو قسم بخل په دعاء کښې دے چه

حضرت امام صاحب رحمه الله اوبغداد صاحب رحمه الله اوخنے نوروولیان یاده وی اوعام منومنان پریږدی اوکه نه ئے پریږدی نو بیا ددغو حضراتو دتخصیص څه وجه ده حالانکه قرآن مجید کښ دمسنونه دعاء طریقه داده چه اول ځان اوبیا مور اوپلار اوبیا عام مؤمنان .

دحضرت نوح علیه السلام په دعاء کښ داسے دی . رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ (سورة نوح آیت ۲۸)

"اے ربه بخښنه اوکړه ماته اومور پلار زماته اوهغه چاته چه زما کورته داخل شی دایمان په حالت کښ اوایماندارو سړو اوښځوته .هم دغه رنګے دحضرت سیّدنا ابراهیم علیه السلام په دعاء کښ دی کله چه کافر پلار دعاء نه منع شوے نوو.

رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ۝ (سورة ابراهیم ۴۱)

"اے ربه زمونږه بخښنه اوکړے ماته اومورپلار زماته اوایماندار وته کله چه قائم شی حساب"

مفسرین حضراتؒ دمسنونه دعاء طریقه هم دغه ښائی[۱] :

خومشهور متل دے . دال میں کچھ کالا کالا ہے۔

ددویٔ په دغه تخصیص کښ ضرور څه شائبه شته یوآیت مبارکه کښ راځی چه روستنولره پکار دی چه مخکښنی عامو نیکانو مؤمنانو لره دعاء اوغواړی لکه چه ارشاد دے :

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝ (سورة الحشر ۱۰)

[۱] ج۴ص ۱۵۱ التسهیل ج۴ص ۱۱۷۸ ابن کثیر ج۲ص ۵۱۶ تفسیر خازن:

"اے ربه خمونږه بخښنه اوکړے مونږه ته اوورونږو خمونږه هغوته چه مخکښې شوی دی خمونږه نه په ایمان سره اومه ګرځوه په زړونو خمونږه کښې خبرے دایماندارو دپاره یقینی ته مهربان بخښونکے ئے.
اوحدیث کښې راځی:

وعن جندب ﷺ قال جاء اعرابی فاناخ راحلته ثم عقلها ثم دخل المسجد فصلی خلف رسول الله ﷺ فلماسلم اتی راحلته ثم رکب ثم نادی اللهم ارحمنی ومحمدا ولاتشرك فی رحمتنا احدا فقال رسول الله ﷺ اتقولون هواضل امر بعیره الم تسمعوا الی ماقال قالوابلی.

(رواه ابوداؤد مشکوة باب حفظ اللسان ص۴۱۴)

دجندب رضی الله عنه نه روایت دے چه یوباندیچی راغے او اوښه ئے چوکړه پس مونځ ئے اوکړو روستو د رسول ﷺ نه پس کله ئے چه سلام وګرزو راغلو اوښے خپلے ته بیا سور شو بیائے اودعا ئے اوکړه یاالله رحم وکړے په ما او په محمد ﷺ باندے او مه شریکوه په رحمت زمونږه کښې هیچا لره پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل آیاتاسے وائی چه دا به ډیرګمراه وی او که اوښ د ده آیا تاسے نه اوری هغه چه ده وئیلے ووئیل دوی ولے نه.

نهمه وجه داده :چه اګرچه په دعاءکښې رفع الیدین اومسح کول دمخ شته لکه احادیثو دسرور کائنات کښې راځی دحضرت سائب رضی الله عنه په نقل دخپل پلار یزید رضی الله عنه نه راځی.

ان النبی ﷺ کان اذا دعاء فرفع یدیه مسح وجهه بیده[1]

"چه نبی ﷺ به کله دعاء کوله اولاسونه به ئے اوچتول نومخ به ئے په

---

[1] بیهقی مشکوة ج۱ص۱۹۶ ابوداود ج۱ص۲۰۹ وانظر ج۱ص۱۷۷ المشکوة ص۱۹۵ ص الدعاء للسیوطی ص۱۳۸ الانتصار وص۱۵ النفائس المرغوبه وص۲۰ ایضا:

دواړو لاسونو مسح کولو.

عن ابن عباس رضي الله عنه سلوا الله ببطون اكفكم ولا تسئلوه بظهورها فاذا فرغتم فامسحوابها وجوهكم (ابوداود ص٢٠٩ج١ امشكوة ج١ اص١٩٥)

"دحضرت ابن عباس رضي الله عنه وينا ده چه سوال کوئ دالله تعالى نه په خيتو دورغو خپلو اوسوال ترينه مه کوئ په شاګانو دورغو پس کله چه فارغه شوے پس مسح پرے کړے مخونه خپل "

ليکن درے خله لاس اوچتول اوپه مخ راښکل ندی ثابت.

لسمه وجه داده: چه علمآء ربانيينو ددغې مروجې دعاء ترديد کړےدے مفتی رشيداحمد لدهيانوی رحمه الله فرمائی:

اگر تثلیث کا کوئی ثبوت ہوتا اور صحابہ رضی اللہ عنہم اسے ثواب سمجھتے تو ضرور اسے نقل کرتے اور خود بھی اس پر عمل کرتے حالانکہ اُمت میں سے کسی نے نہ اسے نقل کیا اور نہ ہی اسکے مطابق عمل کیا۔ (١)

"که چرے د درےخلو دعاګانو څه ثبوت وے اوصحابه کرامو رضي الله عنهم ئے ثواب ګنړلے نوضرور به ئے دانقل کړے وے اوپه خپله به ئے پرے هم عمل کړے وو حالانکه دامت نه داهيڅ چا ندی رانقل کړی اونه ددغه مطابق عمل کړے دے.

حضرت مولانا مفتی محمد کفايت الله رحمه الله صاحب په دے مسئله مستقل کتاب ليکلے دے اودسلو نه زيات د علمآء کرامو فتوے پکښ راجمع کړی دی چه دفرضونه بعد دعآء سنت اودسنتونه پس په هيئت

---

(١) احسن الفتاوی: مولانا عبدالرحمن شيخ الحديث ده مولانا شيخ الحديث حسين احمد صاحب مدنی نه په تعليق ص١٤٨ قلمی کښ دغه دعاء ته ليس بشئ دنيلے دی:

اجتماعي سره بدعت دے دوجهے داختصار رسالے نه دلته دتولو ذکر نشي کیدے البته دمکے مکرمے دمفتي مولانا عبدالله بن عبدالرحمن سراج الحنفي رحمه الله فتاوی مندرجه ذیل ده .

الجواب :لم ترد السنة بذالك ولا رواية في ذالك ولايجوز للمتولي اجبار الامام على ذالك لانه غيرموافق للشرع والحال ماذكروا . والله اعلم النفائس المرغوبه ص۱۰۱)

جواب : سنت په دغه عمل باندے ندی راغلی اونه پکښ دفقهاء روایت راغلے دے اودجماعت دمتولي دپاره دا روا نه دی چه امام مجبوره کړي په دغه باندے ځکه داموافق نه دی دشرع سره په داسے حال کښ چه ذکر په سوال کښ شوے دے .

مولانا خیر محمد صاحب جالندهری رحمه الله دسنتونه روستو په جمع دعاءته ده سنت طریقےنه خلاف وئیلی دي چه ډیروښوښو علماؤ ورته بدعت وئیلے دے پریښودل ئے پکار دی او مفتی صاحبؒ دکتاب کتلو تلقین ئے کړے دے (۱).

خلاصه ده ګذارشات سابقه نه راوتله چه دعاء ده فرضونه روستوثابته ده اودغه رنګے دسنتونه بعد هم انفرادا ثابته ده اوپس دسنتونه په جمع بدعت دے ځان ترینه بچ کول لازم دی:

اشکالات اوجوابات

بعضے کسان داشبه کوی چه حدیث دام المؤمنین رضي الله عنها کښ راځي چه: کان رسول الله ﷺ اذا سلم لم یقعد الامقدار مایقول اللهم انت السلام الخ...

---

(۱) یہ رواج سنت طریقے کے خلاف ہے بہت سے اچھے اچھے علماء نے اس کو بدعت کہا ہے اس کو چھوڑنا چاہئے: نماز حنفی ص ۳۴)

"ووحضرت رسول خدا ﷺ چه کله به نے سلام اوګرځولونو نه به کیناسته مګر په مقدار ددے (دعاء) اللهم انت السلام الخ...

اول: دغه حدیث کښې یو راوی دے ابومعاویهٔ امام ابوداود رحمه الله ورته دمرجئو نه وئیلے دے اویحی ابن معین رحمه الله وائی چه دغه منکر روایتونه نقل کوی (نفائس مرغوبه ص۱۷).

دویم: چه دغه حدیث کښې تغیر دراوی نه راغلے دے اونقل بالمعنی شویدے. اصل روایت هغه دے چه مخکښې مونږه دنسائی په حواله ذکر کړے دے .چه حضرت ﷺ به کله سلام اوګرځولو نودغه دعاء به لوستله اوداپکښې نشته چه نه به کیناسته مګر په قدر داللهم انت السلام الخ

(التعلیق الفصیح ج۲ ص۱۶\الانتصار ص۳۶)

دریم: ددغه مقدار نه حقیقی نه دے مرادبلکه تقریبی اوتخمینی دے دوجهے دهغه صحیح روایتونو نه چه باب ددعاء کښې راغلی دی.

(نفائس ص۱۷ والانتصار ص۳۶ فی فتح القدیروالشامی ج۱ ص۳۹۱ وذالک یکون تقریبا فقدیزید قلیلا وینقص قلیلا ص۲۵ النفائس وص۲۶۲ السعایة).

څلورم: مراد دغه کیناستو نه مخامخ قبلے ته دی یعنی ددغه مقدار نه بعد به قوم ته راګرځی اونوربه مخامخ قبلے ته نه کینی.

(بدایع الصنائع ج۱ ص۱۵۹ ویقرب الیه مافی المدخل ج۲ ص۲۸۶).

جناب کاسانی رحمه الله لیکلی دی.

الاانه یکره المکث علی هئیته مستقبل القبلة لما روی عن عائشة رضی الله عنها الخ مګر شان دادے چه مکروه دی درنګ کول په هیئت خپل مخامخ قبلے ته دوجهے دحدیث دعائشے رضی الله عنها نه.

دویم اشکال

بعض حضرات دنورالایضاح دعبارت نه دعاء بعدالسنن ثابتوی .
١ . لیکن هغه مشهورمتل دے چه "تمرئ وینے اوتیپرپرے نه وینے "

صاحب دنورالایضاح خوباب تړی فصل فی الاذکار الواردة بعدالفرض "فصل په هغه ذکرونو کښ دے چه راغلی پس دفرضونه. (نورالایضاح ص۸۰)

اوبیا دغه باب کښ فرمائی :ویستحب للامام بعد سلامه ان یتحول الی یساره لتطوع بعد الفرض وان یستقبل بعده الناس .

یعنی مستحب دی دامام دپاره پس دسلام نه یوداچه اوګرځی ګس طرف ته دپاره دسنتو او(بل ورله) دامستحب دی چه پس دسلام نه خلقوته مخ کړی .

حاصل داچه دنورالایضاح عبارت کښ تقدیم اوتاخیر دے یعنی اول به امام ددعاء دپاره خلقوته مخ کړی اوبیا به ډډے ته دسنتو کولو دپاره اخوا شی اوداپه هغه مشهورے دقاعدے دنحوے بناء دے چه واو دمطلق جمع دپاره دے[1] نوبنا ء په دغه جواب عبارت دصاحب نورالایضاح دباب خپل سره مطابق شو .

جواب دویم :مستحب یوحکم شرعی دے نو لابدی ورله دلیل نه ده نو آیا دصاحب نورالایضاح متوفی ١٠٦٩ھ په قول استحباب ثابتیدے شی حالانکه دحضرت محمد ﷺ اوخیر القرون نه ئے ثبوت نه دے راغلے ..
(والمدعی یطالب با البیان)

---

[1] والواو لمطلق الجمع ص۱۱۹ کافیه ص۱۳۸ هدایة النحو ص۲٦٦ الفوائد الضیائیه و کذافی الحسامی ص۷۵)

اشکال دریم: بعض حضرات وائی چه چونکه سنت مکملات دپاره دفرضودی لهذا کچرے دعاء دسنتو نه بعد اوشی داداسے ده لکه چه دفرضونه بعد ئے کړی وی .

جواب: سنت چه مکملات دفرضودی ددے مطلب دادے چه که دچا په فرائضو کښې فرق وی نوالله رب العزت به ئے سنت اونفل پخپل فضل سره دفرضو په ځائی اودروه وی اودغه مطلب ئے نه دے کوم چه سائل دځان نه ایجاد کړے دے .ان النوافل والسنن تکون مکملات للفرائض فی الحشر الخ (کما قال فی الاختیار شرح المختار ص۱۳۳ العرف الشذی)

"یقینی نفلونه اوسنتونه کاملونکے کیږی دفرضودپاره په قیامت کښې"(۱)

په حدیث ابوهریره رضی الله عنه کښې راځی دحضور ﷺ نه م اوریدلی دی چه فرمائیل ئے چه اول به دبنده نه په عملونو کښې دمانځه تپوس کیږی په ورځے دقیامت پس که مونځ ئے برابر وو پس کامیابه شو اوکټه ئے اوکړه اوکه مونځ ئے فاسد وونو نامراده اوتاوانی شو .

ولن انتقص من فریضة قال الرب انظروا هل لعبدی من تطوع فیکمل بها ماانتقص من الفریضة ثم یکون سائر عمله علی ذالك.

(رواه الترمذیؒ وحسنه النسائیؒ وابن ماجةؒ والحاکمؒ وصححه ص۱۲۰\۹۹، فضائل الاعمال لمولانا زکریاؒ)

"کچرے کم شی دفرضونه رب تعالی به اوفرمائی اوګورئ چه ځما دبنده دپاره نفل شته پس مکمل به شی په دغه باندے هغه چه دده دفرضونه کم شوی دی اوبیا به ئے باقی عمل هم پدغه طریقه وی .

دَکتاب په آخر کښې همدردانه اپیل

دغه یوځو مشهور مشهور بدعات ووچه بنده ناچیز په تنګ وخت کښې سره دډیرو شواغلو ،اوقلت علم اووسائلو تردید په خپله ژبه دمسلمانانو وروڼرو په حضورکښې تحفه کړه .په ډیر عاجزئ سره

خواست دے چه د غلطۍ اصلاح داوکړی اودجناب رسول الله ﷺ دسنت ګرامی قدر شناسی د اوکړی ځکه چه هغو ی په یومکمل دین دنیا ته راتله کړی دی دالله تعالی ارشاد د ے چه فرمان ئے داسے دے:

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا (المائدة ۳)

"نن ورځ کامل م کړه ستاسو دپاره دین ستاسو اوپوره م کړو پتاسو نعمت خپل اوپسند م کړه ستاسو دپاره اسلام دژوند تیره ولو طریقه.

حضرت امام مالك رحمه الله فرمائیلی دی :

من ابتدع في الاسلام بدعة يراها حسنة فقد زعم ان محمد ﷺ خان الرسالة لان الله يقول اليوم اكملت لكم دينكم فما لم يكن يومئذ دينا فلايكون اليوم دينا (الاصول في البدع لسيد احمد العدوي طبع مصر)

"چاچه ایجاد کړه په اسلام کښ بدعت لره چه ښه ئے ګنړی پس بشکه خیال ئے اوکړو چه محمد ﷺ خیانت کړے دے په رسالت کښ ځکه چه الله تعالی فرمائی :چه نن ورځ مے ستاسو دین پوره کړو پس هغه شی چه په هغه وخت کښ دین نه وو پس نه کیږی نن ورځے دین "

حضرت مولانا قاری رحمه الله لیکلی دی :دغه آیت کریمه نه پس فلا نحتاج في تكميله الى امر خارج عن الكتاب والسنة (شرح فقه الاكبرص ۱۱)"

پس محتاجه نه یو په پوره کولو ددین کښ داسے کارته چه دکتاب اوسنت نه خارج وی "

اوهغه کسان چه دبدعاتو داعیان د ی اودسنت طریقے نه دوئ رو ګردان دی اودحضرت ﷺ داتباع دعوه داران دی اودشفاعت امیدواران دی ښه په سوچ دے په دے حدیث غوراوکړی .

الاوانه يجاء برجال من امتي فيوخذ بهم ذات الشمال فاقول اصحابي فيقال انك لاتدري ما احدثوا بعدك فاقول كما قال العبد الصالح الخ.

(ابن کثیر ج۲ ص۱۲۰ولی روایة اصبهانی ص۲۶۵بخاری کتاب التفسیر)

خبرداو :اوشان دادے چه رابه وستلے شی څه کسان دامت دځمانه پس روان به کړے شی ګس طرفته پس ځه به اووائیم چه ځما ملګری (اُمتیان) دی پس راته به اووئیلے شی چه ته خبر نه ئے چه دوئ دڅه ایجاد (بدعت)کړے وو پس ستانه نوځه به دعیسٰی ﷺ غوندے اووائیم چه ځه خبر ووم په دوئ باندے کله چه پکښ موجودووم اوکله چه دوفات کړم نوته نګران ئے په دوئ باندے .

دالله رب العزت په درګاه ډیر په عاجزئ سره دست بدعاء یم چه ځما ګناه ګار دغه ماته کوده سعی په خپل دربارکښ قبول کړی اوبنده اوتول امت دحضرت ﷺ دسنتو پیروکار کړی . وماذالك على الله بعزيز اواحقر اودده مور پلار اومشائخ اوتول امت مسلمه ته مغفرت نصیب کړی .

ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم۝ وتب علينا انك انت التواب الرحيم۝

امين امين لا ارضى بواحدة . رحم الله من قال امينا ـ

بروز پنجشنبه ۱۲ جمادی الاولی ۱۴۰۶ھ ۲۳ جنوری ۱۹۸۶ء

الاحقر محمد عبدالجبار الباجوری غفرلهٗ

خادم وبانی دار العلوم تعلیم القرآن لاشاعة التوحید والسنة

مقام توحید آباد ترغو باجوړ ایجنسی صوبه سرحد (پاکستان)

دعاء په درگاه کښې دمولې

اے الله ته ئے غفارستار تواب		هم عفوے هم رحمن ئے هم وهاب
دحمدونولائق ته رب دعالم ئے		هم خالق ئے دآفتاب اودماهتاب
رالیږلے دے نبی دے درحمت نه		بهترین دےدے ورکړےخپل کتاب
خه درودواوسلامونه پرے ډیروائم		بےشماره بے پایانه بےحساب
مونږ روان کړه دقرآن په سمه لاره		هم موکړه تابعداران دآنجناب
هم بنادی مودسنت سره برابرکړے		دبدعاتونه موکړه په اجتناب
دین فروشه بدعتیان رانه جوړمکړے		چه دخان ئے جوړه وی په دین کښې باب
خدایه ډیرے فتنے جوړیشوے عالم کښې		قسماقسم راروان دے انقلاب
دهریت دے رافضیت دے شرکیت دے		دبدعاتوشمیره نشته نه حساب
چااسلام په توپك پریخودخلقی شو[1]		چاکړوهتك دسلفوته ذهاب
استقامت موکړه نصیب په شریعت		تاته سوال دےخواست مودےداستجاب
گناهونه م بےشمیره دی اے خدایه		خورحمت ستا بےکناره دے دریاب
رساله م کړه قبوله خپل درگاه کښې		ستا رضا م دکتاب دے انتساب
غلطی راته معاف کړه خطا کاریم		په قیامت کښې رانه دفع کړه عذاب
والدین اواستاذان م په بخشش کړه		جنتونه ئے نصیب کړه هم ثواب

آمین ثم آمین

احقر محمد عبدالجبار عفی عنه

گواتی مقیم توحیدآباد ترخو باجوړ ایجنسی (پاکستان)

(۱) ونن صبا: چا اسلام په دالر پریخودو امریکئے شو-خاکی غفرله

ماخذات وحوا له جا ت رسا له هذا

۱. قرآن مجید
۲. بخاری شریف
۳. مسلم شریف
۴. نسائی شریف
۵. ابوداود شریف
۶. ترمذی شریف
۷. ابن ماجة
۸. دارمی شریف
۹. مشکوة شریف
۱۰. مسند احمد رحمه الله
۱۱. جامع المسانید
۱۲. موطا امام محمد رح
۱۳. کتاب الآثار
۱۴. شرح معانی الاثر
۱۵. مشکل الآثار
۱۶. سنن الکبری
۱۷. مستدرك حاکم
۱۸. تفسیر التسهیل
۱۹. روح المعانی
۲۰. تفسیر کبیر
۲۱. تفسیر عثمانی
۲۲. ماجدی
۲۳. ریاض الصالحین
۲۴. مظاهر الحق
۲۵. ابن عساکر
۲۶. دار قطنی
۲۷. المغنی
۲۸. محلی ابن حزم رحمه الله
۲۹. خصائص الکبری
۳۰. طبرانی اوسط
۳۱. رزین
۳۲. عون المعبود
۳۳. غنیة القاری
۳۴. بذل المجهود
۳۵. تعلیق الترمذی
۳۶. المرقات
۳۷. فیض الباری
۳۸. العرف الشذی
۳۹. زاد المعاد
۴۰. النووی
۴۱. عمدة القاری
۴۲. فتح الباری
۴۳. ارشاد الساری
۴۴. التعلیق الفصیح

۴۴۔معارف القرآن
۴۵۔جواھرالقرآن
۴۶۔القرطبی ۵/
۴۷۔تفسیربیضاوی ۱/۵
۴۸۔التبیان للصابونی
۴۹۔تفسیرموضح القرآن
۵۰۔نشرالمرجان
۵۱۔سمط الدرر فی ربط الایات والسور ـــــ
۵۲۔سراجی
۵۳۔شریفیه
۵۴۔مأۃ مسائل
۵۵۔مسائل اربعین
۵۶۔تفهیم المسائل
۵۷۔کتاب البدع والنهی عنها
۵۸۔فضائل اعمال
۵۹۔عجاله نافعه
۶۰۔تذکرۃ الابرار
۶۱۔هدیة الابرار
۶۲۔البدایه والنهایهٔ
۶۳۔حجة الله البالغة
۶۴۔الصارم المنکی
۶۵۔البلاغ المبین
۶۶۔الصراط المستقیم
۶۷۔مجالس الابرار
۶۸۔المکتوبات
۶۹۔المنتخبات
۷۰۔طریقة محمدیه
۷۱۔الاتقان فی علوم القرآن
۷۲۔مفردات راغب ۱/
۷۳۔تفسیرابن جریر
۷۴۔تفسیرابن کثیر
۷۵۔مدارك
۷۶۔خازن
۷۷۔مظهری
۷۸۔شرح الوقایهٔ
۷۹۔نورالایضاح
۸۰۔شرح المجلة
۸۱۔کنزاخیر
۸۰۔مقدمة عمدۃ الرعایة
۸۱۔الفوائدالبهیة
۸۲۔نفع المفتی والسائل
۸۳۔رساله قشیریه
۸۴۔مولوی
۸۵۔نورالانوار
۸۶۔حسامی
۸۷۔اصول الشاشی
۸۸۔تلویح توضیح

۸۹۔کافیه
۹۰۔هدایة النحو
۹۱۔شرح جامی
۹۲۔عینی شرح کنز
۹۳۔المستخلص
۹۴۔رسائل ابن عابدین رح
۹۵۔مبسوط سرخسی رح
۹۶۔فتاوی ودودیه
۹۷۔فتاوی شامیة
۹۸۔فتاوی بزازیه
۹۹۔سراجیه
۱۰۰۔هندیه
۱۰۱۔قاضی خان رح
۱۰۲۔رشیدیه
۱۰۳۔عزیزیه
۱۰۴۔درمختار
۱۰۵۔جامع الرموز
۱۰۶۔احسن الفتاوی
۱۰۷۔عزیزالفتاوی
۱۰۸۔خلاصة الفتاوی
۱۰۹۔امداد المفتین
۱۱۰۔البحر الرائق
۱۱۱۔الفتح القدیر
۱۱۲۔بدائع الصنائع
۱۱۳۔شرح فقه اکبر
۱۱۴۔کتاب الروح
۱۱۵۔شرح العقیدة الطحاویة
۱۱۶۔تهذیب التهذیب
۱۱۷۔میزان الاعتدال
۱۱۸۔الاکمال
۱۱۹۔موضوعات کبیر
۱۲۰۔الدرایة
۱۲۱۔نهایه ابن اثیر رحمه الله
۱۲۲۔المنجد
۱۲۳۔تحقیق الدعاء بعد الجنازة
۱۲۴۔دلیل الخیرات
۱۲۵۔خیرالصلوة
۱۲۶۔النفائس المرغوبة
۱۲۷۔خیرالهدیٰ
۱۲۸۔نماز حنفی
۱۲۹۔الجواهر المضیئة
۱۳۰۔مفتاح السعادة
۱۳۱۔نیل السائرین
۱۳۲۔ضیاء النور
۱۳۳۔الرسالة البیضاء فی مسئلة الدعاء
۱۳۴۔اصول السنة
۱۳۵۔النشاط
۱۳۶۔الانتصار لسنة سید الابرار

۱۳۷۔العنایۃ
۱۳۸۔السعایۃ
۱۳۹۔الهدایۃ
۱۴۰۔المدخل لابن الحاج
۱۴۱۔الاعتصام
۱۴۲۔اقتضاء الصراط المستقیم
۱۴۳۔ایضاح الحق الصریح
۱۴۴۔تعلیم الاسلام
۱۴۵۔اصلی حنفیت
۱۴۶۔ملاجی کا مردہ تیکس
۱۴۷۔تعزیہ نواز قوم سے خطاب
۱۴۸۔تحفۃ الهند
۱۴۹۔کتاب الهند
۱۵۰۔المنهاج الواضح
۱۵۱۔الاصول فی البدع
۱۵۲۔مالابد منه
۱۵۳۔الآثار المرفوعۃ فی الاحادیث الموضوعۃ
۱۵۴۔الفوائد المجموعۃ
۱۵۵۔عقد اللآلی والدرر
۱۵۶۔حکایات صحابه
۱۵۷۔البصائر
۱۵۸۔التبیان
۱۵۹۔قرۃ العیون
۱۶۰۔صاعقۃ الرحمن
۱۶۱۔اصلاح الرسوم لمولانا جورہ
۱۶۲۔اصلاح الرسوم للتهانوی
۱۶۳۔رد بدعات
۱۶۴ — یوه خواله یعنی ۱۴۴ مکرر ده
۱۶۵ - فتح الرحمن — وغیرها

نظر تصحیح برای طبع دهم — ختم شد بروز جمعۃ ۱۱ ذوالحجۃ ۱۴۳۶ه
در غرفه سکونت توحید آباد ترخوباجوڑ ایام التعطیلات ورمی الجمرات
۱۹/۷ بجه صبح — ✿✿✿✿ — الاحقر محمد عبدالجبار
غفرله ولوالدیه ولمشایخه ولتلامذته ولاصحابه
ولاقاربه ولجمیع المؤمنین والمؤمنات من الانس
والجنات — آمین ثم آمین — حامدا ومصلیا

د شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد عبد الجبار صاحب حفظه الله ورعاه

مایه ناز تصانیف (مطبوعه کتب)

- فتح الرحمٰن فی ترجمة القرآن و تفسیر الفرقان
- الهام الرحمن فی حل مشکلات القرآن
- هدیة الباجوری شرح الصحیح للامام البخاری ۲،۱
- التعلیق الصحیح علی مشکوة المصابیح
- تحفة المجاهدین فی تردید الملحدین
- اصول الجهاد لدفع اهل الشرك والالحاد
- تحفة الاحباب فی عصمة الانبیاء وحفاظة الاحباب
- جهاد فی سبیل الله
- هجرت او نصرت
- رد بدعات
- تحفة الفقیر لمجاهدی جموں و کشمیر
- د کفر خوبنول کفر دے.
- غایة الاصلاح لمنکرات النکاح
- اسلام میں عورت کا مقام
- انعام الرحمن فی اصول القرآن
- هدیة الحرمین الشریفین — مسائل اربعینی — الدرر المنثودة ۱۸

مایه ناز تصانیف (غیرمطبوعه)

- فیض الودود شرح سنن ابی داؤد 3 او س ټوکونه ٤ التعلیق الاحسن علی اثار السنن (19)
- التنبیه الضروری
- المسك الشذی شرح الترمذی — إلمام الحاجة عن سنن ابن ماجة ۱
- زما مستعار ژوند — التعلیق الناصحی علی سنن النسائی ۲
- خیر المسالك فی احکام المناسك (۹) حدیقة السالکین علی ریاض الصالحین
- فیض الملهم شرح الصحیح للامام مسلم رحمه الله

اظهار تشکر

حامداً ومصلیًا: امابعد دالله تعالی په فضل کرم سره رد بدعات باربار چاپ شو.او مسلمانانو ته ورسیده او (۳) درے ځله ئے خط او کتابت وشو. اول ځل جناب فضل واحد صاحب ساکن سمیلا لیکلے وو. بیا په (۲) دویم ځل جناب مفتی عبد السبحان صاحب ولیکلو او په (۳) دریم ځل جناب عاصم الرحمن صاحب ولیکلو.هریوده خوشخطی کوشش کړے دے باری تعالی دِ ټولو لره اجر عظیم ورکړی. اٰمین

په دے ځل ورسره د جناب شیخ القران والحدیث مفتی سراج الدین صاحب تقریظ هم زیاتی شو. دخپل رب نه متضرعا سوال کونکے یم چه داکتاب خپل دربار کښ قبول کړی او مانا چیز او ټول اُمت مسلمه لره د سنت گرامی مطابق زندگی نصیب کړی.

اٰمین ثم اٰمین

وقت۵۱/۳بجه قبل از نماز فجر منزل قریب مصباح القرآن للبنات بمقام شیخ اباد رجړ ضلع چارسده ۱۲: شعبان ۱۴۳۳ھ مطابق ۲ جولائي ۲۰۱۲ — ده ناچیز د لله د فضل نه دوره تفسیرله ۸ غلے یم

الاحقر محمد عبدالجبار غفرلهٗ

حالاً نزیل شیخ اباد لدورة تفسیر القرآن الحکیم